# د عیسی مسیح په هکله د متي انجیل

## د کتاب پېژندنه

د متي انجیل د عیسی مسیح د زېږېدنې له وخت نه د مرګ څخه د بیا راژوندي کېدلو تر وخته د هغه د ژوند منظم راپور وړاندې کوي. متي د عیسی مسیح د نژدې شاګردانو څخه ؤ. دا انجیل د متي له خوا د ۶۰ څخه د ۶۵ میلادي کلونو ترمنځ لیکل شوی دی. مخکې له دې چې متي د عیسی مسیح سره وپېژني هغه یو مالیه ټولوونکی ؤ او د ظالمو رومیانو دپاره یې کار کاوه. هغه د یهودیانو له خوا یو وطن پلورونکی او خاین ګڼل کېده. برسېره پردې، مالیه ټولوونکي په عمومي توګه فاسد خلک وو او د ډېرو مالیو په راټولولو سره یې ګټه ترلاسه کوله. هغوی د قاتلانو، غلو او بدکارانو په ډله کې شمېرل کېدل. خو کله چې عیسی متي ته بلنه ورکړه چې د هغه شاګرد شي، نو د هغه ژوند بالکل بدل شو.

متي د خپل استاذ عیسی د ژوند کیسه اسمان ته د هغه د پورته کېدلو نه څو کاله وروسته لیکلې ده. څرنګه چې متي د عیسی سره ؤ، نو په دې پوه شو چې هغه د خدای مسیح دی چې د هغه په هکله څو څو ځلې د پخوانیو پیغمبرانو له خوا خبر ورکړل شوی ؤ. متي د خپل انجیل په وسیله مونږ عیسی ته چې وعده شوی مسیح دی ورپېژني. عیسی یوازې د خپل قوم یهودیانو د خلاصون دپاره نه بلکې د ټولې نړۍ د خلاصون دپاره راغلی دی.

متي خپل انجیل د عیسی د نسب‌نامې په بیانولو سره پیل کوي. دا شجره د ابراهیم څخه پیل کیږي او د داود پاچا تر اولادې پورې رسیږي، ځکه چې خدای وعده کړې وه چې مسیح به د هغوی د نسل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښخه نږی ته راځي. ځینې نور شیان چې په دې انجیل کې ورباندې ټینګار شوی دی دا دي:

## د موضوعګانو لست:

- د عیسی مسیح شجره او زېږېدنه: ۱ – ۲ فصلونه
- د تعمید غسل ورکوونکي یحیی خدمتونه: ۳:۱-۱۲
- د عیسی د تعمید غسل اخیستل او د شیطان وسوسې: ۳:۱۳ – ۴:۱۱
- د جلیل په سیمه کې د عیسی کارونه او خدمتونه: ۴:۱۲ – ۱۸:۳۵
- د جلیل څخه تر اورشلیمه د عیسی تعلیم او معجزې: ۱۹ – ۲۰ فصلونه
- په اورشلیم او د هغه په شاوخوا کې وروستنی هفته: ۲۱ – ۲۷ فصلونه
- د عیسی بیا راژوندي کېدل او اسمان ته د هغه بېرته ختل: ۲۸:۱-۲۰

## د عیسی شجره

۱ ۱ د عیسی مسیح شجره چې هغه د داود پاچا د کورنۍ او د ابراهیم د اولادې څخه ؤ.

۲ ابراهیم د اسحاق پلار ؤ او اسحاق د یعقوب پلار ؤ او یعقوب د یهودا او د هغه د ورونو پلار ؤ
۳ او یهودا د فارز او زارح پلار ؤ چې مور یې تامار وه او فارز د حزرون پلار ؤ او حزرون د
آرام پلار ؤ ۴ او آرام د عمیناداب پلار ؤ او عمیناداب د نحشون پلار ؤ او نحشون د شلمون پلار
ؤ ۵ او شلمون د بوعز پلار ؤ چې مور یې راحاب وه او بوعز د عوبید پلار ؤ چې مور یې روت
وه او عوبید د یسي پلار ؤ ۶ او یسي د داود پاچا پلار ؤ.

داود د سلیمان پلار ؤ او د سلیمان مور د اوریا پخوانۍ ښځه وه. ۷ او سلیمان د رحبعام پلار ؤ
او رحبعام د ابیا پلار ؤ او ابیا د آسا پلار ؤ. ۸ آسا د یهوشافاط پلار ؤ او یهوشافاط د یورام پلار
ؤ او یورام د عزیا پلار ؤ. ۹ عزیا د یوتام پلار ؤ او یوتام د آحاز پلار ؤ او آحاز د حزقیا پلار ؤ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ او حزقیا د منسي پلار ؤ او منسي د آمون پلار ؤ او آمون د یوشیا پلار ؤ. ۱۱ یوشیا د یکنیا
او د هغه د ورونو پلار ؤ. په دې وخت کې یهودیان بابل ته جلاوطن شوي وو.

۱۲ بابل ته د یهودیانو د جلاوطنۍ نه وروسته یکنیا د شالتي‌ییل پلار ؤ او شالتي‌ییل د زروبابل
پلار ؤ ۱۳ او زروبابل د آبیهود پلار ؤ او آبیهود د ایلیاقیم او الیاقیم د عازور پلار ؤ ۱۴ او
عازور د صادوق پلار او صادوق د یاکین او یاکین د ایلیهود پلار ؤ ۱۵ او ایلیهود د العازار پلار او
العازار د متان پلار ؤ او متان د یعقوب پلار ۱۶ او یعقوب د یوسف پلار ؤ چې یوسف د مریمې
مېړه ؤ او مریم عیسی وزېږاوه چې مسیح به یې ورته ویل.

۱۷ نو په دې ډول د ابراهیم څخه تر داود پورې څوارلس نسلونه او د داود څخه بابل ته د
یهودیانو د جلاوطنۍ تر وخته پورې څوارلس نسلونه او د جلاوطنۍ د وخت څخه تر مسیح پورې
څوارلس نسلونه کېږي.

## د عیسی زېږېدنه

(لوقا ۲:۱–۷)

۱۸ د عیسی مسیح زېږېدنه داسې وه: کله چې د هغه د مور مریم کوژدنه د یوسف سره وشوه نو
مخکې له دې چې د هغوی واده وشي، معلومه شوه چې هغه د روح القدس په وسیله امیدواره وه.
۱۹ یوسف چې یو نېک سړی ؤ او نه یې غوښتل چې مریم د خلکو په مخکې رسوا شي، نو
پرېکړه یې وکړه چې په پټه هغې ته طلاق ورکړي. ۲۰ یوسف لا په دې هکله فکر کاوه چې د
څښتن یوه فرښته ورته په خوب کې ښکاره شوه او ویې ویل: «ای د داود زویه یوسفه! د مریم سره
د واده کولو نه مه وېرېږه، ځکه چې هغه د روح القدس په وسیله امیدواره شوې ده. ۲۱ د هغې به
زوی وشي او ته ورباندې عیسی نوم کېږده، ځکه چې هغه به خپل قوم د ګناهونو څخه وژغوري.»
۲۲ دا هرڅه ځکه وشول، ترڅو څه چې څښتن د خپل پیغمبر په وسیله ویلي وو هغه رښتیا شي:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۳ ګورئ، یوه پېغله به امیدواره شي او هغه به یو زوی وزېږوي او هغوی به په هغه باندې
عمانوییل نوم کېږدي.

(د عمانوییل معنی ده خدای زمونږ سره مل دی.)

۲۴ کله چې یوسف له خوبه راویښ شو، نو څنګه چې د څښتن فرښتې ورته حکم کړی ؤ
هماغسې یې وکړل او د مریم سره یې واده وکړ. ۲۵ خو تر هغې پورې چې د هغې زوی پیدا شوی
نه ؤ یوسف ورسره یوځای نه شو او په هغه باندې یې عیسی نوم کېښود.

## د ستورو پېژندونکو راتلل

۲ ۱ کله چې عیسی د هیرودیس د پاچاهۍ په وخت کې د یهودیې د ولایت د بیت‌لحم په ښار
کې وزېږېده، څه موده وروسته د ختیځ څخه ځینې ستوري پېژندونکي اورشلیم ته راغلل ۲ او
پوښتنه یې کوله: «هغه نوی پیدا شوی ماشوم چې د یهودیانو پاچا کیږي چېرته دی؟ مونږ د هغه
ستوری چې د لمرخاته له خوا راختلو، لیدلی دی او راغلي یو چې سجده ورته وکړو.» ۳ کله
چې هیرودیس پاچا دا خبره واورېدله، نو ډېر پرېشانه شو او د اورشلیم ټول خلک هم پرېشانه
شول. ۴ هغه ټول مشران کاهنان او د شریعت عالمان راوغوښتل او پوښتنه یې ترې وکړه چې
مسیح به په کوم ځای کې وزېږي؟ ۵ هغوی وویل: «د یهودیې په بیت‌لحم کې، ځکه چې یو
پیغمبر داسې لیکلي دي:

۶ ای بیت‌لحمه چې د یهودیې په وطن کې یې! ته د یهودیې د لویو ښارونو څخه هېڅ کم نه یې،
ځکه چې په تا کې به یو لارښوونکی پیدا کیږي چې د شپون په شان به زما د قوم اسراییلو
لارښوونه کوي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ نو هیرودیس هغه ستوري پېژندونکي په پټه راوغوښتل او د هغوی څخه يې د ستوري د
راختلو د ټاکلي وخت په هکله معلومات ترلاسه کړ. ۸ بیا يې هغوی بیت‌لحم ته ولېږل او ورته
ويې ویل: «لاړ شئ او په ډېر غور سره هغه ماشوم ولټوئ او کله چې مو پیدا کړ، نو ما خبر کړئ
چې زه هم راشم او سجده ورته وکړم.» ۹ کله چې هغوی د پاچا خبرې واورېدلې، نو په خپله
لاره روان شول او هماغه ستوری چې د لمرخاته خواته يې لیدلی ؤ، ولیده چې د هغوی څخه
مخکې روان ؤ او په هغه ځای باندې ودرېده چېرته چې ماشوم ؤ. ۱۰ کله چې هغوی هغه
ستوری ولیده، نو ډېر زیات خوشحاله شول. ۱۱ کله چې هغوی هغه کور ته ورننوتل او هغه
ماشوم يې د خپلې مور مریم سره ولیده، نو ورته په سجده پرېوتل او د هغه عبادت يې وکړ. بیا يې د
خپلو کڅوړو څخه سره زر، قیمتي خوشبويي او د مر کنډ راوویستل او د سوغات په توګه يې هغه ته
ورکړل. ۱۲ څرنګه چې خدای هغوی ته په خوب کې خبرداری ورکړی ؤ چې بېرته هیرودیس ته
لاړ نه شي، نو په بله لار خپل وطن ته ستانه شول.

## مصر ته تېښته

۱۳ کله چې هغوی لاړل، نو یوسف ته په خوب کې د څښتن یوه فرښته ښکاره شوه او ورته ويې
ویل: «پاڅېږه، ماشوم او مور يې د ځان سره واخله او مصر ته وتښته او تر هغې پورې هلته پاتې
شه، ترڅو زه درته ووایم چې راستون شه، ځکه چې هیرودیس به هغه ماشوم لټوي چې ويې
وژني.» ۱۴ نو یوسف پاڅېد او په هماغه شپه يې ماشوم او د هغه مور د ځان سره واخیستل او
مصر ته لاړل ۱۵ او د هیرودیس تر مرګه پورې هلته پاتې شول. نو په دې ډول د څښتن هغه وینا
چې د پیغمبر په وسیله يې کړې وه رښتیا شوه:

خپل زوی مې د مصر څخه راوغوښت.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ماشومانو قتلول

۱۶ کله چې هیرودیس پوه شو چې ستورو پېژندونکو هغه تېرایستلی دی، نو سخت په قهر شو او
حکم یې وکړ چې د بیت‌لحم او د هغه شاوخوا سیمو ټول هلکان چې د دوه کالو او یا د هغې څخه
کم عمر ولري، ووژني. او دا کار یې د هغو ستورو پېژندونکو د معلوماتو له مخې چې هغه ستوری به
کله ښکاره کېږي، وکړ. ۱۷ نو په دې ډول کومې خبرې چې خدای د خپل پیغمبر ارمیا په وسیله
کړې وې هغه رښتیا شوې:

۱۸ په رامه کې یو اواز واورېدل شو، د ژړا او لوی ماتم اواز. راحیل په خپلو ماشومانو باندې
ژاړي او تسلي نه مني، ځکه چې هغوی مړه شوي دي.

## د مصر څخه بېرته راستنېدل

۱۹ نو د هیرودیس له مرګ څخه وروسته د څښتن فرښته په مصر کې یوسف ته په خوب کې
ښکاره شوه او ورته ویې ویل: ۲۰ «پاڅېږه، ماشوم او د هغه مور درسره واخله او د اسراییلو وطن
ته لاړ شه، ځکه کومو خلکو چې غوښتل هغه ماشوم ووژني، هغه مړه شوي دي.» ۲۱ نو هغه
پاڅېد او ماشوم او د هغه مور یې د ځان سره واخیستل او د اسراییلو وطن ته لاړل. ۲۲ خو کله
چې یوسف واورېدل چې آرکلائوس د خپل پلار هیرودیس په ځای د یهودیې پاچا شوی دی، نو
هلته د تللو څخه ووېرېد، خو څرنګه چې په خوب کې هغه ته خبرداری ورکړل شوی ؤ نو د جلیل
سیمې ته لاړ ۲۳ او د ناصرې په نوم په یو ښار کې اوسېده. نو په دې ډول د پیغمبرانو هغه وینا
رښتیا شوه چې ویلي یې وو: «هغه ته به ناصري ویل کېږي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د تعمید غسل ورکوونکي یحیی وعظ

(مرقوس ۱:۱–۸ او لوقا ۳:۱–۱۸ او یوحنا ۱:۱۹–۲۸)

۳ ۱ په هغو ورځو کې تعمید ورکوونکی یحیی راغی او د یهودیې په دښته کې یې وعظ کاوه او
ویل یې: ۲ «توبه وباسئ، ځکه چې اسماني پاچاهي نژدې ده.» ۳ دا هغه څوک دی چې
اشعیا نبي د هغه په هکله خبرې کړې وې او ویلي یې وو:

یو څوک چیغې وهي دښته کې

کړئ تیاره د څښتن دپاره لاره

لاره کړئ سمه د هغه دپاره

۴ یحیی داسې کالي اغوستل چې د اوښ د وړیو څخه جوړ شوي وو او د څرمنې کمربند به یې
له ملا تړلو او ملخان او ځنګلي شات به یې خوراک ؤ. ۵ خلک به د اورشلیم او ټولې یهودیې او
د اردن سیند ته د نژدې سیمو څخه هغه ته راتلل. ۶ هغوی به په خپلو ګناهونو اقرار کاوه او د
اردن په سیند کې یې د یحیی په لاس د تعمید غسل اخیستلو.

۷ خو کله چې یحیی ولیدل چې ډېر فریسیان او صدوقیان د تعمید غسل د اخیستلو دپاره راځي،
نو هغوی ته یې وویل: «ای د مارانو بچیانو! تاسو ته چا خبرداری درکړی دی چې د راتلونکي
غضب څخه وتښتئ؟ ۸ نو بیا داسې کارونه وکړئ چې دا وښایي چې تاسو د ګناهونو نه توبه
ویستلې ده. ۹ د خپلو ځانونو سره داسې مه وایئ چې په مونږ به هېڅ هم نه کیږي، ځکه چې
ابراهیم زمونږ نیکه دی. زه تاسو ته وایم چې خدای کولای شي د دې تیږو څخه هم ابراهیم ته
اولادونه پیدا کړي. ۱۰ همدااوس د ونو بېخونو ته تبر نیول شوی دی او هره ونه چې ښه مېوه نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نيسي هغه به ووهل شي او په اور کې به واچول شي. ۱۱ زه تاسو ته د توبې ويستلو په خاطر په
اوبو باندې د تعميد غسل درکوم، خو زما څخه وروسته چې څوک راروان دی، هغه زما څخه ډېر
زورور دی. زه د هغه د څپليو د راپورته کولو لايق هم نه يم. هغه به تاسو ته په روح القدس او اور
د تعميد غسل درکړي. ۱۲ هغه خپله ښاخې په لاس کې نيولې ده او په هغې باندې به خپل درمند
پاکوي. غنم به په ګودام کې ټولوي، خو بوس به په هغه اور کې سوځوي چې هېڅکله نه مړ کيږي.»

## عيسی د تعميد غسل اخلي

(مرقوس ۱:۹–۱۱ او لوقا ۳:۲۱–۲۲)

۱۳ بيا عيسی د جليل څخه د اردن سيند ته راغی، ترڅو د يحيی په لاس د تعميد غسل واخلي.
۱۴ يحيی کوښښ وکړ چې هغه د دې کار نه منع کړي او ورته ويې ويل: «زه بايد ستا په لاس د
تعميد غسل واخلم، خو ته ماته راځې؟» ۱۵ خو عيسی په ځواب کې وويل: «پرېږده چې اوس
همداسې وشي، ځکه چې دا زمونږ دپاره ښه ده چې د خدای رضا پوره کړو.» بيا يحيی ومنله. ۱۶
کله چې عيسی د تعميد غسل واخيست، نو سمدلاسه د اوبو څخه راووت. بيا د اسمان دروازه
پرانيستل شوه او هغه د خدای روح وليده چې د کوترې په شکل رانازل شو او په هغه باندې
کښېناست. ۱۷ بيا د اسمان څخه يو اواز راغی او ويې ويل: «دا زما ګران زوی دی چې زه ترې
خوشحاله يم.»

## د عيسی ازمېښت

(مرقوس ۱:۱۲–۱۳ او لوقا ۴:۱–۱۳)

۴ ۱ بيا روح القدس عيسی دښتې ته بوته چې د شيطان له خوا وازمايل شي. ۲ عيسی
څلوېښت ورځې او څلوېښت شپې روژه ونيوله او په پای کې وږی شو. ۳ بيا شيطان ورنږدې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شو او ورته ويې ويل: «كه ته د خدای زوی يې، نو دې تيږو ته ووايه چې په ډوډۍ باندې بدلې
شي.» ۴ خو عيسی په ځواب کې وويل: «د خدای په کلام کې ليکل شوي دي:

انسان يوازې په ډوډۍ نه، بلکې په هرې يوې خبرې باندې ژوندی دی چې د خدای د خولې څخه
راوځي.»

۵ بيا شيطان هغه سپېڅلي ښار اورشليم ته بوته او د خدای د کور په مناره باندې يې ودراوه
۶ او ورته ويې ويل: «كه ته د خدای زوی يې، نو خپل ځان ښکته وغورځوه، ځکه چې د
خدای په کلام کې ليکل شوي دي:

هغه به ستا دپاره فرښتو ته حکم وکړي او هغوی به تا په خپلو لاسونو کې پورته کړي، ترڅو پښه
دې په تيږه ونه لګيږي.»

۷ عيسی ځواب ورکړ: «د خدای په کلام کې دا هم ليکل شوي دي:

خپل څښتن خدای مه ازمايئ.»

۸ بيا شيطان هغه يو ډېر لوړ غره ته وخېژاوه او د نړۍ ټولې پاچاهۍ او د هغوی شان او شوکت
يې ورته وښود ۹ او ورته ويې ويل: «كه ته ماته سجده وکړې او زما عبادت وکړې نو دا ټول به
تاته درکړم.» ۱۰ بيا عيسی هغه ته وويل: «ورک شه شيطانه! ځکه چې د خدای په کلام کې ليکل
شوي دي:

خپل څښتن خدای ته عبادت کوه او يوازې د هغه خدمت کوه.»

۱۱ نو شيطان هغه پرېښود او فرښتې د هغه په خدمت کې حاضرې شوې.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسی په جلیل کې خپل کار پیل کوي

(مرقوس ۱:۱۴-۱۵ او لوقا ۴:۱۴-۱۵)

۱۲ کله چې عیسی واورېدل چې یحیی په زندان کې اچول شوی دی، نو هغه جلیل ته لاړ. ۱۳
هغه په ناصرې کې پاتې نه شو او کپرناحوم ته چې د جلیل د بحیرې په غاړه د زبولون او نفتالي په
سیمه کې پروت دی، لاړ او هلته پاتې شو، ۱۴ ترڅو هغه خبرې چې خدای د اشعیا نبي په وسیله
کړې وې ربښتیا شي:

۱۵ د زبولون او نفتالي سیمې د بحیرې په غاړه او د اردن د سیند بلې غاړې ته پرتې دي. یعنې د
جلیل په سیمه کې چې غیریهودیان په کې اوسېږي. ۱۶ کوم خلک چې په تیارو کې اوسېږي
هغوی به یوه لویه رڼا وویني او په هغو خلکو باندې به چې د مرګ په سیوری کې اوسېږي د سهار
رڼایي وځلیږي.

۱۷ د هماغه وخت نه عیسی دا وعظ پیل کړ: «توبه‌ګار شئ، ځکه چې اسماني پاچاهي رانژدې
شوې ده.»

## عیسی څلورو ماهیګیرو ته بلنه ورکوي

(مرقوس ۱:۱۶-۲۰ او لوقا ۵:۱-۱۱)

۱۸ کله چې عیسی د جلیل د بحیرې په غاړه ګرځېده، نو دوه ورونه یې ولیدل چې یو یې شمعون
ؤ چې د پطروس په نوم هم یادېده او بل د هغه ورور اندریاس ؤ. هغوی په بحیرې کې جال اچاوه،
ځکه چې هغوی ماهیګیران وو. ۱۹ عیسی هغوی ته وویل: «ما پسې راځئ او زه به تاسو ته
وښایم چې څنګه د ماهیانو په ځای انسانان ونیسئ.» ۲۰ هغوی سمدلاسه خپل جالونه پرېښودل
او هغه پسې روان شول. ۲۱ عیسی له هغه ځای څخه روان شو او دوه نور کسان یې ولیدل چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره ورونه وو چې یعقوب او یوحنا نومېدل او د زبدي زامن وو. هغوی د خپل پلار سره په کشتۍ
کې جالونه تیارول. عیسی هغوی راوغوښتل. ۲۲ هغوی سمدلاسه خپل پلار او کشتۍ پرېښودل او
په هغه پسې روان شول.

## عیسی تعلیم ورکوي، وعظ کوي او ناروغانو ته شفا ورکوي

(لوقا ۶:۱۷-۱۹)

۲۳ عیسی په ټول جلیل کې ګرځېده، د هغوی په کنیسو کې یې تعلیم ورکاوه او د خدای د
پاچاهۍ زېری یې خپراوه او خلکو ته یې د هر ډول ناروغیو او رنځونو څخه شفا ورکوله. ۲۴ نو
هغه په ټوله سوریه کې مشهور شو او خلکو به ټول هغه کسان چې په ډول ډول ناروغیو او دردونو
باندې اخته وو او هغه خلک چې پېریانو نیولي وو، میرګي یې درلودل او یا ګوډان او شلان وو، هغه
ته راوستل او هغه به روغول. ۲۵ ګڼ شمېر خلک د جلیل، دکاپولس، اورشلیم، یهودیې او د اردن
د سیند د بلې غاړې د سیمې خلک ورپسې روان شول.

## د غره په سر باندې د عیسی مسیح وعظ

**۵** ۱ کله چې عیسی د خلکو ګڼه‌ګوڼه ولیدله، نو غره ته وخوت او هلته کښېناست. شاګردان یې
ورته راغلل ۲ او هغوی ته یې تعلیم ورکول پیل کړ او ویې ویل:

۳ «بختور دي هغه خلک چې په روحاني توګه غریبان دي،

څکه چې اسماني پاچاهي د هغوی ده.

۴ بختور دي هغه خلک چې اوس غمجن دي،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې هغوی به تسلي ومومي.

۵ بختور دي هغه خلک چې عاجزان دي،

ځکه چې هغوی به د ځمکې وارثان شي.

۶ بختور دي هغه خلک چې د عدالت وږي تږي دي،

ځکه چې هغوی به ماړه شي.

۷ بختور دي هغه خلک چې په نورو باندې رحم کوي،

ځکه چې په هغوی به رحم وشي.

۸ بختور دي هغه خلک چې زړونه يې پاک دي،

ځکه چې هغوی به خدای ووينې.

۹ بختور دي هغه خلک چې سوله راوستونکي دي،

ځکه چې هغوی به د خدای اولادونه وبلل شي.

۱۰ بختور دي هغه خلک چې د عدالت په خاطر ځورول کيږي،

ځکه چې اسماني پاچاهي د هغوی ده.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۱ بختور یئ تاسو چې زما په خاطر خلک درته ښکنځل کوي، ځوروي مو او ستاسو په هکله
داسې بدې خبرې کوي چې هغه دروغ وي. ۱۲ خوښ او خوشحاله اوسئ، ځکه چې په اسمان
کې ستاسو دپاره لوی اجر دی. ستاسو څخه مخکې هم هغوی په همدې ډول پیغمبران ځورولي وو.

## تاسو د دې دنیا مالګه او رڼا یئ

(مرقوس ۹:۵۰ او لوقا ۱۴:۳۴–۳۵)

۱۳ تاسو د نړۍ دپاره مالګه یئ، خو که مالګه خپل خوند له لاسه ورکړي، نو هغه به څنګه بېرته
خپل خوند پیدا کړي؟ د هغې څخه نور هېڅ کار نه اخیستل کیږي، بې له دې چې لیرې وغورځول
شي او خلک یې تر پښو لاندې کړي.

۱۴ تاسو د نړۍ دپاره رڼا یئ. کوم ښار چې په غره باندې جوړ شوی وي هغه پټېدلی نه شي.
۱۵ هېڅوک څراغ د دې دپاره نه بلوي چې هغه د کوم لوښي لاندې کیږدي چې پټ شي، بلکې
هغه په څراغدان باندې ږدي چې د کور ټولو خلکو ته رڼا ورکړي. ۱۶ پر بېړده چې ستاسو رڼا په
خلکو باندې همداسې وځلیږي، ترڅو ستاسو نیک کارونه وویني او ستاسو پلار ته چې په اسمان
کې دی جلال ورکړي.

## د شریعت په هکله تعلیم

۱۷ داسې فکر مه کوئ چې زه د دې دپاره راغلی یم چې شریعت او د پیغمبرانو لیکنې منسوخ
کړم. د هغو د منسوخ کولو دپاره نه یم راغلی بلکې د هغو د پوره کولو دپاره راغلی یم. ۱۸ په
یقین سره زه تاسو ته دا وایم ترڅو پورې چې ځمکه او اسمان موجود وي، نو د شریعت یو ډېر
وړوکی ټکی به هم له منځه لاړ نه شي، ترڅو دا هرڅه سرته ونه رسیږي. ۱۹ که چیرې څوک د
دې حکمونو څخه یو ډېر وړوکی حکم هم مات کړي او نورو ته هم تعلیم ورکړي چې همداسې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړي، نو په اسماني پاچاهۍ کې به ډېر کوچنی مقام ولري، خو څوک چې په هغو حکمونو باندې
عمل وکړي او نورو ته هم تعلیم ورکړي چې همداسې وکړي، نو هغه به په اسماني پاچاهۍ کې لوړ
مقام ولري. ۲۰ زه تاسو ته دا وایم تر هغې پورې چې ستاسو عدالت د فریسیانو او د شریعت د
عالمانو د عدالت څخه بهتر نه وي، نو هېڅکله به په اسماني پاچاهۍ کې وردننه نه شئ.

## د قهر په هکله تعلیم

۲۱ تاسو اورېدلي دي چې زمونږ نیکونو ته ویل شوي وو: ‹قتل مه کوئ.› که څوک قتل وکړي،
نو هغه به تر محاکمې لاندې نیول کیږي. ۲۲ خو زه تاسو ته وایم چې که چېرې څوک خپل ورور
باندې په قهر شي، نو هغه به محاکمه کیږي. که څوک خپل ورور ته سپکاوی وکړي، نو هغه به شورا
ته د محاکمې دپاره بیول کیږي. که هغه ورته ووایي چې ته کم‌عقل یې، نو هغه به د دوزخ د اور
لایق وي. ۲۳ که چېرې ته د قربانۍ ځای ته کوم نذر راوړې او هلته در په یاد شي چې ورور دې
درڅخه خفه دی، ۲۴ نو خپل نذر دې د قربانۍ په ځای کې پرېږده او لاړ شه لومړی خپل ورور
پخلا کړه او بیا راشه او خپل نذر دې وړاندې کړه. ۲۵ کله چې د خپل مدعي سره محکمې ته
روان یې، نو په لاره کې ورسره روغه جوړه وکړه، هسې نه چې هغه دې قاضي ته په لاس ورکړي
او قاضي به دې پولیس ته وسپاري او ته به په زندان کې واچول شې. ۲۶ په یقین سره زه تاسو ته
دا وایم چې تر هغې به خلاص نه شې ترڅو پورې چې دې د خپل جېب وروستنۍ روپۍ نه وي
ورکړې.

## د زنا نه کولو په هکله تعلیم

۲۷ تاسو اورېدلي دي چې داسې ویل شوي دي: ‹زنا مه کوئ.› ۲۸ خو تاسو ته وایم چې که
یو سړی کومې ښځې ته په بد نیت وګوري، نو په زړه کې یې د هغې سره زنا کړې ده. ۲۹ که

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چېرې ستا ښي سترګه ستا د ګناه سبب شي، نو هغه وباسه او لېرې يې وغورځوه. ځکه چې ستا
دپاره به دا ښه وي چې د خپل بدن يو غړی له لاسه ورکړې، نه دا چې ټول بدن دې دوزخ ته
وغورځول شي. ۳۰ که چېرې ستا ښي لاس ستا د ګناه سبب شي، نو هغه پرې کړه او لېرې يې
وغورځوه، ځکه چې ستا دپاره به دا ښه وي چې د خپل بدن يو اندام له لاسه ورکړې، نه دا چې
ټول بدن دې دوزخ ته لاړ شي.

## د طلاق په هکله تعليم

(متي ۱۹:۹ او مرقوس ۱۰:۱۱–۱۲ او لوقا ۱۶:۱۸)

۳۱ همدارنګه ويل شوي دي: ‹کله چې څوک خپلې ښځې ته طلاق ورکوي، نو بايد هغې ته
طلاق‌نامه ورکړي.› ۳۲ خو زه تاسو ته وايم چې که څوک خپله ښځه د زنا کولو نه پرته په کوم
بل دليل طلاقه کړي، نو د هغې ښځه زنا کاره جوړوي او هرڅوک چې د داسې ښځې سره واده
وکړي، نو هغه زنا کوي.

## د قسم خوړلو په هکله تعليم

۳۳ همدارنګه تاسو اورېدلي دي چې په پخوا زمانه کې خلکو ته ويل شوي وو: ‹خپل قسم مه
ماتوئ، خو د ښښتن په نوم مو چې کوم قسم خوړلی دی هغه سرته ورسوئ.› ۳۴ خو زه تاسو ته
وايم چې هېڅکله قسم مه خورئ، نه په اسمان ځکه چې هغه د خدای تخت دی، ۳۵ نه په ځمکه
ځکه چې دا د هغه د پښو اېښودلو چوکۍ ده، نه په اورشليم ځکه چې دا د لوی پاچا ښار دی. ۳۶
همدارنګه په خپل سر قسم مه خورئ، ځکه چې تاسو نه شئ کولای د هغه يو وېښته هم تور يا
سپين کړئ. ۳۷ ستاسو ‹هو› دې ‹هو› وي او ‹نه› مو ‹نه› وي. د دې نه زيات د شيطان کار دی.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د بدل نه اخیستلو په هکله تعلیم

(لوقا ۶:۲۹-۳۰)

۳۸ تاسو اورېدلي دي چې ویل شوي دي: ‹د سترګې په بدل کې سترګه او د غاښ په بدل کې
غاښ.› ۳۹ خو زه تاسو ته وایم څوک چې درسره بدي کوي، نو ته ترې بدل مه اخله. که څوک
درته په ښي مخ څپېړه درکړي، نو چپ مخ دې هم ورته ورواړوه. ۴۰ که څېرې څوک ستا په
کمیس باندې دعوه وکړي نو خپله چپنه هم ورته ورکړه. ۴۱ که څېرې څوک تا دې ته مجبور
کړي چې یونیم کیلومتر ورسره لاړ شې، نو درې کیلومتره ورسره لاړ شه. ۴۲ که څوک درڅخه
کوم څه وغواړي نو هغه ورته ورکړه او څوک چې درڅخه پور غواړي، نو انکار ورته مه کوه.

## د دښمن سره مینه کول

(لوقا ۶:۲۷-۲۸، ۶:۳۲-۳۶)

۴۳ تاسو اورېدلي چې ویل شوي دي: ‹د خپلو ګاونډیانو سره مینه کوه او د خپل دښمن څخه
کرکه کوه.› ۴۴ خو زه تاسو ته وایم چې د خپلو دښمنانو سره مینه کوئ او څوک چې تاسو
ځوروي، د هغوی دپاره دعا کوئ. ۴۵ نو په دې به تاسو د خپل اسماني پلار اولادونه شئ، ځکه
چې هغه په بدو او ښو خلکو باندې یوشان لمر راخېژوي او په نېکو او بدو خلکو باندې یوشان
باران وروي. ۴۶ که تاسو یوازې د هغو خلکو سره مینه کوئ چې ستاسو سره مینه کوي، نو په
دې کې به تاسو ته څه اجر وي؟ ایا مالیه ټولوونکي همداسې نه کوي؟ ۴۷ که څېرې تاسو یوازې
په خپلو ورونو سلام اچوئ، نو د نورو سره ستاسو فرق څه دی؟ ایا کافران همداسې نه کوي؟ ۴۸
نو تاسو باید کامل اوسئ لکه څنګه چې ستاسو اسماني پلار کامل دی.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د خیرات په هکله تعلیم

۶ ① پام کوئ چې د خپلې دینداری کارونه د دې دپاره د خلکو په مخکې ونه کړئ چې نور
یې ووینې. که داسې وکړئ، نو د اسماني پلار له خوا به ستاسو دپاره هېڅ اجر نه وي. ② کله چې
چاته خیرات ورکوئ، نو سرنی مه وهئ چې خلک پرې خبر شي لکه څنګه چې منافقان یې په
کنیسو او کوڅو کې کوي، ترڅو خلک یې صفتونه وکړي. په یقین سره زه تاسو ته دا وایم چې
هغوی خپل اجر ترلاسه کړی دی. ③ خو کله چې خیرات ورکوئ، نو هغه داسې ورکړئ چې
چپ لاس مو خبر نه شي چې ښي لاس مو څه کوي. ④ نو خپل خیرات پټ ورکړئ بیا به
ستاسو اسماني پلار چې په ټولو پټو رازونو باندې پوهېږي تاسو ته اجر درکړي.

## د دعا په هکله تعلیم

(لوقا ۲:۱۱–۴)

⑤ کله چې دعا کوئ، نو د منافقانو په شان مه اوسئ. هغوی دا خوښوي چې په کنیسو او د کوڅو
په غاړه ودرېږي او دعا وکړي، ترڅو خلک هغوی ووینې. په یقین سره زه تاسو ته دا وایم چې
هغوی خپل اجر ترلاسه کړی دی. ⑥ خو کله چې تاسو دعا کوئ، نو خپلې کوټې ته ننوځئ،
دروازه بنده کړئ او د خپل نه‌لیدونکي اسماني پلار په حضور کې دعا وکړئ او ستاسو اسماني پلار
چې په ټولو پټو رازونو باندې پوهېږي تاسو ته به اجر درکړي.

⑦ تاسو په خپلو دعاګانو کې د کافرانو په شان بې‌معنی کلیمې مه تکراروئ. هغوی فکر کوي چې
د دوی دا اوږدې اوږدې دعاګانې به قبولې شي. ⑧ د هغوی په شان مه کېږئ، ځکه چې ستاسو
پلار د مخکې نه ستاسو د اړتیاوو څخه چې تاسو ورته سوال کوئ، خبر دی. ⑨ نو بیا داسې دعا
وکړئ:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ای زمونږ اسماني پلاره،

ستا نوم دې پاک وي،

۱۰ ستا پاچاهي دې راشي.

ستا اراده دې په ځمکه هم پوره شي

لکه څنګه چې په اسمان کې پوره کيږي.

۱۱ مونږ ته خپل ورځنی رزق همدا نن راکړه.

۱۲ زمونږ ګناهونه وبخښه،

لکه څنګه چې مونږ هم هغه خلک بخښو

چې زمونږ په وړاندې ګناه کوي.

۱۳ مونږ په ازمېښت کې مه اچوه، خو مونږ د شيطان د بدی نه وساته،

[ځکه چې پاچاهي، قدرت او لويي به تل ترتله ستا وي. امين.]

۱۴ که چېرې تاسو هغه خلک وبخښئ چې ستاسو په وړاندې يې ګناه کړې ده، نو ستاسو اسماني
پلار به هم تاسو وبخښي. ۱۵ خو که چېرې تاسو د نورو ګناهونه ونه بخښئ، نو ستاسو اسماني
پلار به هم ستاسو ګناهونه ونه بخښي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ کله چې روژه نیسئ، نو د منافقانو په شان خپل ځانونه غمجن مه بنایئ، ځکه چې هغوی
خپلې څېرې داسې بدلوي چې نور خلک یې ووینې چې دوی روژه نیولې ده. په یقین سره زه تاسو
ته دا وایم چې هغوی خپل اجر ترلاسه کړی دی. ۱۷ خو کله چې ته روژه نیسې، نو خپل سر
غوړوه او خپل مخ دې وینځه، ۱۸ ترڅو نور خلک پوه نه شي چې تا روژه نیولې ده، یوازې ستا
اسماني پلار به چې ښوک یې لیدلی نه شي، درباندې پوه شي او ستا اسماني پلار چې د پټو کارونو
څخه خبر دی تاته اجر درکړي.

## د اسمان خزانې

(لوقا ۱۲:۳۳–۳۴)

۱۹ د خپلو ځانونو دپاره د ځمکې په مخ خزانې مه ذخیره کوئ، یعنې په کوم ځای کې چې
چینجي او زنګ یې له منځه وړي او غله ورپسې دېوالونه سوري کوي او هغه غلا کوي. ۲۰ د
هغې په ځای د خپلو ځانونو دپاره په اسمان کې خزانې ذخیره کړئ چې چینجي او زنګ یې له
منځه نه شي وړلی او نه غله ورپسې دېوالونه سوري کولای شي چې هغه غلا کړي. ۲۱ ځکه په
هرځای کې چې ستا خزانه وي نو هلته به ستا زړه هم وي.

## د بدن څراغ

(لوقا ۱۱:۳۴–۳۶)

۲۲ سترګې د بدن څراغ دی. که سترګې دې روغې وي، نو ټول بدن به دې روښانه وي، ۲۳ خو
که سترګې دې روغې نه وي، نو ټول بدن به دې په تیاره کې وي. که چېرې هغه رڼا چې په تا کې ده

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه تیاره شي، نو دا به څومره لویه تیاره وي!

## خدای او شتمني

(لوقا ۱۳:۱۶، ۲۲:۱۲–۳۱)

۲۴ هېڅوک نه شي کولای چې د دوو بادارانو خدمت وکړي، ځکه چې یا خو به د یو څخه کرکه
کوي او د بل سره مینه او یا به یو ته وفادار وي او بل ته به په بده سترګه ګوري. تاسو نه شئ کولای
چې هم د خدای بندګي وکړئ او هم د پیسو.

## اندېښنه مه کوئ

۲۵ نو له دې امله تاسو ته وایم چې د خپل ژوند دپاره اندېښنه مه کوئ چې څه به خورئ او څه
به څښئ او نه د خپل بدن په هکله چې څه شی به اغوندئ. ایا ژوند د خوراک څخه او بدن د کالیو
څخه مهم نه دی؟ ۲۶ د هوا مرغانو ته وګورئ. هغوی نه څه کري او نه څه رېبي او نه څه په
ګودامونو کې ذخیره کوي، خو بیاهم ستاسو اسماني پلار هغوی ته روزي رسوي. ایا تاسو د هغو
څخه ډېر ارزښت نه لرئ؟ ۲۷ ایا په تاسو کې څوک کولای شي چې په اندېښنو سره د خپل عمر
یو ساعت هم زیات کړي؟ ۲۸ نو بیا ولې د خپلو کالیو دپاره اندېښنه کوئ؟ ځنګلي ګلانو ته
وګورئ چې څنګه لویېږي. هغوی نه کار کوي او نه د ځان دپاره کالي جوړوي. ۲۹ بیاهم زه تاسو
ته وایم چې حتی سلیمان پاچا هم د خپل ټول شان او شوکت سره د دې ګلانو په شان ښکلي کالي
نه وو اغوستي. ۳۰ خو که چېرې خدای د صحرا واښو ته چې نن دلته دي او سبا په تنور کې
اچول کیږي داسې کالي ورکولای شي، ایا هغه به تاسو ته د هغو څخه ښه کالي در نه کړي؟ ستاسو
ایمان ولې دومره کمزوری دی؟ ۳۱ نو اندېښنه مه کوئ او مه وایئ: ‹مونږ به څه خورو؟ څه به
څښو؟ او څه به اغوندو؟› ۳۲ ځکه چې بې‌ایمانه خلک د دې ټولو شیانو په هکله اندېښنه کوي،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو ستاسو اسماني پلار پوهيږي چې تاسو دې ټولو شيانو ته اړتيا لرئ. ۳۳ خو د هرڅه نه لومړی
د خدای پاچاهي او د هغه عدالت وغواړئ، نو بيا به دا ټول شيان هم تاسو ته درکړل شي.

۳۴ نو د سبا دپاره انديښنه مه کوئ، ځکه چې د سبا انديښنې د سبا دپاره دي. د نن ورځې
ستونزې د نن دپاره بس دي.

## د نورو په هکله قضاوت کول

(لوقا ۶:۳۷-۳۸، ۶:۴۱-۴۲)

۷ ۱ د نورو په هکله قضاوت مه کوئ، ترڅو تاسو تر قضاوت لاندې ونه نيول شئ. ۲ ځکه
لکه څنګه چې تاسو نور خلک ملامتوئ، نو تاسو به هم ملامته کړای شئ. په هره پيمانه چې تاسو
يې ورکوئ، نو په هماغه پيمانه به تاسو ته هم درکړل شي. ۳ ته ولې د خپل ورور په سترګه کې
خسنې ګورې، خو په خپله سترګه کې غټ لرګی ليدلی نه شې؟ ۴ يا ته څنګه خپل ورور ته
ويلی شې چې اجازه راکړه ستا د سترګې نه خسنې راوباسم، حال دا چې ستا په خپله سترګه کې
لرګی دی؟ ۵ ای منافقه، لومړی د خپلې سترګې نه لرګی وباسه، نو بيا به ستا سترګې هم وغړيږي
چې د خپل ورور د سترګې نه خسنې وباسې.

۶ سپيانو ته سپېڅلي شيان مه ورکوئ او خپلې مرغلرې خوګانو ته مه وراچوئ، هسې نه چې
هغه ترپښو لاندې کړي او بېرته راوګرځي او په تاسو باندې حمله وکړي.

## وغواړئ، ولټوئ او وټکوئ

(لوقا ۱۱:۹-۱۳)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ وغواړئ، نو تاسو ته به درکړل شي. ولټوئ نو پیدا به یې کړئ. وټکوئ نو دروازه به درته
خلاصه شي. ٨ ځکه هرڅوک چې څه وغواړي، نو لاسته به یې راوړي او څوک یې چې ولټوي،
نو پیدا به یې کړي او څوک چې دروازه وټکوي، نو ورته خلاصه به شي. ٩ ایا په تاسو کې
داسې څوک شته چې زوی یې ورڅخه ډوډۍ وغواړي او هغه ورته تیږه ورکړي؟ ١٠ او یا
ورڅخه ماهي وغواړي او هغه ورته مار ورکړي؟ ١١ نو تاسو چې بد خلک یئ، په دې پوهیږئ
چې خپلو اولادونو ته ښنګه ښه شیان ورکړئ، نو ستاسو اسماني پلار به څومره ښه شیان هغو خلکو
ته ورکړي چې ورڅخه ویې غواړي. ١٢ د نورو سره داسې چلند کوئ لکه ښنګه چې تاسو یې د
ځان دپاره د هغوی څخه غواړئ. دا هغه څه دي چې تورات او د پیغمبرانو لیکنې یې وایي.

## تنګه دروازه

(لوقا ۱۳:۲۴)

١٣ په تنګه دروازه ننوځئ، ځکه کومه دروازه چې لویه ده او هغه لاره چې اسانه ده هغه د تباهۍ
خواته ځي او کوم خلک چې په دې لاره ځي هغه زیات دي. ١۴ خو کومه دروازه چې د تلپاتې
ژوندون خواته ځي هغه تنګه او لاره یې سخته ده او د هغې موندونکي هم لږ دي.

## ونه او د هغې میوه

(لوقا ۶:۴۳-۴۴)

١۵ د جعلي پیغمبرانو سره احتیاط کوئ، هغوی د پسونو په شکل کې تاسو ته راځي، خو په
حقیقت کې داړونکي لېوان دي. ١۶ تاسو به هغوی د خپلو عملونو څخه وپېژنئ. ایا د اغزو څخه
څوک انګور یا انځر راټولولی شي؟ ١٧ نو هره ښه ونه ښه میوه نیسي او خرابه ونه خرابه میوه
نیسي. ١٨ ښه ونه خرابه میوه نه شي نیولی او نه خرابه ونه ښه میوه نیولی شي. ١٩ کومه ونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ښه مېوه نه نيسي، نو هغه ونه به ووهل شي او په اور کې به واچول شي. ۲۰ په دې ډول به
تاسو هغوی د خپلو عملونو څخه وپېژنئ.

## زه تاسو هېڅ نه پېژنم

(لوقا ۱۳:۲۵-۲۷)

۲۱ هر هغه څوک چې ماته باداره، باداره وايي د خدای په پاچاهۍ کې به ورننه نه شي، خو
يوازې هغه خلک به دننه شي چې زما د اسماني پلار اراده پوره کوي. ۲۲ د اخرت په ورځ به ډېر
ماته وايي: ‹ای باداره، ای باداره، ايا ستا په نوم مونږ د خدای پيغام ونه رساوه؟ ايا ستا په نوم مو
پېريان نه وو ويستلي؟ ايا ستا په نوم مو ډېرې معجزې ونه ښودلې؟› ۲۳ بيا به زه هغوی ته په
ښکاره ووايم: ‹ای بدکارانو، زه تاسو هېڅ نه پېژنم، زما د مخې نه لېرې شئ.›

## دوه ډوله بنيادونه

(لوقا ۶:۴۷-۴۹)

۲۴ نو هرڅوک چې زما دا خبرې اوري او عمل ورباندې کوي هغه د هغه پوه سړي په شان دی
چې خپل کور يې په تيږو باندې جوړ کړی ؤ، ۲۵ چې باران وشو او سېلاب راغی او سخت توفان
په هغه کور باندې راغی، خو هغه راونه غورځېده، ځکه چې بنياد يې په تيږو باندې ايښودل شوی
ؤ. ۲۶ خو هرڅوک چې زما خبرې واوري او عمل ورباندې ونه کړي، نو هغه د هغه ناپوه سړي
په شان دی چې خپل کور يې په شګو باندې جوړ کړی ؤ، ۲۷ او کله چې باران وشو او سېلاب
راغی او سخت توفان په هغه کور باندې راغی، نو هغه راوغورځېد او بيخي وران شو.»

۲۸ کله چې عيسی دا خبرې پای ته ورسولې، نو خلک د هغه تعليم ته حيران پاتې شول، ۲۹
ځکه چې هغه د شريعت د عالمانو په شان نه بلکې په واک او اختيار سره هغوی ته تعليم ورکاوه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسی یو جذامي سړي ته شفا ورکوي

(مرقوس ۱:۴۰–۴۵ او لوقا ۵:۱۲–۱۶)

۸ ۱ کله چې عیسی د غره نه راښکته شو، نو ګڼ شمېر خلک ورپسې روان شول. ۲ په دې
وخت کې یو جذامي سړی هغه ته راغی او د هغه په پښو کې پرېوت او ویې ویل: «ښاغلیه، که ته
وغواړې نو کولای شې چې ما پاک او روغ کړې.» ۳ عیسی خپل لاس وراوږد کړ او په هغه
باندې یې کېښود او ویې ویل: «زه غواړم، پاک او روغ شه» او هغه سمدلاسه د جذام څخه پاک او
روغ شو. ۴ بیا عیسی هغه ته وویل: «ګوره چې په دې هکله هېچا ته څه ونه وایې، خو لاړ شه
او خپل ځان کاهن ته وروښایه او کومه قرباني چې موسی یې حکم کړی دی ورانديې کړه، د دې
دپاره چې خلکو ته ثابته شي چې ته روغ شوی یې.»

## عیسی د رومي منصبدار نوکر ته شفا ورکوي

(لوقا ۷:۱–۱۰)

۵ کله چې عیسی د کپرناحوم ښار ته ورغی، نو یو رومي منصبدار ورته راغی او هغه ته یې
زاري وکړه، ۶ او ورته ویې ویل: «ای ښاغلیه، زما یو نوکر په کور کې شل پروت دی او ډېر په
عذاب دی.» ۷ عیسی وویل: «زه به درشم او هغه به روغ کړم.» ۸ خو هغه منصبدار ورته په
ځواب کې وویل: «ای ښاغلیه، زه د دې لایق نه یم چې زما کور ته راشې. ته یوازې امر وکړه، نو
زما نوکر به روغ شي. ۹ ځکه چې زه هم د بل چا د امر لاندې یم او عسکر زما د امر لاندې
دي. کله چې یو ته ووایم چې لاړ شه، نو هغه ځي او بل ته ووایم چې راشه نو هغه راځي او کله
چې خپل نوکر ته ووایم چې دا کار وکړه نو هغه یې کوي.» ۱۰ کله چې عیسی د هغه خبرې
واورېدلې نو حیران شو او کوم خلک چې په هغه پسې روان وو، هغوی ته یې وویل: «په یقین سره
زه تاسو ته دا وایم چې ما داسې ایمان په اسراییلو کې هم نه دی لیدلی. ۱۱ زه تاسو ته وایم چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د ختيځ او لوېديځ څخه به ډېر خلک راشي او د ابراهيم، اسحاق او يعقوب سره به د اسماني
پاچاهۍ په مېلمستيا کې کښېني، ۱۲ خو کوم خلک چې د دې پاچاهۍ دپاره ټاکل شوي وو
هغوی به دباندې تيارو ته يعني هغه ځای ته وغورځول شي چې هلته به خلک ژاړي او خپل
غاښونه به چيچي.» ۱۳ بيا عيسی هغه منصبدار ته وويل: «بېرته خپل کور ته لاړ شه، لکه څنګه
چې باور لرې همداسې به وشي.» نو په هماغه ساعت هغه نوکر روغ شو.

## عيسی ډېرو خلکو ته شفا ورکوي

(مرقوس ۱:۲۹-۳۴ او لوقا ۴:۳۸-۴۱)

۱۴ کله چې عيسی د پطروس کور ته ورغی، نو ويې ليدل چې د پطروس خواښې د تبې له لاسه
پرته وه. ۱۵ عيسی د هغې لاس ونيوه او تبې هغه پرېښوده. هغه راپاڅېدله او د عيسی خدمت يې
پيل کړ. ۱۶ کله چې ماښام شو، نو خلکو هغه ته ډېر داسې کسان راوستل چې پېريانو نيولي وو او
په يو حکم يې د هغوی څخه پېريان وويستل او ټول ناروغان يې روغ کړل. ۱۷ په دې ډول د
اشعيا نبي هغه وينا رښتيا شوه چې ويلي يې وو:

هغه زمونږ ټولې ناروغۍ لېرې کړلې، او زمونږ کمزورۍ يې لېرې کړلې.

## د عيسی څخه د پيروۍ کولو بيه

(لوقا ۹:۵۷-۶۲)

۱۸ کله چې عيسی وليدل چې د خلکو ګڼه‌ګوڼه ورڅخه راچاپېره ده نو خپلو شاګردانو ته يې حکم
وکړ چې د جليل د بحيرې بلې غاړې ته لاړ شي. ۱۹ د شريعت يو عالم هغه ته ورغی او ويې
ويل: «استاذه! هرچېرته چې ځې زه به درپسې ځم.» ۲۰ عيسی ورته وويل: «ګيدړان خپل غارونه
لري او مرغان خپلې ځالې، خو د انسان زوی دومره ځای هم نه لري چې خپل سر ورباندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کېږدي.» ۲۱ يو بل شاګرد ورته وويل: «استاذه، اجازه راکړه چې لومړی لاړ شم او خپل پلار
خاورو ته وسپارم.» ۲۲ عيسی ځواب ورکړ: «ته ما پسې راځه او پرېږده چې مړي خپل مړي ښخ
کړي.»

## عيسی توفان ارامويي

(مرقوس ۴:۳۵–۴۱ او لوقا ۸:۲۲–۲۵)

۲۳ عيسی په کشتۍ کې سپور شو او شاګردان يې هم ورسره روان شول. ۲۴ ناڅاپه په بحيره
کې يو سخت توفان راغی او نژدې ؤ چې کشتۍ د څپو له لاسه ډوبه شي، خو عيسی ويده ؤ. ۲۵
نو شاګردان ورغلل او راويښ يې کړ او ورته وې ويل: «ای استاذه، مونږ وژغوره. مونږ ډوبېږو.»
۲۶ عيسی ورته وويل: «تاسو ولې دومره وېرېږئ؟ ستاسو ايمان څومره کمزوری دی!» بيا هغه
راپاڅېد او باد او د اوبو څپو ته يې حکم وکړ او هغوی بيخي ارام شول. ۲۷ شاګردان حيران شول
او وې ويل: «دا څنګه سړی دی چې باد او څپې يې هم حکم مني؟»

## عيسی دوو کسانو ته چې پېريانو نيولي وو شفا ورکوي

(مرقوس ۵:۱–۲۰ او لوقا ۸:۲۶–۳۹)

۲۸ کله چې عيسی د جدريان سيمې ته چې د بحيرې په بلې غاړې پرته وه ورسېده، نو د دوو تنو
سره چې پېريانو نيولي وو او د هديرې لخخه راووتل، مخامخ شو. هغوی دومره خطرناکه وو چې
هېچا نه شو کولای په هغه لاره تېر شي. ۲۹ ناڅاپه هغوی چيغې ووهلې: «ای د خدای زويه،
مونږ سره څه کار لرې؟ ته د دې دپاره دلته راغلی يې چې مونږ د ټاکل شوي وخت څخه مخکې په
عذاب کړې؟» ۳۰ د هغه ځای څخه لږ لېرې د خوګانو يوه لويه رمه څرېدله. ۳۱ پېريانو عيسی
ته زاري وکړه: «که چېرې ته مونږ شړې، نو د خوګانو هغې رمې ته مو ولېږه.» ۳۲ عيسی هغوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته وويل: «لاړ شئ!» نو هغوی راووتل او په خوګانو کې ورننوتل. سمدلاسه د خوګانو ټولې رمې
منډه کړه او د کمر د غاړې نه بحيرې ته ورولوېدله او په اوبو کې ډوبه شوه. ۳۳ د خوګانو
ساتونکي وتښتېدل او ښار ته لاړل. خلکو ته يې ټوله کيسه وکړه او هغه څه چې په پېريانو نيولي
سړيو باندې تېر شوي وو، ټولو ته يې ووېل. ۳۴ بيا د ښار ټول خلک راووتل چې عيسی ووينې
او کله يې چې هغه وليده نو زاري يې ورته وکړه چې د دوی د سيمې څخه لاړ شي.

## عيسی يو شل سړي ته شفا ورکوي

(مرقوس ۲:۱-۱۲ او لوقا ۵:۱۷-۲۶)

۹ ۱ عيسی په کشتۍ کې سپور شو او د بحيرې څخه تېر شو او بېرته خپل ښار کپرناحوم ته
راغی. ۲ په دې وخت کې څو کسانو يو شل سړی چې په کټ کې پروت ؤ هغه ته راوست.
عيسی چې د هغوی ايمان وليده، نو هغه شل سړي ته يې ووېل: «زويه! ډاډه اوسه، ستا ګناهونه
وبخښل شول.» ۳ په دې خبرې د شريعت ځينې عالمانو د خپلو ځانونو سره ووېل: «دا سړی
کفر وايي.» ۴ خو عيسی پوهېده چې د هغوی په زړه کې څه دي او ورته ويې ويل: «ستاسو په
زړونو کې ولې داسې بد فکرونه ګرځي؟ ۵ ايا دا خبره اسانه ده چې ووېل شي ستا ګناهونه
وبخښل شول او يا ووېل شي چې پاڅېږه او وګرځه؟ ۶ خو زه به تاسو ته ثابته کړم چې د انسان
زوی د ځمکې په مخ دا واک او اختيار لري چې ګناهونه وبخښي.» نو هغه شل سړي ته يې ووېل:
«پاڅېږه، کټ دې واخله او خپل کور ته لاړ شه.» ۷ هغه پاڅېد او کور ته لاړ. ۸ کله چې
خلکو دا پېښه وليدله نو ووېرېدل او د خدای ثنا يې ووېله چې انسان ته يې داسې واک او اختيار
ورکړی دی.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسی متي ته بلنه ورکوي

(مرقوس ۲:۱۳–۱۷ او لوقا ۵:۲۷–۳۲)

۹ کله چې عیسی له هغه ځای څخه تېرېده، نو په لاره کې يې د متي په نوم يو سړی ولیده چې
د مالیې راټولولو په ځای کې ناست ؤ. عیسی هغه ته وويل: «ما پسې راځه.» متي راپاڅېد او په هغه
پسې روان شو.

۱۰ بیا عیسی د متي په کور کې ډوډۍ ته ناست ؤ چې ډېر مالیه ټولوونکي او نور ګناهکاران
راغلل او د عیسی او د هغه د شاګردانو سره دسترخوان ته کښېناستل. ۱۱ کله چې فریسیانو دا
ولیدل، نو د عیسی د شاګردانو نه يې پوښتنه وکړه: «ستاسو استاذ ولې د مالیه ټولوونکو او نورو
ګناهکارانو سره یوځای ډوډۍ خوري؟» ۱۲ عیسی د هغوی خبرې واورېدلې او ويې ویل: «روغ
خلک ډاکټر ته اړتیا نه لري بلکې ناروغان يې لري. ۱۳ لاړ شئ او د خدای د کلام د دې لیکنو په
معنی باندې ځانونه پوه کړئ: ‹زه ستاسو څخه غواړم چې په نورو رحم وکړئ، نه د قربانۍ وړاندې
کول.› ځکه چې زه د دې دپاره نه یم راغلی چې پرهېزګاران راوبولم بلکې ګناهکاران راوبولم.»

## د روژې په هکله پوښتنه

(مرقوس ۲:۱۸–۲۲ او لوقا ۵:۳۳–۳۹)

۱۴ بیا د یحیی شاګردان عیسی ته راغلل او ورته ويې ویل: «ولې مونږ او فریسیان روژه نیسو او
ستا شاګردان يې نه نیسي؟» ۱۵ عیسی هغوی ته وويل: «ایا دا کېدای شي چې د زوم ملګري دې
په داسې حال کې چې زوم ورسره وي خفه ناست وي؟ بې له شکه چې نه. خو داسې وخت به
راشي چې زوم به د هغوی نه بوتلل شي، نو بیا به روژه نیسي. ۱۶ هېڅوک په زړو کالیو باندې
نوی پیوند نه لګوي. که داسې وکړي نو هغه پیوند به د زړو کالیو څخه راوشلیږي او د مخکې نه به

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هم يو لوی سوری په کې جوړ شي. ۱۷ او نه هم څوک تازه شراب په زړو مشکونو کې اچوي،
ځکه که واچول شي، نو مشکونه شکېږي او شراب ترې تويېږي او مشکونه به له منځه لاړ شي. خو
تازه شراب په نويو مشکونو کې اچول کېږي او په دې ډول هم شراب او هم مشک دواړه روغ پاتې
کېږي.»

## يوې ښځې ته شفا ورکول او د يوې مړې انجلۍ راژوندي کول

(مرقوس ۵:۲۱–۴۳ او لوقا ۸:۴۰–۵۶)

۱۸ عيسی لا دا خبرې کولې چې په دې وخت کې د کنيسې يو مشر ورته راغی او د هغه په پښو
کې پرېوت او ويې ويل: «همدااوس زما لور مړه شوه، خو که چېرې ته راشې او خپل لاس ورباندې
کېږدې، نو هغه به ژوندۍ شي.» ۱۹ عيسی پاڅېد او ورسره روان شو او شاګردان يې هم ورپسې
روان شول. ۲۰ په دې وخت کې يوه ښځه چې د دولسو کالو راهيسې ورځخه وينه بهېدله، د شا له
خوا راغله او د عيسی لمنې ته يې لاس وروړ. ۲۱ ځکه چې هغې باور درلود چې که زه يوازې د
هغه چپنې ته هم لاس وروړم نو روغه به شم. ۲۲ عيسی مخ وروااړاوه او هغه يې وليدله او ورته
ويې ويل: «لورې! ډاډه اوسه، ته خپل ايمان روغه کړې.» او په هماغه ساعت ښځه روغه شوه. ۲۳
کله چې عيسی د هغه مشر کور ته ورغی او د جنازې دپاره د غم ساز غږوونکي او د خلکو شور
يې وليده، ۲۴ نو هغه وويل: «ووځئ، ځکه چې انجلۍ مړه نه ده، بلکې ويده ده.» نو هغوی
ورپورې وخندل. ۲۵ خو کله چې ټول خلک دباندې وويستل شول، نو هغه د انجلۍ کوټې ته
ورننوت، هغه يې له لاسه ونيوله او هغه راپاڅېدله. ۲۶ دا خبر په هغې ټولې سيمې کې خپور شو.

## عيسی دوو ړندو ته شفا ورکوي

۲۷ کله چې عيسی د هغه ځای نه روان شو، نو دوه ړانده ورپسې روان شول او چيغې يې وهلې:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«ای د داود زویه، په مونږ رحم وکړه.» ۲۸ کله چې عیسی کور ته دننه شو، نو هغه ړانده ورته
راغلل. عیسی د هغوی څخه پوښتنه وکړه: «ایا تاسو په دې ایمان لرئ چې زه کولای شم تاسو بینا
کړم؟» هغوی وویل: «هو، ښاغلیه!» ۲۹ بیا عیسی د هغوی سترګو ته لاس وروړ او ویې ویل:
«څنګه چې ستاسو ایمان دی، نو همداسې دې وشي.» ۳۰ او د هغوی سترګې بینا شوې. عیسی
هغوی ته په کلکه خبرداری ورکړ چې په دې هکله هېچا ته څه ونه وایي. ۳۱ خو کله چې هغوی
لاړل، نو په هغه ټوله سیمه کې یې د هغه په هکله خبر خپور کړ.

## عیسی یو ګونګي ته شفا ورکوي

۳۲ کله چې عیسی او شاګردان یې په وتلو کې وو چې یو سړی یې عیسی ته راوست چې خبرې
یې نه شوې کولای ځکه چې پېریانو نیولی ؤ. ۳۳ کله چې عیسی د هغه څخه پېری وویست، نو
هغه سړي په خبرو پیل وکړ. خلک ډېر حیران شول او ویې ویل: «په اسراییلو کې هېڅکله هم داسې
کار نه دی لیدل شوی.» ۳۴ خو فریسیانو وویل: «هغه د پېریانو د مشر یعنې شیطان په مرسته
پېریان وباسي.»

## عیسی په خلکو باندې رحم کوي

۳۵ عیسی ښار په ښار او کلي په کلي ګرځېده او د هغوی په کنیسو کې یې تعلیم ورکاوه او د
اسماني پاچاهۍ زېری یې خپراوه او د خلکو هر ډول ناروغۍ او کمزورتیاوې یې روغولې. ۳۶
کله چې هغه د خلکو ګڼه‌ګوڼه ولیدله، نو زړه یې ورباندې وسوځېد، ځکه چې هغوی د بې‌شپونه
پسونو په شان پرېشانه او بې‌وسه وو. ۳۷ بیا هغه خپلو شاګردانو ته وویل: «فصل ډېر دی، خو
مزدوران لږ دي. ۳۸ نو تاسو د فصل خاوند ته زاري وکړئ چې د خپلو حاصلاتو د راټولولو دپاره
نور مزدوران راولېږي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د عیسی دولس رسولان

(مرقوس ۳:۱۳-۱۹ او لوقا ۶:۱۲-۱۶)

۱۰ ۱ عیسی خپل دولس شاګردان راوغوښتل او هغوی ته یې د پېریانو د ویستلو او د هر
ډول ناروغیو او کمزورتیاوو د روغولو اختیار ورکړ. ۲ د هغو دولسو رسولانو نومونه دا دي:
لومړنی شمعون چې په پطروس مشهور ؤ او ورور یې اندریاس، یعقوب د زبدي زوی او د هغه ورور
یوحنا، ۳ فیلیپوس او بارتولما، توما او مالیه ټولوونکی متي، یعقوب د حلفي زوی او تدي، ۴
شمعون سرتېری او یهودا اسخریوتي چې د عیسی سره یې خیانت وکړ.

## عیسی خپل دولس رسولان لېږي چې خپل کار سرته ورسوي

(مرقوس ۶:۷-۱۳ او لوقا ۹:۱-۶)

۵ عیسی دا دولس شاګردان د دې لارښوونو سره ولېږل: «د غیریهودیانو هېڅ یوې سیمې ته لاړ
نه شئ او د سامریانو هېڅ ښار ته مه ننوځئ. ۶ خو د هغې په ځای د اسراییلو قوم ته چې د
ورک شویو پسونو په شان دي ورشئ ۷ او په لاره کې دا پیغام ورکوئ چې اسماني پاچاهي
رانژدې شوې ده. ۸ ناروغان روغ کړئ، مړي راژوندي کړئ، په جذام اخته خلک پاک او روغ
کړئ او پېریان وباسئ. تاسو ته وړیا درکړل شوي او وړیا یې ورکړئ. ۹ د ځان سره د سرو
زرو، سپینو زرو او مسو سکې مه وړئ، ۱۰ د سفر دپاره کوم خورجین، اضافه کالي، څپلۍ او امسا
مه اخلئ، ځکه چې مزدور د خپلې مزدورۍ حقدار دی. ۱۱ کله چې کوم ښار یا کوم کلي ته
ننوځئ، نو د یو داسې سړي کور ته ورشئ چې د ورتلو لایق وي او ترڅو پورې چې کوم بل ځای
ته ځئ، نو تر هغه وخته پورې د هغه په کور کې پاتې شئ. ۱۲ کوم کور ته چې ننوځئ، نو په هغه
سلام واچوئ. ۱۳ که چېرې د هغه کور خلک ستاسو د سلام لایق وي، نو کومه سوله او سلامتي
چې تاسو یې د هغوی دپاره غواړئ هغه به ورباندې پاتې شي، خو که لایق یې نه وي، نو هغه سلام

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به ببېرته تاسو ته راوګرځي. ۱۴ خو که چېرې څوک تاسو ته هرکلی ونه وايي او يا ستاسو خبرو
ته غوږ ونه نيسي، نو کله چې د هغه کور يا ښار څخه ځئ، نو د خپلو پښو خاورې وڅنډئ. ۱۵
په يقين سره زه تاسو ته دا وايم چې د قيامت په ورځ به د سدوم او عموره د ښارونو د خلکو سزا د
دی ښار د خلکو د سزا څخه کمه وي.

## د راتلونکې ځورونې په هکله

(مرقوس ۹:۱۳–۱۳ او لوقا ۱۲:۲۱–۱۷)

۱۶ ګورئ، زه تاسو لکه د پسونو په شان د لېوانو منځ ته لېږم، نو د مارانو په شان هوښيار او د
کوترو په شان بې‌آزاره اوسئ. ۱۷ پام کوئ چې خلک به تاسو محکمو ته وسپاري او په خپلو
کنيسو کې به مو په دورو باندې ووهي ۱۸ او زما په خاطر به تاسو واليانو او پاچاهانو ته راوستل
شئ چې د هغوی او غيريهوديانو په مخکې شاهدي ورکړئ. ۱۹ خو کله چې هغوی تاسو محکمې
ته راولي، نو په دې هکله انديښنه مه کوئ چې تاسو به څه وايئ او څنګه به يې وايئ، ځکه چې په
هماغه ساعت به تاسو ته وويل شي چې څه ووايئ. ۲۰ ځکه تاسو چې کومې خبرې کوئ هغه به
ستاسو خبرې نه وي، بلکې ستاسو د اسماني پلار روح به ستاسو په وسيله خبرې کوي. ۲۱ ورور
به د ورور سره خيانت وکړي چې ووژل شي او پلار به د خپلو اولادونو سره. اولادونه به د خپلو
ميندو او پلرونو په خلاف راپورته شي او د هغوی د مړينې سبب به شي. ۲۲ ټول خلک به زما د
نوم په خاطر ستاسو څخه کرکه کوي. خو څوک چې تر اخره ټينګ پاتې شي، هغه به خلاصون
ومومي. ۲۳ کله چې څوک تاسو په يو ښار کې ځوروي، نو بل ښار ته وتښتئ. په يقين سره زه
تاسو ته دا وايم چې مخکې له دې چې د اسراييلو په ټولو ښارونو کې وګرځئ، د انسان زوی به
راشي.

۲۴ شاګرد د خپل استاذ څخه لوی نه دی او نه نوکر د خپل بادار څخه. ۲۵ د يو شاګرد دپاره دا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بس دی چې د خپل استاذ په شان شي او نوکر د خپل بادار په شان. که چېرې د کور مشر ته
بعلزبول یعنې شیطان وویل شي، نو د هغه د کورنۍ نور غړي به د دې نه هم په خراب نوم یاد کړای
شي.

## د چا څخه باید ووېرېږئ

(لوقا ۱۲:۲–۷)

۲۶ نو د هغوی نه مه وېرېږئ، ځکه داسې پټ شی نشته چې ښکاره به نه شي او نه داسې پټ راز
شته چې ښکاره به نه شي. ۲۷ څه چې زه تاسو ته په تیاره کې وایم، نو تاسو یې په رڼا ورځ
اعلان کړئ، کوم څه چې تاسو ته په غوږ کې وویل شي تاسو یې د بام په سر اعلان کړئ. ۲۸ د
هغو خلکو څخه مه وېرېږئ چې بدن وژني، خو روح نه شي وژلی. خو د هغه چا څخه ووېرېږئ
چې بدن او روح دواړه په دوزخ کې تباه کولای شي. ۲۹ ایا دوه مرغی په یوه روپۍ نه خرڅیږي؟
خو بیاهم ستاسو د اسماني پلار د رضا څخه پرته یوه هم په ځمکه نه رالویږي. ۳۰ خو ستاسو په
هکله باید وویل شي چې ستاسو د سر وېښتان هم شمېرل شوي دي. ۳۱ نو بیا مه وېرېږئ، تاسو
د بې‌شمېره مرغیو څخه زیات ارزښت لرئ. ۳۲ نو هرڅوک چې د خلکو په مخکې په دې اقرار
وکړي چې هغه زما د پیروانو څخه دی، نو زه به هم د خپل اسماني پلار په مخکې اقرار وکړم چې
هغه زما د پیروانو څخه دی. ۳۳ خو هرڅوک چې د خلکو په مخکې زما څخه انکار وکړي، نو زه
به هم د خپل اسماني پلار په مخکې د هغه څخه انکار وکړم.

## د ایمان په خاطر د ستونزو منل

(لوقا ۱۲:۵۱–۵۳، ۱۴:۲۶–۲۷)

۳۴ داسې ګومان مه کوئ چې زه د دې دپاره راغلی یم چې نړۍ ته سوله راولم، زه د سولې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوستلو دپاره نه يم راغلی، بلکې دښمني راولم. ۳۵ زه راغلی يم چې زوی د پلار، لور د مور او
انږور د خواښې په خلاف کړم. ۳۶ ستاسو د خپلې کورنۍ غړي به ستاسو دښمنان شي. ۳۷ په
چا چې خپل مور او پلار زما څخه زيات ګران وي، نو هغه زما لايق نه دی او په چا چې خپله لور
او زوی زما څخه ډېر ګران وي، هغه زما لايق نه دی. ۳۸ څوک چې خپل صليب راوانخلي او ما
پسې رانه شي، نو هغه زما لايق نه دی. ۳۹ څوک چې کوښښ کوي خپل ځان وساتي، نو هغه به
له لاسه ورکړي او څوک چې زما په خاطر خپل ژوند له لاسه ورکړي هغه به رښتينی ژوند ترلاسه
کړي.

## اجرونه

(مرقوس ۹:۴۱)

۴۰ څوک چې تاسو قبول کړي، نو زه يې قبول کړی يم او څوک چې ما قبول کړي، نو هغه څوک
يې قبول کړی دی چې زه يې رالېږلی يم. ۴۱ هرڅوک چې يو پيغمبر په دې خاطر قبول کړي چې
هغه پيغمبر دی، نو هغه به د يو پيغمبر اجر ومومي او څوک چې يو نېک سړی په دې خاطر قبول
کړي چې هغه نېک سړی دی، نو هغه به د نېک سړي اجر ومومي. ۴۲ هرڅوک چې د دې عادي
خلکو څخه يوه ته په دې خاطر چې هغه زما د پيروانو څخه دی، يوه پياله يخې اوبه هم ورکړي، نو
په يقين سره زه تاسو ته دا وايم چې هغه سړی به بې‌اجره پاتې نه شي.»

## د عيسی په هکله د يحيی پوښتنه

(لوقا ۷:۱۸–۳۵)

۱۱ ۱ کله چې عيسی خپلو دولسو شاګردانو ته دا لارښوونې وکړې، نو له هغه ځای نه روان
شو چې د هغې سيمې په نورو ښارونو کې تعليم ورکړي او وعظ وکړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲ کله چې یحیی په زندان کې د مسیح د کارونو څخه خبر شو، نو خپل څو شاګردان یې هغه ته
ورولیږل ۳ چې د هغه څخه پوښتنه وکړي: «ایا ته هغه څوک یې چې باید راغلی وای یا د کوم
بل چا په تمه واوسو؟» ۴ عیسی هغوی ته په ځواب کې وویل: «لاړ شئ او څه چې تاسو اورئ
او وینئ یحیی ته ووایئ ۵ چې ړانده بینا کیږي، ګوډان کولای شي وګرځي، کوم خلک
چې په جذام باندې اخته وو هغه پاک او روغ شوي دي، کاڼه اوریدلی شي، مړي راژوندي کیږي او
غریبانو ته زیری ورکول کیږي. ۶ بختور دی هغه څوک چې په ما شک ونه کړي.»

## یحیی څوک دی

۷ څنګه چې د یحیی شاګردان روان شول، نو عیسی خلکو ته د یحیی په هکله داسې خبرې پیل
کړې: «تاسو د څه شي د لیدلو دپاره دښتې ته تللي وئ؟ د یوې لوخې د لیدلو دپاره چې باد
خوځوله؟ ۸ نو بیا د څه شي د لیدلو دپاره تللي وئ؟ ایا د هغه چا د لیدلو دپاره چې قیمتي او
ښکلي کالي یې اغوستي وو؟ ګورئ، کوم خلک چې داسې کالي اغوندي هغوی په شاهانه ماڼیو کې
ژوند کوي. ۹ نو بیا د څه شي د لیدلو دپاره وتلي وئ؟ ایا د یو پیغمبر د لیدلو دپاره؟ هو، زه
تاسو ته وایم چې هغه د یو پیغمبر څخه هم ډېر لوی دی. ۱۰ دا هغه څوک دی چې د هغه په
هکله د خدای په کلام کې لیکل شوي دي:

ګوره، زه به خپل استازی ستا څخه مخکې ولیږم چې ستا دپاره لاره تیاره کړي.

۱۱ په یقین سره زه تاسو ته دا وایم چې په دې نړۍ کې له تعمید ورکوونکی یحیی څخه بل څوک
لوی نه دی پیدا شوی، خو بیاهم په اسماني پاچاهۍ کې تر ټولو کوچنی د هغه نه ډېر لوی دی. ۱۲
د تعمید غسل ورکوونکي یحیی د زمانې څخه تر نن ورځ پورې اسماني پاچاهي تر سختو حملو
لاندې راغلې او زورور خلک کوښښ کوي چې هغه په زوره ونیسي. ۱۳ ځکه چې ټولو پیغمبرانو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د موسی شریعت د یحیی تر راتللو پورې د اسماني پاچاهۍ په هکله پېشګويي کړې ده ۱۴ او
که تاسو تيار يئ چې دا ومنئ، نو يحيی هماغه الياس نبي دی چې بايد راغلی وای. ۱۵ که څوک
غوږونه لري، نو هغه دې واوري.

۱۶ خو زه د دې زماني خلک د څه شي سره پرتله کړم؟ هغوی د هغو ماشومانو په شان دي چې
په بازار کې ناست وي او يو بل ته نارې وهي: ۱۷ ‹مونږ درته شپېلۍ ووهله، خو تاسو ګډا ونه
کړه، مونږ درته د غم سندرې ووېلې، خو تاسو ونه ژړل.› ۱۸ ځکه کله چې يحيی راغی، نو نه يې
څه خوړل او نه يې څه څښل، خو ټولو به ويل چې هغه پېريانو نيولی دی. ۱۹ کله چې د انسان
زوی راغی او هغه خوړل او څښل، خو هغوی ويل چې هغه ته ګورئ، هغه يو خېټور، شرابي او د
ماليه ټولوونکو او نورو ګناهکارانو ملګری دی. خو بياهم خلکو ته به د خدای حکمت په خپلو
عملونو کې رښتينی ثابت شي.»

## بې‌ايمانه ښارونه

(لوقا ۱۰:۱۳–۱۵)

۲۰ بيا عيسی د هغو ښارونو خلک ملامته کړل چې زياتې معجزې يې په کې ښودلې وې، ځکه
چې هغوی توبه ونه ويستله. ۲۱ هغه ووېل: «افسوس دې وي په تا ای د خورزين ښاره! او
افسوس دې وي په تا باندې ای د بيت‌صيدا ښاره! ځکه که چېرې دا معجزې چې په تاسو کې
وښودل شوې که هغه په صور او صيدون کې ښودل شوې وای نو هغوی به ډېر پخوا د وير کالي
اغوستي وای، په خپلو سرونو باندې به يې ايرې بادولې او توبې به يې ويستلې وای. ۲۲ خو تاسو
ته وايم چې د قيامت په ورځ به د صور او صيدون سزا ستاسو د سزا څخه کمه وي. ۲۳ خو ای د
کپرناحوم ښاره! تا غوښتل چې اسمان ته ورسېږې؟ نه، ته به دوزخ ته وغورځول شې. ځکه کومې
معجزې چې په تا کې وښودل شوې، که هغه په سدوم کې ښودل شوې وای، نو هغه به تر نن ورځې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پورې پاتې واى. ۲۴ خو زه تاسو ته وايم چې د قيامت په ورځ به د سدوم د خلکو سزا ستاسو د
سزا څخه کمه وي.»

## عيسى وايي چې ماته راشئ او ارام ومومئ

(لوقا ۲۱:۱۰–۲۲)

۲۵ په هغه وخت کې عيسى دا دعا وکړه: «اى پلاره، اى د ځمکې او اسمان څښتنه، ستا شکر کوم
چې دا خبرې دې د پوهو او هوښيارو خلکو څخه پټې کړې دي او ناپوهو ته دې ښکاره کړې دي.
۲۶ هو پلاره! دا ستا رضا وه.

۲۷ زما پلار ټول شيان ماته راسپارلي دي. هېڅوک زوى نه پېژني بې له پلاره او هېڅوک پلار نه
پېژني بې له زويه او بې له هغو کسانو چې زوى يې وغواړي، پلار ورته وروښايي. ۲۸ اى تاسو
ټول چې د خپلو درنو بارونو څخه ستړي شوي يئ، ماته راشئ او زه به ارام درکړم. ۲۹ زما جغ
په خپله غاړه کېږدئ او زما څخه يې زده کړئ، ځکه چې زه په زړه نرم او عاجز يم او ستاسو
زړونه به ارام ومومي. ۳۰ ځکه چې زما د جغ وړل اسانه او بار مې سپک دى.»

## د سبت د ورځې په هکله پوښتنه

(مرقوس ۲:۲۳–۲۸ او لوقا ۱:۶–۵)

۱۲ ۱ په هغه وخت کې عيسى د سبت په يوه ورځ د غنمو په پټيو تېرېده، د هغه شاګردان
وږي شوي وو نو هغوى د غنمو د وږو په شکولو او خوړلو پيل وکړ. ۲ خو کله چې فريسيانو دا
وليدل، نو عيسى ته يې وويل: «ګوره! ستا شاګردان داسې کار کوي چې د سبت په ورځ ناروا دى.»
۳ عيسى ځواب ورکړ: «ايا تاسو دا نه دي لوستلي کله چې داود او د هغه ملګري وږي وو، نو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه څه وکړل؟ ۴ هغه څنګه د خدای کور ته ننوت او د خپلو ملګرو سره يې سپېڅلې ډوډۍ
وخوړله، که څه هم د هغوی دپاره د هغې خوړل روا نه وو او يوازې د کاهنانو دپاره روا وو؟ ۵
او تاسو د موسی په شريعت کې نه دي لوستلي چې کاهنان د خدای په کور کې د کار په کولو سره د
سبت قانون ماتوي، خو بياهم ګناهکار نه ګڼل کېږي؟ ۶ زه تاسو ته وايم چې دلته يو څوک شته
چې د خدای د کور څخه هم لوی دی. ۷ که چېرې تاسو د خدای د کلام په معنی پوهېدلی چې
وايي: ‹زه ستاسو څخه غواړم چې په نورو رحم وکړئ، نه قرباني.› نو تاسو به بېګناه خلک نه
ملامتول. ۸ ځکه چې د انسان زوی د سبت د ورځې خاوند هم دی.»

## عيسی يو سړي ته چې لاس يې شل ؤ شفا ورکوي

(مرقوس ۱:۳-۶ او لوقا ۶:۶-۱۱)

۹ له هغې وروسته عيسی د هغه ځای څخه لاړ او يوې کنيسې ته ورغی. ۱۰ هلته يو سړی ؤ
چې لاس يې وچ شوی ؤ. ځينو خلکو چې غوښتل يې په عيسی باندې تور ولګوي، نو پوښتنه يې
ترې وکړه: «ايا د سبت په ورځ د چا روغول روا دي؟» ۱۱ عيسی ځواب ورکړ: «فرض کړئ چې
په تاسو کې کوم څوک يو پسه ولري او هغه د سبت په ورځ کندې ته ولوېږي نو هغه به راونه نيسي
او د هغې کندې څخه به يې راونه باسي؟ ۱۲ خو انسان د پسه نه ډېر زيات ارزښت لري! نو له
دې امله د سبت په ورځ نېک کار کول روا دی.» ۱۳ بيا عيسی هغه سړي ته وويل: «خپل لاس
دې وغزوه.» هغه خپل لاس وغزاوه او هغه يې د بل لاس په شان روغ شو. ۱۴ خو فريسيان د
کنيسې نه ووتل او د عيسی د وژلو دپاره يې دسيسه جوړه کړه.

## د خدای غوره شوی خدمتګار

۱۵ کله چې عيسی د هغوی د دسيسې نه خبر شو، نو د هغه ځای څخه لاړ. ډېر خلک ورپسې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

روان شول او هغه ټول ناروغان روغ کړل ۱۶ او هغوی ته يې امر وکړ چې هېچا ته ونه وايي چې
هغه څوک دی. ۱۷ ترڅو په دې ډول د اشعيا نبي هغه وينا رښتيا شي چې وايي:

۱۸ دا دی زما خدمتګار چې ما غوره کړی دی. هغه په ما باندې ګران دی او زه ترې خوشحاله
يم. زه به په هغه باندې خپل روح نازل کړم او هغه به د نړۍ قومونه د خدای د قضاوت څخه
خبروي ۱۹ هغه به نه جنګ جګړې کوي او نه به چيغې وهي او نه به يې په کوڅو کې څوک اواز
اوري. ۲۰ هغه به کږه لوخه هم نه ماتوي او نه به ضعيفه ډېوه مړه کوي، ترڅو هغه انصاف بريالی
کړي. ۲۱ د ټولو قومونو د هيلې سترګې به د هغه خواته وي.

## عيسی او بعلزبول يعني شيطان

(مرقوس ۳:۲۰–۳۰ او لوقا ۱۱:۱۴–۲۳)

۲۲ په دې وخت کې خلکو يو ړوند او ګونګ سړی چې پېريانو نيولی ؤ عيسی ته راوست. عيسی
هغه روغ کړ او هغه وکولای شول چې هم خبرې وکړي او هم ووينې. ۲۳ ټول خلک حيران شول
او ويې ويل: «ايا دا د داود زوی نه دی؟» ۲۴ خو کله چې فريسيانو دا واورېدل نو ويې ويل: «دا
سړی د پېريانو د مشر بعلزبول په مرسته پېريان وباسي.» ۲۵ عيسی پوهېده چې د هغوی په ذهن
کې څه ګرځي، نو هغوی ته يې وويل: «هره پاچاهي چې په خپل منځ کې په ډلو ووېشل شي او يو
د بل سره وجنګېږي، هغه له منځه ځي او هر ښار او هره کورنۍ چې په خپلو کې يو د بل په خلاف
شي نو هغه به پاتې نه شي. ۲۶ که چېرې شيطان، شيطان وباسي نو بيا خو شيطان په خپله د خپل
ځان په خلاف شو، نو د هغه پاچاهي به څنګه پاتې شي؟ ۲۷ که چېرې زه د بعلزبول په مرسته
پېريان وباسم، نو ستاسو خپل پيروان يې د چا په مرسته وباسي؟ نو هغوی به ستاسو په هکله
قضاوت وکړي. ۲۸ خو که چېرې زه د خدای د روح په مرسته پېريان وباسم، نو بيا پوه شئ چې
د خدای پاچاهي تاسو ته راغلې ده. ۲۹ يا څنګه څوک کولای شي چې د يو زورور سړي کور ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورننوځي او د هغه د کور سامان لوټ کړي، ترڅو چې لومړی هغه سړی وتړي او بیا يې کور لوټ
کړي. ۳۰ څوک چې زما سره نه دی، هغه زما په خلاف دی او څوک چې زما سره د خلکو په
راټولولو کې مرسته نه کوي، هغوی خواره واره کوي. ۳۱ نو له دې امله زه تاسو ته وایم چې د
انسان هره ګناه او کفر ویل به وبخښل شي، خو که چېرې د روح القدس په خلاف کفر وویل شي
هغه به ونه بخښل شي. ۳۲ هرڅوک چې د انسان د زوی په خلاف څه ووايي هغه به وبخښل شي،
خو که چېرې څوک د روح القدس په خلاف څه ووايي هغه به ونه بخښل شي، نه په دې نړۍ کې او
نه په راتلونکې نړۍ کې.»

## ونه او د هغې مېوه

(لوقا ۶:۴۳-۴۵)

۳۳ عیسی زیاته کړه: «یوه ونه د هغې د مېوې څخه پېژندل کېږي. که ونه ښه وي، نو مېوه به يې
هم ښه وي. که ونه خرابه وي، نو مېوه به يې هم خرابه وي. ۳۴ ای د مارانو بچیانو! تاسو چې
داسې بدکاره خلک یئ نو بیا څنګه کولای شئ ښې خبرې وکړئ؟ ځکه کومې خبرې چې په زړه
کې وي هغه په خوله راوځي. ۳۵ ښه سړی د خپلې ښې خزانې څخه چې په هغه کې ده، ښه شیان
راوباسي او بد سړی د خپلې بدې خزانې څخه بد شیان راوباسي.

۳۶ زه تاسو ته وایم چې د قیامت په ورځ به هرڅوک د خپلو بېځایه خبرو چې کړي يې دي
ځواب وايي. ۳۷ ځکه چې تاسو به په خپلو خبرو بېګناه او یا ګناهکار وګڼل شئ.»

## د شریعت عالمان او فریسیان معجزه غواړي

(مرقوس ۸:۱۱-۱۲ او لوقا ۱۱:۲۹-۳۲)

۳۸ بیا د شریعت ځینو عالمانو او فریسیانو عیسی ته وویل: «ای استاذه، مونږ غواړو چې یوه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

معجزه راته وښايي.» ۳۹ خو عیسی په ځواب کې وویل: «د دې زمانې بدکاره او بې‌ایمانه خلک
یوه معجزه غواړي، خو یوازېنۍ معجزه چې هغوی ته به وښودل شي هغه د یونس نبي معجزه ده.
۴۰ لکه څنګه چې یونس درې ورځې او درې شپې د یو لوی ماهي په خېټه کې تېرې کړې، نو
همداسې به د انسان زوی درې ورځې او درې شپې د ځمکې په تل کې تېرې کړي. ۴۱ د قیامت
په ورځ به د نینوا خلک راپورته شي او د دې زمانې خلک به ملامته کړي، ځکه چې هغوی د
یونس د وعظ په اورېدلو سره توبه وویستله. خو ګورئ اوس چې څوک دلته دی هغه د یونس نه
لوی دی. ۴۲ د شیبا د هېواد ملکه به د قیامت په ورځ راپورته شي او د دې زمانې خلک به
ملامته کړي، ځکه چې هغه د نړۍ د بل سر نه راغلې وه چې د سلیمان د حکمت څخه ډکې خبرې
واوري. خو ګورئ، اوس دلته یو څوک شته چې د سلیمان نه لوی دی.

## د پېریانو بېرته راتلل

(لوقا ۱۱:۲۴–۲۶)

۴۳ کله چې د یو سړي څخه پېری راوځي، نو په دښتو کې سرګردانه ګرځي او د ارام کولو دپاره
ځای لټوي، خو کله چې داسې ځای پیدا نه کړي ۴۴ نو د خپل ځان سره وايي: ‹زه به بېرته هغه
کور ته لاړ شم چې ورڅخه راوتلی وم. کله چې بېرته راشي نو هغه کور خالي، جارو شوی او منظم
ویني. ۴۵ بیا هغه لاړ شي او د ځان څخه ډېر بد نور اووه پېریان راولي، هغوی ټول راشي او په
هغه کس کې ورننوځي او هلته اوسېږي. او د هغه حال له مخکې څخه هم خراب شي. نو د دې
زمانې د بدکاره خلکو به هم همدا حال وي.›»

## د عیسی مور او ورونه

(مرقوس ۳:۳۱–۳۵ او لوقا ۸:۱۹–۲۱)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۶ عیسی لا د خلکو سره خبرې کولې چې مور او ورونه یې راغلل او دباندې ولاړ وو او غوښتل
یې چې د هغه سره خبرې وکړي. ۴۷ بیا یو چا عیسی ته ووېل: «ستا مور او ورونه دباندې ولاړ
دي او غواړي ستا سره خبرې وکړي.» ۴۸ عیسی په ځواب کې ووېل: «زما مور څوک ده؟ او زما
ورونه څوک دي؟» ۴۹ بیا هغه خپلو شاګردانو ته اشاره وکړه او ویې ویل: «دا زما مور او زما
ورونه دي. ۵۰ ځکه هرڅوک چې زما د اسماني پلار اراده پوره کوي، هغه زما ورور، زما خور او
زما مور ده.»

## د بزګر مثال

(مرقوس ۴:۱-۹ او لوقا ۸:۴-۸)

# ۱۳

۱ په هماغه ورځ عیسی د کور څخه ووت او د بحیرې غاړې ته لاړ او هلته کښېناست.
۲ دومره ډېر خلک ورته راټول شول چې هغه ترې کشتۍ ته وخوت او کښېناست او ټول خلک
ورته د بحیرې په غاړه ولاړ وو. ۳ هغوی ته یې په مثالونو کې ډېر شیان ووېل. هغه ووېل: «یو
بزګر د تخم شیندلو دپاره پټي ته لاړ. ۴ کله چې هغه په خپل پټي کې تخم شینده، نو یو څه تخم
ترې په لاره کې ولوېد او مرغان راغلل او هغه یې وخوړ. ۵ څه تخم په داسې ځمکه ولوېده
چې تیږې یې لرلې، نو هغه تخم زر راشین شو، ځکه چې خاوره یې کمه وه. ۶ خو کله چې لمر
راوخوت نو هغه بوټي وسوځېدل او وچ شول، ځکه چې ریښې یې ژورې نه وې. ۷ څه تخم په
اغزو کې ولوېد او اغزي لوی شول او بوټي یې لاندې کړل. ۸ خو نور تخم په حاصلخیزه خاوره
کې ولوېد او حاصل یې ورکړ، ځینو بوټو سل چنده، ځینو شپېته چنده او ځینو دېرش چنده حاصل
ورکړ. ۹ که څوک غوږونه لري، نو هغه دې واوري.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مثال مقصد

(مرقوس ۱۰:۴–۱۲ او لوقا ۹:۸، ۱۰)

۱۰ بيا شاګردان عيسی ته راغلل او پوښتنه يې ترې وکړه: «د هغوی سره ولې په مثالونو کې
خبرې کوې؟» ۱۱ عيسی په ځواب کې وويل: «تاسو ته د اسماني پاچاهی په پټو رازونو د
پوهېدلو دپاره پوهه درکړل شوې ده، خو هغوی ته نه ده ورکړل شوې. ۱۲ ځکه د چا سره چې
څه وي نو هغه ته به نور هم ورکړل شي، ترڅو د هغه سره نور هم پرېمانه شي. خو د چا سره چې
څه نه وي، نو څه چې ورسره وي هغه به هم ترې واخيستل شي. ۱۳ نو په دې خاطر د هغوی
سره په مثالونو کې خبرې کوم، ځکه چې هغوی ګوري خو نه يېويني، هغوی غوږ نيسي خو نه يې
اوري او نه پوهيږي. ۱۴ نو د اشعيا پيغمبر پېشګويي د هغوی په هکله پوره کيږي چې وايي:

تاسو به يې بيا بيا اورئ خو پوه به نه شئ، تاسو به ګورئ خو څه به نه وينئ، ۱۵ ځکه چې د دې
خلکو زړونه سخت شوي دي او په غوږو درانه دي. سترګې يې پټې شوې دي، که نه، نو سترګو به
يې ليدل، غوږونو به يې اورېدل، په زړونو کې به پوهېدل او ماته به بېرته راګرځېدلي وای او ما به
شفا ورکړې وای.

۱۶ خو ستاسو سترګې بختورې دي، ځکه چې ويني او غوږونه مو بختور دي ځکه چې اوري.
۱۷ په يقين سره زه تاسو ته دا وايم چې ډېرو پيغمبرانو او نېکو خلکو دا ارمان درلود چې هغه څه
ووينې چې تاسو يې وينئ، خو ويې نه ليدل او هغه څه واورې چې تاسو يې اورئ، خو هغوی وانه
ورېدل.

## د بزګر مثال

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(مرقوس ۱۳:۴-۲۰ او لوقا ۱۱:۸-۱۵)

۱۸ نو بیا د بزګر د مثال معنی واورئ: ۱۹ کله چې څوک د خدای د پاچاهۍ په هکله پیغام
واوري، خو ورباندې پوه نه شي نو هغه د داسې تخم په شان دی چې په لاره کې ولوېږي. شیطان
راشي او څه چې د هغوی په زړونو کې کرل شوي وي هغه وتښتوي. ۲۰ په تیږه لړونکې ځمکه
کې کرل شوی تخم د هغه چا په مثال دی چې پیغام واوري او سمدلاسه یې په خوشحالۍ سره قبول
کړي. ۲۱ خو څرنګه چې په هغوی کې یې ریښې نه وي نیولې، نو هغه د زیات وخت دپاره نه
پاتې کیږي. نو بیا کله چې د پیغام له املهورباندې سختې راشي یا وځورېږي، نو زر خپل ایمان له
لاسه ورکړي. ۲۲ په اغزو کې لوېدلې تخم د هغه چا په مثال دی چې پیغام اوري، خو د ژوند
اندېښنې او د شتمنۍ سره مینه د پیغام مخه نیسي او حاصل نه ورکوي. ۲۳ خو کوم تخم چې په
ښه خاوره کې کرل شوی وي هغه د هغه چا په مثال دی چې پیغام اوري او ورباندې پوهیږي او هغه
سل چنده او شپېته چنده او دېرش چنده حاصل هم ورکوي.»

## د جودرو مثال

۲۴ عیسی هغوی ته یو بل مثال راوړ: «اسماني پاچاهي د هغه سړي سره پرتله شوې ده چې په
خپل پټي کې یې ښه تخم وکرلو، ۲۵ خو یوه شپه کله چې ټول ویده وو، نو دښمن یې راغی او د
غنمو په منځ کې ورته جودر وشیندل او لاړ. ۲۶ کله چې غنم شنه شول او وږي یې ونیول، نو
جودر هم په کې راښکاره شول. ۲۷ نو د هغه زمیندار نوکران خپل بادار ته راغلل او ورته ویې
ویل: ‹ای باداره، ایا تا په خپل پټي کې ښه تخم نه ؤ کرلی؟ نو بیا دا جودر په کې له کومه شول؟›
۲۸ هغه ورته په ځواب کې وویل چې دا د دښمن کار دی. نوکرانو ورته وویل: ‹ایا مونږ لاړ شو
او هغه جودر وباسو؟› ۲۹ خو هغه ورته ځواب ورکړ چې نه، هسې نه چې د جودرو د ویستلو
سره غنم هم ورسره وباسئ. ۳۰ پرېږده چې دواړه یوځای لوی شي، نو د لو په وخت کې به لوګرو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته ووایم چې لومړی جودر راټول کړي او د سوځولو دپاره یې ګېډۍ کړي او بیا غنم راټول کړي او
زما ګودام ته یې راوړي.»

## د شړشمو د تخم مثال

(مرقوس ۴:۳۰–۳۲ او لوقا ۱۳:۱۸–۱۹)

۳۱ عیسی هغوی ته یو بل مثال هم راوړ او ویې ویل: «اسماني پاچاهي د شړشمو د تخم په شان
ده چې یو سړی هغه واخلي او په خپل پټي کې یې وکري. ۳۲ که څه هم دا تخم د نورو ټولو
تخمونو څخه ډېر وړوکی دی، خو کله چې وده وکړي، نو د باغ د ټولو بوټو څخه لوی شي او ونه
ترې جوړه شي، نو مرغان راشي او په څانګو کې یې ځالې جوړې کړي.»

## د خمیرې مثال

(لوقا ۱۳:۲۰–۲۱)

۳۳ عیسی هغوی ته بل مثال راوړ او ویې ویل: «اسماني پاچاهي د هغې خمیرې په شان ده چې
یوه ښځه هغه واخلي او د درې پیمانې اوړو سره یې ګډه کړي، ترڅو هغه ټول خمیره شي.»

## عیسی د مثالونو څخه کار اخلي

(لوقا ۱۳:۲۰–۲۱)

۳۴ عیسی دا ټول شیان خلکو ته په مثالونو کې بیانول او یوه خبره یې بې‌مثالونو نه کوله ۳۵
ترڅو د پیغمبر هغه پېشګویي رښتیا شي چې ویلي یې وو:

زه به په مثالونو کې خبرې وکړم او هغه شیان به بیان کړم چې د نړۍ د پیدایښت راهیسې پټ ساتل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوي دي.

## د جودرو د مثال روښانه کول

۳۶ بیا عیسی خلک رخصت کړل او خپله هم کور ته لاړ. شاګردان یې راغلل او ورته ویې ویل:
«مونږ ته د غنمو په پټي کې د جودرو د مثال معنی بیان کړه.» ۳۷ هغه ځواب ورکړ: «هغه څوک
چې ښه تخم کري، هغه د انسان زوی دی. ۳۸ پټی دا نړی ده، د ښه تخم معنی د اسماني پاچاهۍ
خلک دي او جودر د شیطان پیروان دي، ۳۹ او هغه دښمن چې جودر یې کرلي دي هغه شیطان
دی، د حاصل د راټولولو وخت اخره زمانه ده او لوګرې فرښتې دي. ۴۰ لکه څنګه چې جودر
راټولیږي او په اور کې سوځول کیږي، نو په اخره زمانه کې به همداسې وشي. ۴۱ د انسان زوی
به خپلې فرښتې راولیږي او د هغه د پاچاهۍ نه به هغه ټول خلک چې د خلکو د ګناه سبب کیږي
راټول کړي او همدارنګه هغه ټول خلک چې بدکاره دي ۴۲ او هغوی به په سور تنور کې واچوي
یعني هغه ځای ته چې هلته به خلک ژاړي او خپل غاښونه به چیچي. ۴۳ بیا به نیک خلک د
خپل پلار په پاچاهۍ کې لکه د لمر په شان ځلیږي. که څوک غوږونه لري، نو هغه دې واوري.

## د پټې خزانې مثال

۴۴ اسماني پاچاهي د هغې خزانې په شان ده چې په پټي کې پټه شوې وي او یو سړی هغه پیدا
کړي او بیرته یې ښخه کړي او د خوشحالۍ نه ځي او خپل ټول شیان خرڅوي او بیرته راځي او
هغه پټی اخلي.

## د مرغلرو مثال

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۵ په همدې ډول اسماني پاچاهي د هغه سوداګر په شان ده چې د قيمتي مرغلرو پسې ګرځي،
۴۶ چې کله يې ډېرې ارزښتناکې مرغلرې پيدا کړې، نو ځي او خپل ټول شيان خرڅوي او هغه
مرغلرې اخلي.

## د جال مثال

۴۷ همدارنګه اسماني پاچاهي د هغه جال په شان ده چې ماهيګيران هغه په بحيرې کې واچوي او
ډول ډول ماهيان ونيسي. ۴۸ کله چې جال د ماهيانو څخه ډک شو، نو غاړې ته يې راووېست او
بيا ورته کښېناستل او په دوه برخو يې ووېشل، ښه ماهيان يې په ټوکريو کې واچول او خراب يې
ايسته وغورځول. ۴۹ په اخره زمانه کې به همداسې وي. فرښتې به راشي او بدکاران به له نېکو
خلکو څخه بېل کړي، ۵۰ او هغوی به سور تنور ته وروغورځوي يعنې هغه ځای ته چې هلته به
خلک ژاړي او خپل غاښونه به چيچي.»

## د نويو او زړو شيانو په هکله تعليم

۵۱ عيسی د شاګردانو څخه پوښتنه وکړه: «ايا تاسو په دې ټولو شيانو پوهېږئ؟» هغوی ووېل:
«هو.» ۵۲ عيسی هغوی ته ووېل: «د شريعت هر ښوونکی چې د اسمان په پاچاهۍ کې شاګرد
شي، نو هغه د هغه کور د خاوند په شان دی چې د خپل ګودام څخه نوي او زاړه شيان راوباسي.»

## د ناصرې خلک عيسی نه مني

(مرقوس ۶:۱-۶ او لوقا ۴:۱۶-۳۰)

۵۳ کله چې عيسی دا مثالونه پای ته ورسول، نو د هغه ځای څخه روان شو ۵۴ او خپل وطن
ته راغی او هلته په کنيسه کې يې خلکو ته داسې تعليم ورکاوه چې ټول حيران شول او يو بل ته يې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره وويل: «دې سړي دا حکمت او د دې معجزو د ښودلو قدرت له کوم ځايه پيدا کړی دی؟ ۵۵
ايا هغه د نجار زوی نه دی؟ ايا د مور نوم يې مريم نه دی؟ ايا يعقوب، يوسف، شمعون او يهودا د
هغه ورونه نه دي؟ ۵۶ ايا د هغه ټولې خويندې دلته زمونږ سره نه اوسيږي؟ نو بيا دا ټولې خبرې
هغه له کوم ځای نه زده کړي دي؟» ۵۷ نو هغوی عيسی قبول نه کړ. خو عيسی هغوی ته وويل:
«د يو پيغمبر په هرځای کې درناوی کيږي، خو په خپل وطن او خپله کورنۍ کې نه کيږي.» ۵۸
عيسی د هغوی د بې‌ايمانۍ له امله په هغه ځای کې ډېرې معجزې ونه ښودلې.

## د تعميد غسل ورکوونکي يحيی مرګ

(مرقوس ۶:۱۴-۲۹ او لوقا ۹:۷-۹)

۱۴ ۱ په دې وخت کې د جليل والي هيروديس د عيسی د کارونو څخه خبر شو. ۲ نو
خپلو کسانو ته يې وويل: «دا سړی هماغه تعميد ورکوونکی يحيی دی. هغه بېرته د مرګ نه
راژوندی شوی دی، نو له دې امله هغه دا قدرت لري چې معجزې وښايي.» ۳ هيروديس د خپل
ورور فيليپوس د ښځې هيروديا په خاطر يحيی نيولی ؤ، په زنځيرونو يې تړلی ؤ او په زندان کې يې
اچولی ؤ. ۴ ځکه چې تعميد ورکوونکي يحيی هيروديس ته ويلي وو: «تاته روا نه ده چې د
خپل ورور د ښځې هيروديا سره واده وکړې.» ۵ هيروديس غوښتل چې هغه مړ کړي، خو د
خلکو څخه وېرېده، ځکه چې خلکو هغه پيغمبر ګڼلو. ۶ خو د هيروديس د زېږېدنې په مېلمستيا
کې د هيروديا لور د مېلمنو په مخکې داسې نڅا وکړه چې هيروديس دومره خوشحاله شو، ۷
چې قسم يې وخوړ چې هغه ترې هرڅه وغواړي نو ورته به يې ورکړي. ۸ هغې د خپلې مور په
لمسون وويل: «د تعميد غسل ورکوونکي يحيی سر راته په پتنوس کې راکړه.» ۹ پاچا د خپلې
خبرې څخه پښېمانه شو، خو هغه د خپل قسم په خاطر چې د مېلمنو په مخکې يې خوړلی ؤ، خپلو
کسانو ته حکم وکړ چې د هغې غوښتنه دې پوره کړای شي. ۱۰ هغه خپل کسان ولېږل او په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زندان کې يې د يحيی سر پرې کړ. ۱۱ نو د هغه سر يې په يو پتنوس کې راوړ او هغې انجلۍ ته
يې ورکړ او هغې خپلې مور ته يووړ. ۱۲ بيا د يحيی شاګردان راغلل او د هغه مړی يې يووړ او
ښخ يې کړ. هغوی لاړل او عيسی يې خبر کړ.

## عيسی پنځه زره کسانو ته ډوډۍ ورکوي

(مرقوس ۳۰:۶-۴۴ او لوقا ۱۰:۹-۱۷ او يوحنا ۱:۶-۱۴)

۱۳ کله چې عيسی د يحيی په هکله دا خبر واورېد، نو د هغه ځای څخه په کشتۍ کې يو ګوښه
ځای ته يوازې لاړ. خو کله چې خلک خبر شول، نو د خپلو ښارونو څخه د وچې لارې نه په هغه
پسې لاړل. ۱۴ کله چې عيسی د کشتۍ څخه راښکته شو د خلکو يوه لويه ګڼه‌ګوڼه يې وليدله، نو
زړه يې ورباندې وسوځېد او د هغوی ناروغان يې روغ کړل.

۱۵ کله چې ماښام شو، شاګردان يې ورته راغلل او ورته يې ويل: «دا ځای خوشې دښته ده او ډېره
ناوخته شوې ده، خلک کليو ته ولېږه چې خپلو ځانونو ته د خوړلو دپاره کوم څه واخلي.» ۱۶
عيسی وويل: «د دوی تګ ته اړتيا نشته، تاسو خپله هغوی ته کوم څه ورکړئ چې ويې خوري.»
۱۷ هغوی ځواب ورکړ: «زمونږ سره يوازې پنځه ډوډۍ او دوه ماهيان دي.» ۱۸ عيسی وويل:
«هغه ماته راوړئ.» ۱۹ بيا هغه خلکو ته حکم وکړ چې په واښو باندې کښېني. بيا يې هغه پنځه
ډوډۍ او دوه ماهيان راواخيستل، اسمان ته يې وکتل، د خدای شکر يې وويست او ډوډۍ يې ماتې
کړې، هغه يې شاګردانو ته ورکړې او شاګردانو هغه په خلکو باندې ووېشلې. ۲۰ هغوی ټولو
وخوړل او ماړه شول او څه چې ترې پاتې شوي وو، شاګردانو هغه راټول کړل او دولس ټوکرۍ
ترې ډکې شوې. ۲۱ د هغو خلکو شمېر چې ډوډۍ يې وخوړله پنځه زرو تنو ته رسېده چې په
هغو کې ښځې او ماشومان شمېرل شوي نه وو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسی د اوبو دپاسه ګرځي

(مرقوس ۶:۴۵-۵۲ او یوحنا ۶:۱۵-۲۱)

۲۲ بیا عیسی خپل شاګردان مجبور کړل چې کشتۍ ته وخېژي او د ده څخه مخکې د بحیرې بلې
غاړې ته لاړ شي او له هغې وروسته یې خلک رخصت کړل. ۲۳ چې کله یې خلک رخصت کړل،
نو خپله یو غره ته لاړ چې یوازې دعا وکړي او تر ماښامه پورې هلته یوازې پاتې ؤ. ۲۴ په دې
وخت کې کشتۍ د وچې څخه لرې وه او د څپو له امله یې ټکانونه خوړل، ځکه چې باد ورته
مخامخ لګېده.

۲۵ سهار وختي چې لا تیاره وه، عیسی په داسې حال کې چې د اوبو دپاسه ګرځېده، شاګردانو ته
ورغی. ۲۶ خو کله چې شاګردانو ولیدل چې هغه د اوبو دپاسه روان دی، نو وویرېدل او ویې ویل:
«دا د مړي ارواح ده.» نو د وېرې له لاسه یې چیغې ووهلې. ۲۷ خو عیسی سمدلاسه د هغوی
سره خبرې وکړې او ویې ویل: «زړور اوسئ. زه یم، مه وېرېږئ.» ۲۸ پطروس وویل: «ای
استاذه! که چېرې دا ته یې، نو ماته امر وکړه چې زه هم د اوبو دپاسه درشم.» ۲۹ عیسی وویل:
«راشه.» نو پطروس د کشتۍ څخه ښکته شو او د اوبو دپاسه د عیسی خواته روان شو. ۳۰ خو
کله چې هغه ولیدل چې خومره زورور باد لګېږي، نو وویرېده او کله چې په اوبو کې ډوبېده، نو
چیغې یې ووهلې: «استاذه! ما وژغوره.» ۳۱ عیسی سمدلاسه خپل لاس ور اوږد کړ او هغه یې
راونیوه او ورته ویې ویل: «ستا ایمان څومره کمزوری دی. ولې دې شک وکړ؟» ۳۲ کله چې
هغوی په کشتۍ کې سپاره شول، باد ودرېده. ۳۳ نو په کشتۍ کې ناست کسان هغه ته په سجده
شول او ویې ویل: «ته په رښتیا د خدای زوی یې.»

## په جنیسارت کې د ناروغانو جوړول

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(مرقوس ۶:۵۳-۵۶)

۳۴ هغوی د بحیرې څخه پورې وتل او د جنیسارت سیمې ته ورسېدل. ۳۵ کله چې د هغه
ځای خلکو عیسی وپېژانده، نو هغوی شاوخوا ټولو سیمو ته خبر ورکړ او خلکو خپل ټول ناروغان
عیسی ته راوستل. ۳۶ هغه ته یې سوال وکړ چې د دوی ناروغانو ته دومره اجازه ورکړي چې
یوازې د هغه لمنې ته لاس وروړي او هرچا چې ورته لاس وروړ، نو هغوی به بیخي روغېدل.

## د خدای حکمونه او انساني رواجونه

(مرقوس ۷:۱-۱۳)

۱۵ ۱ وروسته ځینې فریسیان او د شریعت عالمان د اورشلیم څخه عیسی ته راغلل او د هغه
څخه یې پوښتنه وکړه: ۲ «ستا شاګردان ولې زمونږ د نیکونو په رواجونو عمل نه کوي او د
ډوډۍ خوړلو څخه مخکې خپل لاسونه نه وینځي؟» ۳ عیسی په ځواب کې وویل: «تاسو ولې د
خپل رواج په خاطر د خدای حکم ماتوئ؟ ۴ ځکه چې خدای حکم کړی دی: ‹د خپل مور او
پلار عزت کوه او هرڅوک چې خپل مور او پلار ته ښکنځلې وکړي، باید ووژل شي.› ۵ خو
تاسو وایئ، که چېرې څوک خپل مور او پلار ته ووایي چې زه تاسو سره مرسته نه شم کولای،
ځکه هغه څه چې ما کولای شول تاسو ته یې درکړم، هغه مې خدای ته نذرانه کړل. ۶ نو هغه
نور مجبور نه دی چې د خپل مور او پلار درناوی وکړي. په دې ډول تاسو د خپل دود او دستور په
خاطر د خدای حکم بې‌ارزښته ګڼئ. ۷ ای منافقانو، اشعیا نبي په حقه ؤ چې ستاسو په هکله یې
پېشګویي وکړه چې خدای وایي:

۸ دا خلک په خوله زما عزت کوي، خو زړونه یې په بل ځای کې دي. ۹ د هغوی عبادت
ګټه نه لري ځکه چې هغوی د خدای د حکمونو په ځای د انساني حکمونو تعلیم ورکوي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## هغه شيان چې انسان ناپاکه کوي

(مرقوس ۷:۱۴–۲۳)

۱۰ بيا عيسی خلک راوغوښتل او ورته ويې ويل: «زما خبرو ته غوږ ونيسئ او ځان ورباندې پوه
کړئ. ۱۱ انسان چې څه خوري او څه څښي په هغو باندې نه ناپاکه کيږي، خو کومه خبره چې د
هغه د خولې څخه راوځي په هغې ناپاکه کيږي.»

۱۲ بيا شاګردان عيسی ته راغلل او ورته ويې ويل: «ايا ته پوهيږې چې فريسيان ستا په خبرو
خفه شول؟» ۱۳ عيسی ځواب ورکړ: «هر نيالګی چې زمونږ اسماني پلار نه وي کرلی هغه به له
بېخه وويستل شي. ۱۴ نو د هغوی پروا مه کوئ. دوی داسېړانده دي چې نورو ړندو ته لاره
ښايي. کله چې يو ړوند بل ړوند ته لاره ښايي، نو دواړه په کنده کې غورځيږي.»

۱۵ بيا پطروس عيسی ته وويل: «مونږ ته د دې مثال معنی ووايه.» ۱۶ عيسی پوښتنه وکړه: «ايا
تاسو هم لا تراوسه په دې شيانو نه پوهيږئ؟ ۱۷ ايا تاسو نه پوهيږئ چې کوم شی چې خولې ته
ننوځي هغه خېټې ته ځي او وروسته بيا د بدن څخه وځي؟ ۱۸ خو څه چې د خولې څخه راوځي
هغه د زړه څخه راځي او په هغو باندې انسان ناپاکه کيږي. ۱۹ ځکه چې خراب خيالونه، قتل،
زناکاري، جنسي بداخلاقي، غلا، د دروغو شهادت او تهمت د زړه نه راوځي. ۲۰ دا هغه شيان دي
چې انسان ناپاکه کوي، خو په ناپاکو لاسونو باندې خوراک کول انسان نه ناپاکه کوي.»

## د يوې کنعانۍ ښځې ايمان

(مرقوس ۷:۲۴–۳۰)

۲۱ بيا عيسی هغه ځای پرېښود او د صور او صيدون سيمو ته لاړ. ۲۲ يوه کنعاني ښځه چې د
هغه ځای اوسېدونکې وه هغه ته راغله او په چيغو چيغو يې ورته وويل: «ای ښاغليه! ای د داود

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زویه! په ما باندې رحم وکړه. زما لور پېریانو نیولې ده او په سخت حالت کې ده.» ۲۳ خو عیسی
ورته هېڅ ځواب ورنه کړ. شاګردان یې راغلل او زاري یې ورته وکړه او ویې ویل: «دا ښځه وشړه،
ځکه چې هغه مونږ پسې چیغې وهي.» ۲۴ بیا عیسی په ځواب کې وویل: «زه یوازې د اسراییلو د
قوم د ورک شویو پسونو دپاره رالیږل شوی یم.» ۲۵ خو هغه ښځه راغله او د عیسی په پښو کې
پرېوتله او ویې ویل: «ښاغلیه، زما سره مرسته وکړه.» ۲۶ عیسی په ځواب کې وویل: «دا سمه نه
ده چې خوک دې د ماشوم ډوډۍ واخلي او سپیانو ته یې واچوي.» ۲۷ هغې ښځې وویل: «رښتیا
ده ښاغلیه! خو سپي هم هغه پاتې شوې ډوډۍ خوري چې د خاوند د دسترخوان څخه یې
وغورځیږي.» ۲۸ بیا عیسی هغې ته په ځواب کې وویل: «ای ښځې، ستا ایمان ډېر قوي دی!
څنګه چې ته غواړې هماغسې دې وشي.» او په هماغه ساعت د هغې لور روغه شوه.

## عیسی ډېرو خلکو ته شفا ورکوي

۲۹ عیسی د هغه ځای څخه روان شو او د جلیل د بحیرې په غاړه تېر شو او غره ته وخوت او
هلته کښېناست. ۳۰ ډېر خلک ورته راغلل او ګوډان، ړانده، شلان، ګونګیان او نور ډېر ناروغان
یې ورته راوستل او د هغه پښو ته به یې کښېښول او هغه به روغول. ۳۱ کله چې خلکو ولیدل چې
ګونګیانو خبرې وکړلې، شلان ټول روغ شول، ګوډان وګرځېدل او ړانده بینا شول، نو حیران شول او
د اسراییلو د خدای ثنا او صفت یې وکړ.

## عیسی څلور زره کسانو ته ډوډۍ ورکوي

(مرقوس ۸:۱-۱۰)

۳۲ عیسی خپل شاګردان راوغوښتل او ورته ویې ویل: «په دې خلکو باندې زما زړه سوځي،
ځکه چې درې ورځې کیږي چې هغوی زما سره دي او هېڅ شی ورسره نشته چې ویې خوري. زه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه غواړم چې هغوی وږي رخصت کړم، هسې نه چې په لاره کې بې‌حاله شي.» ۳۳ شاګردانو په
ځواب کې وویل: «په دې دښته کې دومره خلکو ته موږ ډوډۍ له کومه کړو چې ماړه یې کړو؟»
۳۴ عیسی هغوی ته وویل: «تاسو سره څو ډوډۍ دي؟» هغوی وویل: «اووه ډوډۍ او یو څو واړه
ماهیان.» ۳۵ نو عیسی خلکو ته وویل چې په ځمکه کښېني. ۳۶ بیا هغه اووه ډوډۍ او ماهیان
راواخیستل، د خدای شکر یې وویست، هغه یې ماتې کړې او شاګردانو ته یې ورکړلې او شاګردانو
هغه خلکو ته ورکړلې. ۳۷ هغوی ټولو وخوړل او ماړه شول او د ډوډیو د پاتې شویو ټوټو څخه
اووه ټوکرۍ ډکې شوې. ۳۸ هغو خلکو چې ډوډۍ یې وخوړه د هغو شمېر څلور زرو تنو ته
رسېده چې په هغو کې ښځې او ماشومان نه وو حساب شوي. ۳۹ بیا عیسی خلک رخصت کړل
او خپله په کشتۍ کې سپور شو او د مجدن سیمې ته لاړ.

## فریسیان او صدوقیان معجزه غواړي

(مرقوس ۸:۱۱–۱۳ او لوقا ۱۲:۵۴–۵۶)

۱۶ ۱ فریسیان او صدوقیان عیسی ته راغلل چې هغه وازمايي، نو د هغه نه یې وغوښتل چې
دوی ته یوه اسماني معجزه وښایي. ۲ عیسی په ځواب کې وویل: «کله چې ماښام شي، نو تاسو
وایئ چې هوا به ښه وي، ځکه چې اسمان سور دی ۳ او د سهار په وخت کې کله چې اسمان
سور او په ورېځو کې پټ وي، نو تاسو وایئ چې نن به باران وشي. تاسو اسمان ته په کتلو سره
کولای شئ چې د هوا د حالت پېشګویي وکړئ، خو د دې زماني د نښو په معنی نه پوهېږئ. ۴
د دې زماني بدکاره او بې‌ایمانه خلک معجزه غواړي، خو یوازېنۍ معجزه چې هغوی ته به وښودل
شي هغه د یونس نبي معجزه ده.» بیا عیسی هغوی پرېښودل او لاړ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د فریسیانو او صدوقیانو خمیره

(مرقوس ۸:۱۴-۲۱)

۵ کله چې شاګردان د بحیرې بلې غاړې ته پورې وتل، نو دا یې هېر کړل چې د ځان سره ډوډۍ
یوسي. ۶ عیسی هغوی ته وویل: «پام کوئ چې د فریسیانو او صدوقیانو د خمیرې نه به ځانونه
ساتئ.» ۷ هغوی په خپل منځ کې سره بحث پیل کړ او ویې ویل: «هغه ځکه دا خبره کوي چې
مونږ ډوډۍ نه ده راوړې.» ۸ عیسی پوه شو چې هغوی څه وایي، نو پوښتنه یې ترې وکړه:
«ستاسو ایمان څومره کمزوری دی، ولې په دې هکله بحث کوئ چې ډوډۍ درسره نشته؟ ۹
تاسو لا تراوسه هم نه پوهېږئ؟ ایا هغه پنځه ډوډۍ او پنځه زره کسان مو په یاد نه دي چې د پاتې
شویو ډوډیو څخه مو څو ټوکرۍ ډکې کړې؟ ۱۰ یا هغه اووه ډوډۍ د څلور زرو تنو دپاره او دا
چې د هغو څخه مو څو ټوکرۍ ډکې کړې؟ ۱۱ تاسو څنګه په دې پوه نه شوئ چې ما د ډوډۍ په
هکله خبرې نه کولې؟ بلکې ما تاسو ته ویلي وو چې د فریسیانو او صدوقیانو د خمیرې څخه
ځانونه ساتئ.» ۱۲ بیا شاګردان پوه شول چې عیسی هغوی ته دا نه وو ویلي چې د هغې خمیرې
نه ځانونه وساتئ چې په ډوډۍ کې ترې کار اخیستل کیږي بلکې د فریسیانو او صدوقیانو د تعلیم
څخه ځان ساتل ؤ.

## د مسیح په هکله د پطروس اقرار

(مرقوس ۸:۲۷-۳۰ او لوقا ۹:۱۸-۲۱)

۱۳ کله چې عیسی د فیلیپوس د قیصریې سیمې ته ورسېده، نو د خپلو شاګردانو څخه یې پوښتنه
وکړه: «خلک څه وایي چې د انسان زوی څوک دی؟» ۱۴ هغوی ځواب ورکړ: «ځینې وایي چې
تعمید ورکوونکی یحیی دی، ځینې وایي چې الیاس نبي دی او نور وایي چې ارمیا نبي یا کوم بل
پیغمبر دی.» ۱۵ عیسی پوښتنه وکړه: «تاسو څه وایئ چې زه څوک یم؟» ۱۶ شمعون پطروس

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځواب ورکړ: «ته مسیح، د ژوندي خدای زوی یې.» ۱۷ عیسی وویل: «ای د یوحنا زویه شمعونه!
ته بختور یې. ځکه چې دا درته انسان نه دي ښودلي بلکې زما اسماني پلار درته ښکاره کړي دي.
۱۸ خو زه تاته وایم چې ته پطروس یې چې معنی یې تیږه ده او زه به دې تیږې باندې خپله
کلیسا جوړوم او حتی مرګ هم دومره قدرت نه لري چې په هغې باندې بریالی شي. ۱۹ زه به تاته
د اسماني پاچاهۍ کیلي ګانې درکړم، هرڅه چې ته د ځمکې په مخ ناروا وګڼې، نو په اسمان کې به
هم ناروا وګڼل شي او هرڅه چې د ځمکې په مخ روا وګڼې، نو په اسمان کې به هم روا وګڼل شي.»
۲۰ بیا عیسی خپلو شاګردانو ته په کلکه امر وکړ چې هېچا ته ونه وایئ چې هغه مسیح دی.

## عیسی د خپلو کړاوونو او مړینې په هکله پېشګویي کوي

(مرقوس ۸:۳۱ – ۹:۱ او لوقا ۹:۲۲–۲۷)

۲۱ د هغه وخت نه عیسی خپلو شاګردانو ته په ښکاره ویل چې هغه باید اورشلیم ته لاړ شي او
هلته به د قوم د مشرانو، مشرانو کاهنانو او د شریعت د عالمانو له خوا کړاوونه ووینې او وبه وژل
شي او په درېمه ورځ به بیا راژوندی شي. ۲۲ بیا پطروس هغه له لاسه ونیوه او ګوښه یې کړ او د
هغه په خبرو یې نیوکه وکړه چې داسې خبرې ونه کړې: «خدای دې نه کړي استاذه! په تا دې
هېڅکله داسې ونه شي.» ۲۳ بیا عیسی پطروس ته مخ راواړاوه او ورته ویې ویل: «زما د مخې نه
لیرې شه شیطانه! ته زما د لارې خنډ یې، ځکه چې ته د انسانانو په شان فکر کوې، نه د خدای په
شان.»

۲۴ بیا عیسی خپلو شاګردانو ته وویل: «که څوک غواړي چې زما د پیروانو څخه اوسي، نو باید د
خپل ځان څخه تېر شي، خپل صلیب دې راواخلي او ما پسې دې راځي. ۲۵ ځکه هرڅوک چې
وغواړي خپل ځان وساتي، نو هغه به یې له لاسه ورکړي او څوک چې زما په خاطر خپل ژوند له
لاسه ورکړي نو هغه به رښتینی ژوند ترلاسه کړي. ۲۶ د یو چا دپاره به څه ګټه وي چې ټوله

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نړۍ لاسته راوړي خو خپل ځان له لاسه ورکړي؟ او یا د خپل ژوند په بدل کې هغه څه شی
ورکولای شي؟ ۲۷ ځکه چې د انسان زوی به د خپل پلار په جلال کې د خپلو فرښتو سره راځي
او بیا به هرچا ته د هغه د عمل له مخې بدل ورکوي. ۲۸ په یقین سره زه تاسو ته دا وایم چې دلته
ځینې داسې خلک ولاړ دي چې تر هغې پورې به مړه نه شي، ترڅو یې د انسان د زوی پاچاهي نه
وي لیدلې.»

## د عیسی د څېرې بدلېدل

(مرقوس ۹:۲–۱۳ او لوقا ۹:۲۸–۳۶)

۱۷ ۱ شپږ ورځې وروسته عیسی پطروس، یعقوب او د یعقوب ورور یوحنا د ځان سره
واخیستل او یو لوړ غره ته یې بوتلل چې هلته یوازې اوسي. ۲ د هغوی په مخکې د هغه څېره
بدله شوه او مخ یې لکه د لمر په شان ځلېده او کالي یې د رڼا په شان سپین شول. ۳ بیا ناڅاپه
شاګردانو ته موسی او الیاس ښکاره شول چې د عیسی سره یې خبرې کولې. ۴ نو پطروس
عیسی ته وویل: «استاذه! څومره ښه ده چې موږ دلته یو. که ته غواړې نو زه به دلته درې خېمې
جوړې کړم، یوه تاته، یوه موسی ته او یوه الیاس ته.» ۵ هغه لا خبرې کولې چې یوه سپینه وريځ
راخپره شوه او په هغوی باندې یې سیوری وکړ او د وريځې څخه یو اواز راغی او ویل یې: «دا زما
ګران زوی دی چې زه ترې خوشحاله یم. هغه ته غوږ ونیسئ.» ۶ کله چې شاګردانو دا واورېدل،
نو له ډېرې وېرې په ځمکه پړمخې پرېوتل. ۷ بیا عیسی هغوی ته ورغی او په هغوی باندې یې
لاس کېښود او ورته یې ویل: «پاڅېږئ، مه وېرېږئ.» ۸ کله چې شاګردانو خپلې سترګې
خلاصې کړې نو پرته له عیسی یې بل هېڅوک هلته ونه لیده.

۹ کله چې هغوی د غره څخه راښکته کېدل، نو عیسی هغوی ته امر وکړ: «څه چې مو لیدلي دي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغو په هکله تر هغه وخته پورې چاته څه مه وایئ ترڅو پورې چې د انسان زوی بېرته د مړو
څخه راژوندی شوی نه وي.» ۱۰ شاګردانو د عیسی نه پوښتنه وکړه: «بیا د شریعت عالمان ولې
وايي چې لومړی باید الیاس راشي؟» ۱۱ عیسی ځواب ورکړ: «دا رښتیا ده چې لومړی به الیاس
راځي او هرڅه به سم کړي. ۱۲ خو زه تاسو ته وایم چې الیاس لا پخوا راغلی دی، خو خلکو
هغه ونه پېژانده او هرڅه چې دوی غوښتل د هغه سره یې وکړل. په همدې ډول به د انسان زوی هم
د هغوی د لاسه وکړېږي.» ۱۳ بیا شاګردان پوه شول چې هغه ورته د تعمید غسل ورکوونکي
یحیی په هکله خبرې کولې.

## عیسی یو هلک ته چې پېریانو نیولی ؤ، شفا ورکوي

(مرقوس ۹:۱۴–۲۹ او لوقا ۹:۳۷–۴۳)

۱۴ کله چې عیسی او شاګردان یې بېرته خلکو ته راغلل، نو یو سړی عیسی ته راغی، د هغه په
مخکې په ګونډو شو ۱۵ او ویې ویل: «ای ښاغلیه! زما په زوی باندې رحم وکړه. په هغه باندې
مېرګي راځي او داسې سختې حملې ورباندې راځي چې اکثره وختونه هغه په اور یا اوبو کې
غورځېږي. ۱۶ هغه مې ستا شاګردانو ته راوست، خو ویې نه شو کولای چې هغه روغ کړي.»
۱۷ عیسی په ځواب کې وویل: «ای د دې زمانې بې‌ایمانه او بې‌لارې خلکو، ترڅو پورې به زه
ستاسو سره یم؟ ترڅو پورې به تاسو ته حوصله کوم؟ هغه هلک دلته ماته راولئ.» ۱۸ عیسی هغه
پېري ته په کلکه امر وکړ، نو هغه د هلک څخه راووت او په هماغه ساعت هلک روغ شو.

۱۹ بیا شاګردان عیسی ته راغلل او کله چې هغوی یوازې وو نو پوښتنه یې ترې وکړه: «مونږ ولې
ونه شو کولای چې هغه پېری وباسو؟» ۲۰ هغه ورته وویل: «ځکه چې ستاسو ایمان کمزوری
دی. په یقین سره زه تاسو ته دا وایم چې که چېرې تاسو د شړشمو د دانې په اندازه ایمان هم ولرئ،
نو کولای شئ دې غره ته ووایئ چې د دې ځای څخه هغه ځای ته لاړ شه، نو هغه به لاړ شي او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هيڅ کار به ستاسو دپاره ناشونی نه وي. [ ۲۱ دا ډول پېريان يوازې په دعا کولو او د روژې په
نيولو سره کېدای شي وويستل شي.]»

## عيسی يوځل بيا د خپل مرګ په هکله خبرې کوي

(مرقوس ۹:۳۰–۳۲ او لوقا ۹:۴۳–۴۵)

۲۲ کله چې ټول شاګردان په جليل کې سره يوځای شول نو عيسی ورته وويل: «د انسان زوی به
خلکو ته په لاس ورکړل شي ۲۳ او هغوی به يې ووژني. خو په درېمه ورځ به بيا راژوندی شي.»
د دې خبرې په اورېدلو شاګردان ډېر غمجن شول.

## د خدای د کور ماليه ورکول

۲۴ کله چې عيسی او شاګردان يې کپرناحوم ته راغلل، نو د خدای د کور دپاره د ماليې
راټولوونکي پطروس ته راغلل او پوښتنه يې ترې وکړه: «ايا ستا استاذ د خدای د کور ماليه
ورکوي؟» ۲۵ پطروس وويل: «هو، هغه يې ورکوي.» کله چې پطروس کور ته لاړ، نو مخکې له
دې چې څه ووايي، عيسی ورته وويل: «ای شمعونه، ته څه فکر کوې د نړۍ پاچاهان د چا څخه
محصول او ماليه اخلي؟ د خپلو خلکو څخه يا د پرديو څخه؟» ۲۶ پطروس ځواب ورکړ: «د
پرديو څخه.» عيسی وويل: «نو بيا د دوی خپل خلک د ماليې ورکولو څخه معاف دي. ۲۷ خو
مونږ نه غواړو چې دا خلک خفه کړو. نو لاړ شه، په بحيرې کې چنګک واچوه او کوم ماهي چې
دې اول ونيوه هغه راوباسه او د هغه خوله خلاصه کړه، نو د سپينو زرو يوه سکه به په کې پيدا کړې.
هغه واخله او د هغې څخه زما او ستا دواړو ماليه ورکړه.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ټولو نه لوی څوک دی؟

(مرقوس ۹:۳۳–۳۷ او لوقا ۹:۴۶–۴۸)

۱۸ ۱ په دې وخت کې شاګردان عیسی ته راغلل او پوښتنه یې ترې وکړه: «په اسماني
پاچاهۍ کې د ټولو نه لوی څوک دی؟» ۲ عیسی یو ماشوم راوغوښت او د خلکو په منځ کې یې
ودراوه، ۳ او ویې ویل: «په یقین سره زه تاسو ته دا وایم چې ترڅو پورې چې تاسو په خپل
ځان کې بدلون رانه ولئ او د ماشومانو په شان نه شئ، نو هېڅکله به هم اسماني پاچاهۍ ته وردننه
نه شئ. ۴ هرڅوک چې خپل ځان د دې ماشوم په شان عاجز کړي، نو په اسماني پاچاهۍ کې به
د ټولو نه لوی وي ۵ او هرڅوک چې داسې یو ماشوم زما په نوم ومني، نو هغه ما مني.

## د نورو د وسوسو سبب مه کېږئ

(مرقوس ۹:۴۲–۴۸ او لوقا ۱۷:۱، ۲)

۶ خو هر هغه څوک چې د دې خلکو څخه چې د ماشوم په شان په ما باندې ایمان لري، د کوم
یو د ګناهکارېدلو سبب شي، نو د هغه دپاره به دا ښه وي چې په خپله غاړه کې د ژرندې یو لوی
پل واچوي او په یو ژورې بحیرې کې ډوب شي. ۷ افسوس دې وي په دې نړۍ چې د داسې
وسوسو سبب ګرځي. دا وسوسې به خامخا راځي خو افسوس د هغه چا په حال چې د دې وسوسو
سبب ګرځي.

۸ که چېرې ستا لاس یا پښه ستا د ګناه سبب ګرځي، نو هغه پرې کړه او لېرې یې وغورځوه،
ځکه چې ستا دپاره به دا ښه وي چې د یو لاس او یوې پښې سره تلپاتې ژوندون ته لاره پیدا
کړې، نه دا چې په دواړو لاسو او پښو روغ یې او تلپاتې اور ته واچول شې. ۹ او که چېرې ستا
سترګه ستا د ګناه سبب وګرځي، نو هغه وباسه او لېرې یې وغورځوه، ځکه چې ستا دپاره به دا ښه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وي چې د یوې سترګې سره تلپاتې ژوندون ومومې، نه دا چې د دواړو سترګو سره د دوزخ اور ته
وغورځول شې.

## د ورک شوي پسه مثال

(لوقا ۱۵:۳–۷)

۱۰ ګورئ، په دې خلکو کې چې د ماشومانو په شان په ما باندې ایمان لري، یو ته هم په سپکه
سترګه مه ګورئ. زه تاسو ته وایم چې د هغوی فرښتې په اسمان کې تل زما د اسماني پلار په
حضور کې حاضرې وي. [ ۱۱ ځکه چې د انسان زوی راغلی دی چې ورک شوي وژغوري.]

۱۲ تاسو څه فکر کوئ؟ فرض کړئ یو سړی سل پسونه لري او د هغو څخه یو ورک شي، نو هغه
به څه کوي؟ ایا هغه به دا نهه نوي پسونه د غونډیو په لمنو کې پرېږدي او د هغه ورک شوي پسه د
لټولو دپاره به لاړ نه شي؟ ۱۳ کله چې هغه پیدا کړي، نو په یقین سره زه تاسو ته دا وایم چې هغه
سړی به د هغو نهه نوي پسونو څخه چې ورک شوي نه دي په هغه یو باندې ډېر خوشحاله شي.
۱۴ نو په دې ډول ستاسو اسماني پلار نه غواړي چې د دې خلکو څخه چې د ماشومانو په شان
په ما باندې ایمان لري، یو هم له منځه لاړ شي.

## کله چې یو ایماندار ګناه کوي

۱۵ که چېرې ستا ورور ستا په وړاندې کومه بدي وکړي، نو ورشه او خپله غلطي یې ورته وښایه
او دا خبره دې یوازې ستا او د هغه ترمنځ وي. که هغه خپله غلطي ومني، نو ورور به دې بېرته خپل
کړې. ۱۶ خو که چېرې هغه ستا خبرو ته غوږ ونه نیسي، نو بیا یو یا دوه نور کسان د ځان سره
بوځه، ترڅو څه چې ته وایې هغه د دوو یا درېو شاهدانو له خوا تایید شي. ۱۷ که چېرې هغه د
هغوی خبره هم ونه مني، نو موضوع کلیسا ته وړاندې کړه او که د کلیسا خبره هم ونه مني، نو بیا د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه سره داسې چلند وکړه لکه چې د يو کافر يا ماليه ټولوونکي سره کيږي.

۱۸ په يقين سره زه تاسو ته دا وايم هرڅه چې تاسو د ځمکې په مخ ناروا وګڼئ، نو په اسمان کې
به هم ناروا وګڼل شي او هرڅه چې د ځمکې په مخ روا وګڼئ، نو په اسمان کې به هم روا وګڼل
شي. ۱۹ په يقين سره زه تاسو ته نور څه هم وايم: که چېرې په تاسو کې دلته د ځمکې په مخ دوه
تنه د کوم شي په هکله په يو زړه خدای ته سوال وکړي، نو زما اسماني پلار به يې قبول کړي. ۲۰
ځکه په هرځای کې که دوه يا درې تنه زما په نوم سره راټول شي، نو زه د هغوی په منځ کې حاضر
يم.»

## د نورو د بخښلو په هکله د عيسی تعليم

۲۱ بيا پطروس عيسی ته راغی او پوښتنه يې ترې وکړه: «استاذه! که زما ورور زما سره کومه بدي
وکړي، هغه څو ځلې وبخښم؟ ايا اووه ځلې؟» ۲۲ عيسی ځواب ورکړ: «زه نه وايم چې اووه ځلې
بلکې اووه وارې اويا ځلې. ۲۳ ځکه چې اسماني پاچاهي د هغه پاچا په شان ده چې ويې غوښتل
د خپلو خدمتګارانو سره حساب وکړي. ۲۴ چې کله يې حساب پيل کړ، نو يو سړی يې ورته
راوست چې په لکونو پيسې د هغه پوروړی ؤ. ۲۵ خو د هغه سره دومره پيسې نه وې چې خپل
پور ورکړي، نو بادار يې امر وکړ چې هغه دې د خپلې ښځې او ماشومانو سره او نور هرڅه چې
لري خرڅ کړي، ترڅو خپل پور ورکړي. ۲۶ نو خدمتګار د هغه په پښو کې پرېوت او زاري يې
ورته وکړه: ‹لږ صبر راته وکړه او زه به ستا ټول پور خلاص کړم.› ۲۷ د بادار زړه يې پرې
وسوځېده او هغه يې پرېښود او پور يې ورته وبخښلو.

۲۸ خو کله چې هغه خدمتګار لاړ، نو د خپلو ملګرو خدمتګارانو څخه يو يې چې سل ديناره
پوروړی ؤ ورته په مخه ورغی. هغه يې له ستوني ونيوه او ورته ويې ويل: ‹زما پور بېرته راکړه.›

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۹ نو هغه خدمتګار ملګرى يې په پښو کې ورته پرېوت او زاري يې ورته وکړه ويې ويل: ‹لږ
صبر راته وکړه، پور به دې خلاص کړم.› ۳۰ خو هغه ونه منله او هغه يې په زندان کې واچاوه تر
هغې پورې چې د هغه پور ورکړي. ۳۱ نورو خدمتګارانو چې دا پېښه وليدله، نو ډېر خفه شول او
خپل بادار ته ورغلل او څه چې شوي وو هغه يې ترې خبر کړ. ۳۲ نو بادار يې هغه سړى
راوغوښت او ورته ويې ويل: ‹اى بدکاره خدمتګاره! ماته دې زاري وکړه او ما درته ټول پور
وبخښلو. ۳۳ ايا تاته لازمه نه وه چې په خپل ملګري خدمتګار باندې دې همداسې رحم کړى
واى، لکه څنګه چې ما په تا وکړ؟› ۳۴ د هغه بادار دومره په قهر شو چې هغه يې په زندان کې
واچاوه او امر يې وکړ چې هغه دې تر هغې پورې وځورول شي، ترڅو يې ټول پور نه وي ورکړى.

۳۵ که چېرې تاسو خپل ورور د زړه نه ونه بخښئ، نو زما اسماني پلار به هم ستاسو سره
همداسې وکړي.»

## د طلاق په هکله پوښتنه

(مرقوس ۱۰:۱-۱۲)

۱۹ ۱ کله چې عيسى دا خبرې خلاصې کړې، نو د جليل څخه روان شو او د يهوديې سيمې
ته چې د اردن د سيند په بله غاړه پرته وه لاړ. ۲ ګڼ شمېر خلک ورپسې روان وو او عيسى
هلته هغوى ته شفا ورکړه.

۳ ځينې فريسيان هغه ته راغلل او د دې دپاره چې هغه وازمايي، نو پوښتنه يې ترې وکړه: «ايا
دا روا ده چې يو سړى دې خپله ښځه چې په هر دليل وي طلاقه کړي؟» ۴ عيسى په ځواب کې
وويل: «ايا تاسو نه دي لوستلي چې په پيل کې چې کله خالق انسانان پيدا کړل، نو هغه يې نر او
ښځه پيدا کړل؟ ۵ او خداى وويل:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو له همدې امله سړی خپل مور او پلار پرېږدي او د خپلې ښځې سره يوځای کېږي او دواړه يو بدن شي.

۶ نو هغوی نور دوه تنه نه بلکې يو تن وي. نو څرنګه چې خدای هغوی سره يوځای کړي دي، انسان بايد هغوی سره بېل نه کړي.» ۷ فريسيانو د عيسی نه پوښتنه وکړه: «نو بيا موسی په دې هکله ولې حکم کړی دی چې يو سړی کولای شي خپلې ښځې ته طلاق‌نامه ورکړي او هغه وشړي؟» ۸ عيسی ځواب ورکړ: «موسی تاسو ته د دې دپاره اجازه درکړه چې خپلو ښځو ته طلاق ورکړئ، ځکه چې ستاسو زړونه سخت وو. خو د پيدايښت له وخته داسې نه ؤ. ۹ زه تاسو ته وايم چې که څوک خپله ښځه له زنا کولو پرته په کوم بل دليل طلاقه کړي او د بلې ښځې سره واده وکړي، نو هغه زنا کوي.»

۱۰ شاګردانو عيسی ته وويل: «که د مېړه او ښځې ترمنځ دا حال وي، نو دا به ښه وي چې څوک هېڅ واده ونه کړي.» ۱۱ خو عيسی هغوی ته وويل: «هرڅوک دا خبره نه شي منلی، خو يوازې هغه خلک يې منلی شي چې خدای ورته دا توان ورکړی وي. ۱۲ دا چې ځينې خلک ودونه نه شي کولای ډول ډول دليلونه لري: ځينې داسې دي چې له مور نه نرښځيان پيدا شوي دي او ځينې د انسانانو له خوا خصيان شوي دي او نور د اسماني پاچاهۍ په خاطر ودونه نه کوي. نو څوک چې يې منلی شي هغه دې ومني.»

## عيسی ماشومانو ته برکت ورکوي

(مرقوس ۱۳:۱۰–۱۶ او لوقا ۱۵:۱۸–۱۷)

۱۳ په دې وخت کې ځينو خلکو عيسی ته خپل ماشومان راوستل چې خپل لاس د هغوی په سرونو باندې کېږدي او د هغوی دپاره دعا وکړي، خو شاګردانو هغوی ورټل. ۱۴ خو عيسی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی ته وویل: «پرېږدئ چې ماشومان ماته راشي او هغوی مه منع کوئ، ځکه چې اسماني
پاچاهي د همداسې خلکو ده.» ۱۵ عیسی خپل لاس د هغوی په سرونو باندې کېښود، برکت يې
ورته ورکړ او بیا روان شو.

## په اسماني پاچاهۍ کې د شتمن سړي ننوتل ډېر سخت دي

(مرقوس ۱۷:۱۰–۳۱ او لوقا ۱۸:۱۸–۳۰)

۱۶ داسې وشول چې یو سړی عیسی ته راغی او پوښتنه يې ترې وکړه: «استاذه! زه داسې کوم
نېک کار وکړم چې تلپاتې ژوندون وګټم؟» ۱۷ عیسی هغه ته وویل: «د نېکۍ په هکله ولې زما
څخه پوښتنه کوې؟ یوازې یو ذات دی چې نېک دی، خو که ته غواړې تلپاتې ژوندون ترلاسه
کړې، نو د هغه په حکمونو عمل وکړه.» ۱۸ هغه سړي پوښتنه وکړه: «کوم حکمونه؟» عیسی
وویل: «قتل مه کوه، زنا مه کوه، غلا مه کوه، د دروغو شاهدي مه ورکوه. ۱۹ د خپل مور او پلار
عزت کوه او د خپل ګاونډي سره د خپل ځان په شان مینه کوه.» ۲۰ هغه ځوان ځواب ورکړ: «په
دې ټولو مې عمل کړی دی، نور څه وکړم؟» ۲۱ عیسی ورته وویل: «که ته غواړې چې کامل
شې، نو لاړ شه او خپل هر څه چې لرې خرخ کړه او پیسې يې غریبانو ته ورکړه، نو ته به په اسمان
کې خزانې ولرې. بیا راشه او زما پیروي وکړه.» ۲۲ کله چې هغه ځوان دا خبرې واورېدلې نو له
هغه ځای څخه غمجن روان شو، ځکه چې هغه ډېر مال او جایداد درلود.

۲۳ عیسی خپلو شاګردانو ته وویل: «په یقین سره زه تاسو ته دا وایم چې دولتمن سړي ته اسماني
پاچاهۍ ته ننوتل ډېر سخت کار دی. ۲۴ زه یوځل بیا تاسو ته وایم چې د ستنې د سوري څخه د
اوښ تېرېدل اسانه دي له دې نه چې یو شتمن سړی دې د خدای پاچاهۍ ته ورننوځي.» ۲۵ کله
چې شاګردانو دا خبرې واورېدلې، نو ډېر حیران شول او پوښتنه يې وکړه: «نو بیا څوک کولای شي
چې خلاصون ومومي؟» ۲۶ عیسی هغوی ته وکتل او ويې ویل: «د انسان دپاره دا ناشونې ده، خو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خدای دپاره هرڅه ممکن دي.»

۲۷ بیا پطروس ورته وویل: «وګوره، مونږ هرڅه پرېښي دي او تا پسې روان شوي یو. نو مونږ به
څه لاسته راوړو؟» ۲۸ عیسی هغوی ته وویل: «په یقین سره زه تاسو ته دا وایم چې په راتلونکې
نوې نړۍ کې چې کله د انسان زوی خپل د جلال نه ډک تخت باندې کښېني، نو تاسو دولس تنه به
چې زما پیروان یئ هم په دولسو تختونو باندې کښېنئ او د اسراییلو د دولسو قبیلو قاضیان به شئ.
۲۹ هرچا چې زما په خاطر خپل کورونه، ورونه، خویندې، مور او پلار، اولادونه او خپلې ځمکې
پرېښي دي، هغوی به سل چنده لاسته راوړي او تلپاتې ژوندون به ورته ورکړل شي. ۳۰ خو ډېر
چې اوس اول دي، هغوی به وروستي شي او ډېر چې اوس وروستي دي هغوی به اول شي.»

## د انګورو د باغ مزدوران

**۲۰** ۱ عیسی زیاته کړه: «اسماني پاچاهي داسې ده لکه د ځمکې خاوند چې سهار وختي له
کوره ووت، ترڅو خپل د انګورو د باغ دپاره مزدوران ونیسي. ۲ کله چې هغه ورسره یو دینار
یعنې د ورځنۍ مزدورۍ په هکله جوړه وکړه، نو هغوی یې ولېږل چې په باغ کې یې کار وکړي.
۳ د سهار په نهه بجو هغه دباندې ووت، نو ځینې خلک یې ولیدل چې په بازار کې وزګار ولاړ
وو. ۴ هغوی ته یې وویل: ‹تاسو هم لاړ شئ او زما د انګورو په باغ کې کار وکړئ او زه به
تاسو ته مناسبه مزدوري درکړم.› نو هغوی لاړل. ۵ هغه د غرمې په وخت کې او بیا په درې بجو
بازار ته لاړ او د نورو کسانو سره یې هم هماغه شان کار وکړ. ۶ د مازدیګر شاوخوا پنځه بجې
هغه بازار ته لاړ او نور خلک یې ولیدل چې هلته وزګار ولاړ وو. د هغوی څخه یې پوښتنه وکړه:
‹تاسو ولې ټوله ورځ دلته وزګار ولاړ یئ؟› ۷ هغوی ځواب ورکړ: ‹ځکه چې مونږ ته هیچا د
کار دپاره څه نه دي ویلي.› هغه ورته وویل: ‹تاسو هم لاړ شئ او زما په باغ کې کار وکړئ.›

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ کله چې ماښام شو، نو د باغ خاوند خپل ناظر ته ووېل: ‹مزدوران راوغواړه او د هغوی
مزدوري ورته ورکړه، لومړی يې هغو خلکو ته ورکړه چې وروسته راغلي دي او بيا ورپسې يې هغو
ته ورکړه چې اول راغلي وو.› ۹ کومو خلکو چې شاوخوا پنځه بجې کار پيل کړی ؤ راغلل او د
پوره ورځې مزدوري يې واخيستله. ۱۰ کله چې د هغو مزدورانو وار راورسېد چې اول راغلي وو،
نو هغوی په دې تمه وو چې د نورو څخه به زياته مزدوري واخلي، خو هغوی ته هم د نورو په
اندازه ورکړل شوه. ۱۱ کله چې هغوی خپله مزدوري واخيستله نو د باغ خاوند ته يې ګيله وکړه.
۱۲ هغوی ووېل: ‹دا خلک چې وروسته راغلل هغوی يوازې يو ساعت کار کړی دی، حال دا
چې مونږ ټوله ورځ په سور لمر کې کار کړی دی خو بياهم تا هغوی ته زمونږ سره يو برابر مزدوري
ورکړه.› ۱۳ د باغ خاوند په هغوی کې يو ته ووېل: ‹ملګريه! ما درسره کومه بې‌انصافي نه ده
کړې. ايا تا خپله دا ونه منله چې په يو دينار به ټوله ورځ کار کوې؟ ۱۴ خپله مزدوري دې واخله
او ځه. دا زما خوښه ده چې وروسته راغلي سړي ته همدومره ورکړم څومره مې چې تاته درکړله.
۱۵ ايا زه حق نه لرم چې په خپلو پيسو باندې چې څه غواړم هغه وکړم؟ يا په دې باندې بخيلي
کوې چې زه سخي يم؟›»

۱۶ نو عيسی ووېل: «په دې ډول به لومړني وروستي شي او وروستي به اول شي.»

## عيسی د درېم ځل دپاره د خپل مرګ په هکله پېشګويي کوي

(مرقوس ۳۲:۱۰–۳۴ او لوقا ۳۱:۱۸–۳۴)

۱۷ کله چې عيسی اورشليم ته روان ؤ، نو په لاره کې يې خپل دولس شاګردان يوې ګوښې ته
کړل او ورته وېې ويل: ۱۸ «ګورئ، مونږ اوس اورشليم ته ځو او د انسان زوی به مشرانو کاهنانو
او د شريعت عالمانو ته په لاس ورکړل شي او هغوی به ورباندې د مرګ حکم وکړي. ۱۹
غيريهوديانو ته به يې وسپاري ترڅو هغوی ورباندې ملنډې ووهي، په دورو يې ووهي او په صليب

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې یې ځوړند کړي. خو په درېمه ورځ به بیا راژوندی شي.»

## د یوې مور غوښتنه

(مرقوس ۳۵:۱۰–۴۵)

۲۰ بیا د زبدي ښځه د خپلو دوو زامنو سره عیسی ته راغله، د هغه په پښو کې پرېوتله او د هغه
څخه یې وغوښتل چې په هغې باندې احسان وکړي. ۲۱ عیسی د هغې څخه پوښتنه وکړه: «څه
غواړې؟» هغې ووېل: «زما سره وعده وکړه چې ستا په پاچاهۍ کې دې زما دا دواړه زامن ستا په
څنګ کې کښېني، یو دې ښي لاس ته کښېني او بل چپ لاس ته.» ۲۲ عیسی هغوی ته په ځواب
کې ووېل: «تاسو نه پوهېږئ چې څه غواړئ. کومه پیاله چې زه به یې څښم تاسو هغه څښلی
شئ؟» هغوی ځواب ورکړ: «هو، مونږ یې کولای شو.» ۲۳ عیسی هغوی ته ووېل: «بې له شکه،
تاسو به زما پیاله وڅښئ، خو دا زما په اختیار کې نه ده چې څوک به زما ښي یا چپ لاس ته
کښېني. دا ځایونه د هغو خلکو دپاره دي چې زما پلار ورته تیار کړي دي.» ۲۴ کله چې هغو
نورو لسو شاګردانو دا واورېدل، نو هغوی د هغو دوو ورونو څخه خفه شول. ۲۵ خو عیسی هغوی
راوغوښتل او ورته ویې ویل: «تاسو پوهېږئ چې په نړۍ کې د غیریهودیانو واکمنان په خپلو خلکو
باندې باداري کوي او مشران یې ورته خپل زور ښایي. ۲۶ خو په تاسو کې دې داسې نه وي. که
په تاسو کې څوک غواړي چې لوی وګڼل شي، نو باید د نورو خدمتګار شي ۲۷ او هرڅوک چې
غواړي د ټولو څخه اول شي باید د نورو خدمت وکړي. ۲۸ حتی د انسان زوی د دې دپاره نه
دی راغلی چې خدمت یې وشي بلکې د نورو خدمت وکړي او خپل ژوند د ډېرو خلکو د خلاصون
دپاره قربان کړي.»

## د دوو ړندو بینا کول

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(مرقوس ۴۶:۱۰-۵۲ او لوقا ۱۸:۳۵-۴۳)

۲۹ کله چې عیسی او د هغه شاګردان د اریحا د ښار څخه تلل، نو ګڼ شمېر خلک ورپسې روان
وو. ۳۰ د لارې په غاړه دوه ړانده ناست وو. کله چې هغوی خبر شول چې عیسی په دې لاره
تېرېږي، نو چیغې یې کړې: «ای ښاغلیه، ای د داود زویه! په مونږ رحم وکړه.» ۳۱ خلکو هغوی
ورټل او ورته ویې ویل چې غلي شئ. خو هغوی نورې هم چیغې ووهلې: «ای ښاغلیه، ای د داود
زویه! په مونږ رحم وکړه.» ۳۲ عیسی ودرېده او هغوی ته یې غږ وکړ او پوښتنه یې ترې وکړه:
«زما نه څه غواړئ چې درته ویې کړم؟» ۳۳ هغوی ورته وویل: «ای ښاغلیه، غواړو چې سترګې
مو بینا شي.» ۳۴ د عیسی زړه ورباندې وسوځېده او د هغوی په سترګو یې لاس کېښود او هغوی
سمدلاسه بینا شول او په هغه پسې روان شول.

## په بریالیتوب سره اورشلیم ته د عیسی ننوتل

(مرقوس ۱:۱۱-۱۱ او لوقا ۱۹:۲۸-۴۰ او یوحنا ۱۲:۱۲-۱۹)

۲۱ ۱ کله چې عیسی او شاګردان یې اورشلیم ته نژدې شول او بیت‌فاجي ته چې د زیتون په
غره کې ؤ ورسېدل، نو عیسی خپل دوه شاګردان ولېږل ۲ او هغوی ته یې وویل: «هغه مخامخ
کلي ته ورشئ، نو هلته به یوه خره ووینئ چې د خپل کوټي سره به تړل شوې وي. هغه راایله کړئ
او ماته یې راولئ. ۳ که چا درته څه وویل نو ورته ووایئ: ‹دا زمونږ د استاذ په کار دي› نو هغه
به سمدلاسه تاسو ته اجازه درکړي چې هغه بوځئ.» ۴ په دې ډول به د پیغمبر هغه وینا رښتیا
شي چې وایي:

۵ د صهیون خلکو ته ووایئ چې ستاسو پاچا درروان دی چې عاجز دی او په خره باندې سپور
دی، یعنې د خرې په کوټي باندې سپور دی.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ شاګردان لاړل او څنګه چې عیسی ورته ویلي وو هماغسې یې وکړل. ۷ هغوی خره او
کوټی راوستل او خپلې چپنې یېورباندې واچولې او عیسی ورباندې سپور شو. ۸ ډېرو زیاتو
خلکو ورته په لاره کې خپل کالي وغوړول او ځینو خلکو د ونو څانګې راپرې کړلې او په لاره کې
یې ورته واچولې. ۹ کوم خلک چې د هغه څخه مخکې او وروسته روان وو چیغې یې وهلې:
«ژوندی دې وي د داود زوی، مبارک دی هغه څوک چې د څښتن په نوم راځي. ثنا دې وي څښتن
تعالی ته.» ۱۰ کله چې عیسی اورشلیم ته ورننوت، نو په ټول ښار کې شور او غوغا ګډه شوه،
خلکو پوښتنه کوله: «دا څوک دی؟» ۱۱ نو کوم خلک چې د عیسی سره ملګري وو ځواب یې
ورکړ: «دا عیسی پیغمبر دی چې د جلیل د ناصرې څخه راغلی دی.»

## عیسی د خدای د کور څخه سوداګران شړي

(مرقوس ۱۱:۱۵–۱۹ او لوقا ۱۹:۴۵–۴۸ او یوحنا ۲:۱۳–۲۲)

۱۲ عیسی د خدای کور ته ننوت او له هغه ځای څخه یې د خرڅوونکو او اخیستونکو په شړلو
پیل وکړ او د صرافانو مېزونه او د کوترو خرڅوونکو چوکۍګانې یې په بل مخ واړولې، ۱۳ او
هغوی ته یې وویل: «د خدای په کلام کې لیکل شوي دي:

زما کور به د دعا د کور په نوم یادیږي.

خو تاسو ترې د غلو د پټېدلو ځای جوړ کړی دی.»

۱۴ د خدای په کور کې ورته ړانده او ګوډان راغلل او هغوی ته یې شفا ورکړه. ۱۵ خو کله چې
مشرانو کاهنانو او د شریعت عالمانو د عیسی حیرانوونکې معجزې چې هغه ښودلې، ولیدلې او د
خدای په کور کې یې د ماشومانو چیغې واورېدلې چې ویل یې: «د داود زوی ته دې ثنا وي.» نو
هغوی خفه شول. ۱۶ نو د عیسی څخه یې پوښتنه وکړه: «دا ماشومان چې څه وایي ته یې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اورې؟» عیسی ځواب ورکړ: «هو، زه یې اورم. ایا تاسو د خدای په کلام کې نه دي لوستلي:

خدایه ته به ماشومانو او تي رودونکو ته دا ورزده کوې چې ستا ثنا ووایي؟»

۱۷ عیسی هغوی پرېښودل او د ښار څخه ووت. بیت‌عنیا ته لاړ او هلته یې شپه تېره کړه.

## عیسی د انځر په ونې لعنت وایي

(مرقوس ۱۱:۱۲-۱۴، ۱۱:۲۰-۲۴)

۱۸ سبا سهار کله چې عیسی بېرته اورشلیم ته راتله، نو وږی شو. ۱۹ د سرک په غاړه یې د
انځر ونه ولیدله نو هغه ورته ورغی، خو په هغې کې یې له پاڼو پرته بل هېڅ شی ونه لیده. نو هغې
ونې ته یې وویل: «ته دې نور هېڅکله مېوه ونه نیسې.» او سمدلاسه هغه ونه وچه شوه.

۲۰ کله چې شاګردانو دا ولیدل، نو حیران شول او پوښتنه یې وکړه: «دا د انځر ونه دومره زر
 څنګه وچه شوه؟» ۲۱ عیسی ورته ځواب ورکړ: «په یقین سره زه تاسو ته دا وایم چې که چېرې
تاسو ایمان ولرئ او شک ونه کړئ، نو تاسو به هم وکولای شئ داسې کار وکړئ لکه څنګه چې ما
د انځر د ونې سره وکړ. یوازې دا کار نه بلکې که تاسو دې غره ته هم ووایئ چې پورته شه او
بحیرې ته وغورځېږه، نو همداسې به وشي. ۲۲ که تاسو ایمان ولرئ، نو هرڅه چې په دعا کې
وغواړئ هغه به لاسته راوړئ.»

## د عیسی د اختیار په هکله پوښتنه

(مرقوس ۱۱:۲۷-۳۳ او لوقا ۲۰:۱-۸)

۲۳ عیسی بېرته د خدای کور ته راغی او تعلیم یې ورکاوه چې مشران کاهنان او د قوم مشران

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورته راغلل او پوښتنه يې ترې وکړه: «چا تاته دا حق درکړی چې دا کارونه کوې؟ تاته چا دا واک
او اختيار درکړی دی چې دا کارونه وکړې؟» ۲۴ عيسی ځواب ورکړ: «زه هم ستاسو څخه يوه
پوښتنه کوم، که تاسو ځواب راکړ نو زه به هم درته ووايم چې زه په کوم اختيار سره دا کارونه کوم.
۲۵ تعميد ورکوونکي يحيی ته دا اختيار چا ورکړی ؤ چې خلکو ته د تعميد غسل ورکړي؟ هغه د
خدای له خوا ؤ يا د انسان له خوا؟» هغوی په خپل منځ کې سره بحث وکړ او ويل يې: «که چېرې
ووايو د خدای له خوا ؤ، نو هغه به ووايي چې بيا تاسو ولې په هغه باندې ايمان رانه وړ؟ ۲۶ خو
که چېرې ووايو چې د انسان له خوا ؤ، نو د خلکو څخه وېرېږو ځکه چې هغوی ټول يحيی پيغمبر
ګڼي.» ۲۷ نو هغوی عيسی ته په ځواب کې وويل: «مونږ نه پوهېږو.» عيسی ورته وويل: «نو زه
هم تاسو ته نه وايم چې په کوم اختيار دا کارونه کوم.»

## د دوو زامنو مثال

۲۸ عيسی زياته کړه: «تاسو په دې هکله څه فکر کوئ؟ يو سړی ؤ چې دوه زامن يې لرل. هغه
خپل مشر زوی ته ورغی او ورته ويې ويل: ‹زويه! لاړ شه او نن د انګورو په باغ کې کار وکړه.›
۲۹ هغه ځواب ورکړ: ‹زه نه ځم.› خو وروسته پښېمانه شو او لاړ. ۳۰ بيا هغه سړی خپل کشر
زوی ته ورغی او هغه ته يې هم همدا خبره وکړه. هغه ځواب ورکړ: ‹ځمه، پلاره.› خو لاړ نه شو.
۳۱ په هغو دواړو زامنو کې کوم يو د خپل پلار خبره ومنله؟» هغوی وويل چې مشر زوی يې. نو
عيسی ورته وويل: «په يقين سره زه تاسو ته دا وايم چې ماليه ټولوونکي او فاحشې به ستاسو څخه
مخکې د خدای پاچاهی ته ورننوځي. ۳۲ ځکه چې يحيی تاسو ته راغی چې د عدالت لاره
دروښايي، خو تاسو ورباندې باور ونه کړ، خو ماليه ټولوونکو او فاحشو ورباندې باور وکړ او سره له
دې چې تاسو دا وليدل، خو پښېمانه نه شوئ او باور مو ورباندې ونه کړ.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د انګورو د باغ او د بدکاره باغوانانو مثال

(مرقوس ۱:۱۲-۱۲ او لوقا ۹:۲۰-۱۹)

۳۳ عیسی وویل: «یو بل مثال واورئ. یو زمیندار ؤ چې د انګورو باغ یې جوړ کړ او ګردچاپېره
یې ترې دېوال تاو کړ او په باغ کې یې د انګورو شخه د شربت ویستلو دپاره خم جوړ کړ او د
پهرهدارۍ دپاره یې په کې یو برج هم جوړ کړ. بیا یې هغه باغوانانو ته په اجاره ورکړ او خپله بل
وطن ته په سفر روان شو. ۳۴ کله چې د انګورو د راټولولو وخت راورسېد، نو هغه خپل نوکران
باغوانانو ته ورولېږل چې خپله برخه ترې واخلي. ۳۵ باغوانانو د هغه نوکران ونیول، یو یې ورټه
وواهه او بل یې مړ کړ او دریم یې سنګسار کړ. ۳۶ د باغ خاوند دا ځل زیات نوکران ولېږل او
باغوانانو د هغوی سره هم هماغسې چلند وکړ. ۳۷ په پای کې یې خپل زوی ورولېږه او فکر یې
وکړ چې هغوی به زما د زوی لحاظ وکړي. ۳۸ خو کله چې باغوانانو د هغه سړي زوی ولیده، نو
په خپل منځ کې یې سره وویل: ‹دا یې وارث دی، راځئ چې مړ یې کړو او میراث به یې زمونږ
شي.› ۳۹ هغه یې ونیوه او د انګورو د باغ شخه یې دباندې وویست او مړ یې کړ. ۴۰ نو کله
چې د باغ خاوند راشي، د باغوانانو سره به څه وکړي؟» ۴۱ هغوی ځواب ورکړ: «هغه به دا
بدکاره خلک په بېرحمانه توګه ووژني او باغ به نورو باغوانانو ته په اجاره ورکړي چې د حاصل
راټولولو په وخت کې به هغه ته خپله برخه ورکوي.»

۴۲ بیا عیسی هغوی ته وویل: «ایا تاسو کله د خدای په کلام کې نه دي لوستلي:

کومه تیږه چې رد کړي ګلکارانو وه

هغه اوس شوه اصلي تیږه د تهداب

دا کار وشو د څښتن له خوا نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او عجیبه ښکاري زمونږ نظر کې

۴۳ نو له دې امله زه تاسو ته وایم چې د خدای پاچاهي به ستاسو نه واخیستل شي او هغو خلکو
ته به ورکړل شي چې ښه مېوه نیسي. ۴۴ هرڅوک چې په دې تیږه باندې راولویږي، نو هغه به
ټوټې ټوټې شي او که هغه تیږه په چا باندې راولویږي، نو هغه به ذرې ذرې کړي.»

۴۵ کله چې مشرانو کاهنانو او فریسیانو د عیسی دا مثالونه واورېدل، نو هغوی پوه شول چې هغه
د دوی په هکله خبرې کوي. ۴۶ هغوی غوښتل چې عیسی ونیسي، خو د خلکو څخه ووېرېدل،
ځکه چې خلکو عیسی پیغمبر ګڼلو.

## د واده د مېلمستیا مثال

(لوقا ۱۴:۱۵-۲۴)

۲۲ ۱ عیسی یوځل بیا خلکو ته یو بل مثال راوړ او ویې ویل: ۲ «اسماني پاچاهي د هغه
پاچا په شان ده چې د خپل زوی د واده مېلمستیا یې جوړه کړه. ۳ هغه خپل نوکران په رابلل
شویو مېلمنو پسې ولېږل چې هغوی ته ووایي چې مېلمستیا ته راشي، خو هغوی ونه غوښتل چې
راشي. ۴ نو هغه خپل نور نوکران ورپسې ولېږل چې هغوی ته ووایي: ‹د واده مېلمستیا ته راشئ.
ما ډوډۍ تیاره کړې ده، ستاسو دپاره مې غویان او چاغ خوسکي حلال کړي دي او هرڅه تیار
دي.› ۵ خو هغوی یې هېڅ پروا ونه کړه او په خپل کار پسې لاړل. یو یې خپل پټي ته لاړ او بل
یې خپل کاروبار ته، ۶ او نورو د هغه نوکران ونیول، بې‌عزته یې کړل او ویې وژل. ۷ پاچا په
قهر شو، خپل عسکر یې ولېږل او هغه قاتلان یې ووژل او ښار یې ورته وسوځاوه. ۸ بیا هغه
خپلو نوکرانو ته وویل: ‹د واده مېلمستیا تیاره ده، خو کوم خلک چې رابلل شوي وو هغه د دې وړ
نه وو. ۹ نو لویو چوکونو ته ووځئ او هرڅوک چې مو پیدا کړ د واده مېلمستیا ته یې راوبولئ.›

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ نو نوکران لارو او کوڅو ته ووتل او هرڅوک یې چې پیدا کولای شول که ښه وو او که بد وو
ټول یې راوستل او په دې ډول سالون د مېلمنو څخه ډک شو.

۱۱ کله چې پاچا د مېلمنو د لیدلو دپاره دننه ورغی، نو هلته یې یو سړی ولیده چې د واده کالي
یې نه وو اغوستي. ۱۲ پاچا ترې پوښتنه وکړه: ‹ای دوسته، تا څنګه د واده کالي نه دي اغوستي
او دلته راغلی یې؟› هغه غلی پاتې شو. ۱۳ بیا پاچا خپلو خدمتګارانو ته وویل: ‹د هغه لاس او
پښې وتړئ او دباندې په تیاره کې یې وغورځوئ یعنې هغه ځای کې چې خلک به ژاړي او خپل
غاښونه به چیچي.›»

۱۴ عیسی په پای کې وویل: «رابلل شوي ډېر دي، خو غوره شوي لږ دي.»

## د مالیې ورکولو په هکله پوښتنه

(مرقوس ۱۲:۱۳–۱۷ او لوقا ۲۰:۲۰–۲۶)

۱۵ بیا فریسیان لاړل او په خپلو کې یې مشوره وکړه چې څنګه عیسی په خپلو خبرو کې
راونیسي. ۱۶ نو هغوی خپل ځینې پیروان د هیرودیس د پلویانو سره عیسی ته ورولېږل چې هغه
ته ووایي: «ای استاده! مونږ پوهېږو چې ته یو صادق سړی یې او په رښتینې توګه د خدای د لارې
تعلیم ورکوې. ته د هېچا طرفداري نه کوې که هغه هرڅوک وي. ۱۷ نو بیا مونږ ته ووایه چې په
دې هکله ستا نظر څه دی؟ ایا د روم امپراتور ته مالیه ورکول روا دي که نه؟» ۱۸ خو عیسی د
هغوی په بدنیتۍ پوه شو او هغوی ته یې وویل: «ای منافقانو، تاسو ولې هڅه کوئ چې ما امتحان
کړئ؟ ۱۹ هغه سکه چې تاسو ورباندې خپله مالیه ورکوئ ماته راوښایئ.» هغوی ورته یوه رومي
سکه راوړله. ۲۰ عیسی د هغوی څخه پوښتنه وکړه: «په دې باندې د چا تصویر او د چا نوم
دی؟» ۲۱ هغوی ځواب ورکړ: «د امپراتور.» بیا عیسی هغوی ته وویل: «څه چې د امپراتور دي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه امپراتور ته ورکړئ او څه چې د خدای دي هغه خدای ته ورکړئ.» ۲۲ کله چې هغوی دا
واورېدل، نو حیران شول او هغه یې پرېښود او ورڅخه لاړل.

## د قیامت د ورځې په هکله پوښتنه

(مرقوس ۱۲:۱۸–۲۷ او لوقا ۲۰:۲۷–۴۰)

۲۳ په هماغه ورځ صدوقیان چې د مرګ څخه وروسته د بیا راژوندي کېدلو څخه منکر وو،
عیسی ته راغلل او د هغه څخه یې یو سوال وکړ: ۲۴ «استاذه! موسی ویلي دي چې که یو سړی
بې‌اولاده مړ شي، نو ورور یې باید د هغه د کونډې سره واده وکړي، ترڅو د هغه اولادونه پیدا شي او
هغه یې د مړه ورور اولادونه وګڼل شي. ۲۵ په یو وخت کې اووه ورونه وو، لومړني ورور یې واده
وکړ او هغه بې‌اولاده مړ شو او د هغه کونډه د هغه ورور ته پاتې شوه. ۲۶ په دې ډول دوهم، دریم
او تر اووم وروره پورې د هغې ښځې سره ودونه وکړل او ټول بې‌اولاده مړه شول. ۲۷ په پای کې
هغه ښځه هم مړه شوه. ۲۸ نو مونږ ته ووایه چې د قیامت په ورځ به هغه د کوم یو ښځه وي؟
ځکه چې ټولو ورسره ودونه کړي وو؟»

۲۹ عیسی ځواب ورکړ: «ستاسو غلطي په دې کې ده چې نه د خدای په کلام پوهېږئ او نه د
خدای د قدرت څخه خبر یئ. ۳۰ ځکه چې د قیامت په ورځ کله چې مړي بیا راژوندي کیږي، نه
سړي ودونه کوي او نه به ښځې چاته واده کیږي، خو هغوی به د اسمان د فرښتو په شان وي. ۳۱
خو د مړو د بیا راژوندي کېدلو په هکله تاسو نه دي لوستلي چې خدای تاسو ته څه ویلي دي؟ هغه
ویلي دي: ۳۲ ‹زه د ابراهیم خدای، د اسحاق خدای او د یعقوب خدای یم.

خدای د مړو خدای نه، بلکې د ژوندیو خدای دی.›»

۳۳ کله چې خلکو د هغه خبرې واورېدلې، نو د هغه تعلیم ته حیران شول.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## لوی حکم

(مرقوس ۱۲:۲۸-۳۴ او لوقا ۱۰:۲۵-۲۸)

۳۴ کله چې فریسیان خبر شول چې عیسی د صدوقیانو خولې بندې کړلې، نو سره راټول شول،
۳۵ په هغوی کې یو تن چې د شریعت عالم ؤ د ازمېښت دپاره یې د عیسی نه پوښتنه وکړه: ۳۶
«استاذه، په شریعت کې تر ټولو لوی حکم کوم یو دی؟» ۳۷ عیسی ځواب ورکړ: «د خپل څښتن
خدای سره د زړه له کومي، په ټول روح او په ټول عقل سره مینه کوه. ۳۸ دا تر ټولو لوی او
لومړنی حکم دی. ۳۹ دوهم حکم هم د لومړني حکم په شان مهم دی چې د خپل ګاونډي سره د
خپل ځان په شان مینه کوه. ۴۰ ټول تورات او د پیغمبرانو لیکنې په دې دواړو حکمونو باندې
ولاړ دی.»

## مسیح د چا زوی دی؟

(مرقوس ۱۲:۳۵-۳۷ او لوقا ۲۰:۴۱-۴۴)

۴۱ عیسی د هغو فریسیانو څخه چې هلته سره راټول شوي وو پوښتنه وکړه: ۴۲ «تاسو د
مسیح په هکله څه فکر کوئ؟ هغه د چا زوی دی؟» هغوی ځواب ورکړ: «د داود زوی.» ۴۳
عیسی پوښتنه وکړه: «نو بیا څنګه داود د خدای د روح په قدرت هغه ته بادار وایي؟ ځکه چې داود
وایي:

۴۴ څښتن وویل زما بادار ته

کښېنه زما ښي لاس ته

ترڅو ستا دښمنان کړم ستا د پښو لاندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۵ نو دا چې داود مسیح ته بادار وایي، بیا څنګه کېدای شي چې مسیح د داود زوی وي؟»

۴۶ هېچا د هغه په ځواب کې څه ونه شو ویلی او د هماغې ورځې نه وروسته هېچا دا جرات ونه
کړ چې د هغه څخه نورې پوښتنې وکړي.

## عیسی په مذهبي مشرانو نیوکه کوي

(مرقوس ۱۲:۳۸–۳۹ او لوقا ۱۱:۴۳–۴۶، ۲۰:۴۵–۴۶)

۲۳ ۱ بیا عیسی خلکو او خپلو شاګردانو ته وویل: ۲ «د شریعت عالمان او فریسیان د
موسی په چوکۍ ناست دي، ۳ هغوی چې هرڅه درته وایي تاسو یې ومنئ او عمل ورباندې
وکړئ، خو د هغوی په شان کارونه مه کوئ، ځکه دوی چې څه وایي عمل ورباندې نه کوي. ۴
هغوی درانه پنډونه تړي او د خلکو په اوږو یې باروي، خو خپله نه غواړي چې ګوتې هم ورته
وروړي چې د پنډ په وړلو کې ورسره مرسته وکړي. ۵ کوم کارونه چې هغوی یې کوي هغه د
دې دپاره کوي چې خلک یې وویني، هغوی لوی لوی تعویذونه جوړوي او په خپل تندي او مټ
باندې یې تړي او داسې چپنې اغوندي چې اوږده څوندې لري. ۶ هغوی دا خوښوي چې په
مېلمستیاوو کې په ډېرو لوړو ځایونو کې کښېني او په کنیسو کې مخکې ځایونه ونیسي، ۷ او
خلک ورته په بازارونو کې سلام واچوي او ‹استاذه، استاذه› ورته ووایي. ۸ خو تاسو ته باید
‹استاذ› ونه ویل شي، ځکه چې تاسو یوازې یو استاذ لرئ او تاسو ټول سره وررونه یئ. ۹ په دې
نړۍ کې هېچا ته ‹پلار› مه وایئ، ځکه چې تاسو یوازې یو پلار لرئ چې هغه په اسمان کې دی.
۱۰ نه دې څوک درته ‹لارښوونکی› ووایي، ځکه چې تاسو یوازې یو لارښوونکی لرئ چې هغه
مسیح دی. ۱۱ په تاسو کې هغه څوک د ټولو نه لوی دی چې ستاسو خدمتګار وي. ۱۲ ځکه
هرڅوک چې خپل ځان لوی ګڼي هغه به عاجز شي او هرڅوک چې خپل ځان عاجز کړي هغه به
سرلوړی شي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مذهبي مشرانو منافقت

(مرقوس ۱۲:۴۰ او لوقا ۱۱:۳۹–۴۲، ۱۱:۴۴، ۱۱:۵۲، ۲۰:۴۷)

۱۳ عیسی زیاته کړه: «ای منافقانو د شریعت عالمانو او فریسیانو! ستاسو په حال دې افسوس
وي، ځکه چې تاسو د اسماني پاچاهۍ دروازې د خلکو دپاره بندوئ، نه تاسو ورننوځئ او نه نور
خلک پرېږدئ چې ورننوځي. [ ۱۴ ای منافقانو د شریعت عالمانو او فریسیانو! ستاسو په حال
دې افسوس وي، ځکه چې تاسو د کونډو مالونه خورئ، خو د ځان ښودنې دپاره اوږدې اوږدې
دعاګانې کوئ، خو خدای به تاسو ته د نورو ښخه سخته سزا درکړي.] ۱۵ ای منافقانو د شریعت
عالمانو او فریسیانو! ستاسو په حال دې افسوس وي، ځکه چې تاسو په وچه او اوبو کې ګرځئ چې
کوم څوک خپل دین ته راواړوئ او کله چې ستاسو دین قبول کړي، نو هغه ستاسو ښخه دوه چنده د
دوزخ د سزا وړ شي.

۱۶ افسوس دې وي په تاسو باندې ای د ړندو لاربښوونکو! تاسو وایئ: ‹که چېرې څوک د خدای
د کور په نوم قسم وخوري، نو هېڅ خبره نه ده، خو که څوک د خدای د کور په سرو زرو قسم
وخوري، نو هغه مجبور دی چې په خپل قسم ولاړ اوسي.› ۱۷ ای کم‌عقلو ړندو! کوم یو یې مهم
دی، سره زر یا د خدای کور چې سره زر پاک او سپېڅلي کوي؟ ۱۸ همدارنګه تاسو وایئ: ‹که
چېرې څوک د قربانۍ د ځای په نوم قسم وخوري، نو هېڅ خبره نه ده، خو که څوک د قربانۍ د
ځای په نذرانې قسم وخوري، نو هغه مجبور دی چې په خپل قسم ولاړ اوسي.› ۱۹ ای ړندو
خلکو! کوم یو یې مهم دی، نذرانه یا د قربانۍ ځای چې هغه نذرانه پاک او سپېڅلي کوي؟ ۲۰ نو
څوک چې د قربانۍ په ځای قسم خوري، هغه د قربانۍ په ځای او په کومو سوغاتونو چې خلکو
هلته ایښي دي قسم خوري، ۲۱ او څوک چې د خدای د کور په نوم قسم خوري، نو د خدای په
کور او خدای باندې چې په هغه کې اوسېږي قسم خوري. ۲۲ څوک چې په اسمان باندې قسم
خوري، نو هغه د خدای په تخت او هغه چا باندې قسم خوري چې په هغه تخت باندې کښېني.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۳ ای منافقانو د شریعت عالمانو او فریسیانو! ستاسو په حال دې افسوس وي، ځکه چې تاسو د
وېلني، شبت او زنکې لسمه برخه ورکوئ، خو د شریعت ډېر مهم حکمونه لکه عدالت، رحم او
وفاداري مو پرېښي دي. تاسو باید په دې ټولو باندې عمل کولای او هغه نور مو هم له پامه نه
غورځولی. ۲۴ ای ړندو لارښوونکو! تاسو ماشی د اوبو څخه لېرې کوئ، خو اوښ لواړ تېروئ.

۲۵ ای منافقانو د شریعت عالمانو او فریسیانو! افسوس دې وي ستاسو په حال باندې، ځکه چې
تاسو د خپلو پیالو او قابونو باندینۍ برخې پاکوئ خو دننه یې د هغو شیانو څخه ډک دي چې په
حرص او ځان غوښتنې مو ګټلي دي. ۲۶ ای ړندو فریسیانو! لومړی د پیالو او قابونو دنننی برخه
پاکه کړئ، نو باندینۍ برخه به یې هم پاکه شي.

۲۷ ای منافقانو د شریعت عالمانو او فریسیانو! افسوس دې وي ستاسو په حال باندې، ځکه چې
تاسو د هغو قبرونو په شان یئ چې په چونه باندې سپین شوي وي چې په ظاهره ښکلي ښکاري،
خو دننه د مړو د هډوکو او هر ډول ناپاکیو څخه ډک وي. ۲۸ نو په همدې ډول تاسو هم په
ښکاره نېک خلک ښکارئ، خو دننه د منافقت او بدیو څخه ډک یئ.»

## عیسی د مذهبي مشرانو د سزا پېشګویي کوي

(لوقا ۱۱:۴۷–۵۱)

۲۹ عیسی زیاته کړه: «ای منافقانو د شریعت عالمانو او فریسیانو! افسوس دې وي ستاسو په
حال، ځکه چې تاسو د پیغمبرانو زیارتونه جوړوئ او د نېکو خلکو قبرونه ښکلي کوئ ۳۰ او
وایئ: ‹که چېرې مونږ د خپلو نیکونو په زمانه کې ژوندي وای نو د هغوی سره به د پیغمبرانو په قتل
کې شریک شوي نه وای.› ۳۱ نو تاسو په خپلو ځانونو باندې شاهدي ورکوئ چې تاسو د هغو
خلکو اولاده یئ چې پیغمبران یې قتل کړي دي. ۳۲ نو لاړ شئ او هغه کارونه چې ستاسو نیکونو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پیل کړي وو، سرته ورسوئ. ۳۳ ای مارانو او د مارانو بچیانو! تاسو به د دوزخ له سزا څخه څنګه
خلاص شئ؟ ۳۴ نو له دې امله زه تاسو ته پیغمبران، هوښیار خلک او د شریعت عالمان درلیږم،
خو ځینې به تاسو مړه کړئ، ځینې به په صلیب راځوړند کړئ او ځینې به په کنیسو کې په دورو
ووهئ او ښار په ښار به ورپسې ګرځئ. ۳۵ نو له دې امله د ټولو نېکو خلکو وینې چې په ځمکه
توییږي، خون به یې ستاسو په غاړه وي، د بې‌ګناه هابیل څخه نیولې د برخیا د زوی زکریا پورې
چې هغه مو د خدای د کور او د قربانۍ د ځای ترمنځ وواژه. ۳۶ په یقین سره زه تاسو ته دا وایم
چې د دې ټولو کارونو سزا به د دې زمانې خلکو ته ورکول کیږي.»

## د اورشلیم دپاره د عیسی خفګان

(لوقا ۱۳:۳۴–۳۵)

۳۷ عیسی زیاته کړه: «ای اورشلیمه، ای اورشلیمه! ای هغه ښاره چې پیغمبران وژنې او کوم کسان
چې د خدای له خوا درلیږل کیږي هغه سنګساروې! ما څو څو ځلې وغوښتل چې ستا خلک داسې
سره راټول کړم لکه څنګه چې چرګه خپل بچي د خپلو وزرونو لاندې سره راټولوي، خو تا ونه
غوښتل. ۳۸ ګوره، ستاسو کور تاسو ته خالي پرېښودل کیږي. ۳۹ ځکه چې زه تاسو ته وایم
چې بیا به هېڅکله ما ونه وینئ، ترڅو دا ونه وایئ: ‹مبارک دی هغه څوک چې د څښتن په نوم
راځي.›»

## د خدای د کور د ورانېدلو پېشګویي

(مرقوس ۱۳:۱–۲ او لوقا ۲۱:۵–۶)

۲۴ ۱ کله چې عیسی د خدای د کور څخه روان شو، نو شاګردان یې ورته راغلل چې د هغه
پام د خدای د کور ودانۍ ته راواړوي. ۲ خو هغه ورېل: «ایا دا ټولې ودانۍ وینئ؟ په یقین سره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه تاسو ته دا وایم چې دلته به یوه تیږه هم په بله تیږه پاتې نه شي او ټولې به راونړېږي.»

## د اخرې زمانې نښې

(مرقوس ۳:۱۳-۱۳ او لوقا ۷:۲۱-۱۹)

۳ عیسی د زیتون په غره کې ناست ؤ چې شاګردان یې ورته راغلل او په پټه یې ورته وویل:
«مونږ ته ووایه چې دا هرڅه به کله وشي؟ او ستا د راتګ او اخرې زمانې نښه به کومه وي؟» ۴
عیسی ځواب ورکړ: «پام کوئ چې څوک مو بې‌لارې نه کړي. ۵ ځکه چې ډېر به زما په نوم
راشي او وایي به چې زه مسیح یم او ډېر خلک به بې‌لارې کړي. ۶ تاسو به د جګړې غږ د
نژدې نه او د لېرې نه د جنګ اوازې اورئ، خو ګورئ چې وارخطا نه شئ، ځکه چې دا شیان به
خامخا پېښېږي، خو دا د دې معنی نه لري چې اخرنی وخت رارسېدلی دی. ۷ یو قوم به د بل
قوم سره جنګیږي او یوه پاچاهي به د بلې پاچاهۍ سره جنګیږي او د نړۍ په ډېرو ځایونو کې به
قحطي او زلزلې راشي. ۸ خو دا ټول به د لنګون د دردونو د پیل کېدلو په شان وي.

۹ کله چې دا هرڅه پېښ شول، نو تاسو به ونیول شئ او وبه ځورول شئ او بیا به ووژل شئ او
زما د نوم په خاطر به د ټولو قومونو خلک ستاسو څخه کرکه کوي. ۱۰ نو بیا به ډېر خپل ایمان
له لاسه ورکړي او یو د بل سره به خیانت کوي او یو د بل څخه به کرکه کوي. ۱۱ ډېر جعلي
پیغمبران به راپیدا شي او ډېر خلک به بې‌لارې کړي. ۱۲ بدکاري به دومره زیاته شي چې د خلکو
مینه به یو د بله سره ورکه شي. ۱۳ خو څوک چې تر اخره پورې ټینګ پاتې شي هغه به
خلاصون ومومي ۱۴ او د اسماني پاچاهۍ زېری به په ټوله نړۍ کې خپور شي، ترڅو د ټولو
قومونو دپاره شاهدي اوسي او بیا به نړۍ ختمه شي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اخرې زمانې هیبتناکه وېره

(مرقوس ۱۳:۱۴-۲۳ او لوقا ۲۰:۲۱-۲۴)

۱۵ نو کله چې تاسو هغه نجس شی چې د بربادۍ سبب ګرځي او سپېڅلی ځای ناپاکه کوي او
دانیال نبي د هغو په هکله خبرې کړې دي، ووینئ. (لوستونکي دې پوه شي چې د دې معنی څه ده.)
۱۶ نو څوک چې په یهودیې کې وي هغه دې غرونو ته وتښتي. ۱۷ که څوک د بام په سر وي،
نو هغه دې د کور د سامان د وړلو دپاره نه راښکته کیږي. ۱۸ که څوک په پټي کې وي هغه دې د
خپلې چپنې پسې بېرته کور ته نه ورځي. ۱۹ افسوس د هغو ښځو په حال چې په هغو ورځو کې
امیدوارې وي او هغو میندو په حال چې خپلو ماشومانو ته شیدې ورکوي. ۲۰ دعا کوئ چې
ستاسو تېښته په ژمي کې او یا د سبت په ورځ نه وي. ۲۱ ځکه چې په هغه وخت کې به داسې
سخت مصیبت رامنځته شي چې د نړۍ له پیل څخه تراوسه پورې نه دی راغلی او نه به بیا راشي.
۲۲ که چېرې خدای هغه ورځې لنډې کړې نه وای نو هېڅوک به ژوندی پاتې شوی نه وای، خو
خدای به د خپلو غوره شویو خلکو په خاطر هغه ورځې لنډې کړي. ۲۳ که په هغه وخت کې
څوک تاسو ته ووايي: ‹ګورئ، مسیح دلته دی یا هلته دی،› نو باور ورباندې مه کوئ. ۲۴ ځکه
چې داسې کسان به پیدا شي چې په دروغو به دعوه کوي چې مسیح او پیغمبران دي او لويې
معجزې به وښايي او حیرانوونکي کارونه به کوي، د دې دپاره که ممکن وي نو د خدای غوره شوي
خلک به هم بېلارې کړي. ۲۵ نو پام کوئ، تاسو مې له مخکې نه خبر کړئ. ۲۶ نو که چېرې
څوک تاسو ته ووايي چې مسیح په دښته کې دی، نو هلته مه ځئ او یا درته ووايي چې هغه په یو
پټ ځای کې دی نو باور ورباندې مه کوئ. ۲۷ ځکه لکه څنګه چې برېښنا له ختیځې خوا راځي
نو رڼا يې تر لوېدیځه پورې ځلیږي، نو د انسان د زوی راتګ به هم همداسې وي. ۲۸ چېرته چې
مرداره وي هلته ټپوسان راټولیږي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د انسان د زوی راتلل

(مرقوس ۱۳:۲۴–۲۷ او لوقا ۲۱:۲۵–۲۸)

۲۹ څنګه چې د مصیبت هغه ورځې تېرې شي، نو سمدلاسه به لمر تیاره شي او سپوږمۍ به نوره
رڼا نه ورکوي، ستوري به د اسمان څخه راولوېږي او اسماني موجودات به ولړزېږي. ۳۰ هغه
وخت به په اسمان کې د انسان د زوی د راتللو نښې راښکاره شي او د نړۍ ټول قومونه به ویر کوي
او هغوی به ووینې چې د انسان زوی به د قدرت او زیات جلال سره د اسمان په ورېځو کې راروان
وي. ۳۱ هغه به خپلې فرښتې چې په لوړ اواز سره به سرنۍ وهي راولېږي او هغوی به د نړۍ د یو
سر نه تر بله سره پورې خپل غوره شوي خلک راټول کړي.

## د انځر د ونې څخه عبرت اخیستل

(مرقوس ۱۳:۲۸–۳۱ او لوقا ۲۱:۲۹–۳۳)

۳۲ د انځر د ونې څخه عبرت واخلئ. کله چې د هغې څانګې غوټۍ ونیسي او پاڼې وکړي، نو
تاسو پوهېږئ چې اوړی رانژدې دی. ۳۳ نو په همدې ډول کله چې تاسو دا ټول شیان ووینئ، نو
پوه شئ چې هغه وخت نژدې دی بلکې رارسېدلی دی. ۳۴ په یقین سره زه تاسو ته دا وایم چې
دا نسل به تر هغې پورې له منځه لاړ نه شي، ترڅو دا ټولې پېښې رامنځته شوې نه وي. ۳۵
ځمکه او اسمان به له منځه لاړ شي، خو زما خبرې به هېڅکله له منځه لاړې نه شي.

## د انسان د زوی د راتګ وخت

(مرقوس ۱۳:۳۲–۳۷ او لوقا ۱۷:۲۶–۳۰، ۱۷:۳۴–۳۶)

۳۶ خو د هغې ورځې او هغه ساعت نه هېڅوک خبر نه دي، نه د اسمان فرښتې او نه زوی، خو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يوازې پلار پرې خبر دی. ۳۷ لکه څنګه چې د نوح په زمانه کې شوي وو، نو همداسې به د
انسان د زوی د راتګ په وخت کې وشي. ۳۸ د سېلاب د راتللو څخه مخکې تر هغې ورځې
پورې چې نوح کشتۍ ته ننوت، نو خلکو به خوړل او څښل او ودونه به یې کول. ۳۹ دوی تر هغه
وخته نه پوهېدل چې څه به کیږي، ترڅو سېلاب راغی او هغوی ټول یې له منځه یوووړل. نو د انسان
د زوی راتګ به هم همداسې وي. ۴۰ نو په هغه وخت کې که چېرې دوه کسان په پټي کې وي، نو
یو به یې بوتلل شي او بل به پرېښودل شي. ۴۱ او د دوو ښځو څخه چې یوځای سره میچن کوي
یوه به یې بوتلل شي او بله به پرېښودل شي. ۴۲ نو بېداره اوسئ، ځکه چې تاسو نه پوهېږئ چې
ستاسو څښتن به په کومه ورځ راځي. ۴۳ خو په دې پوه شئ، که چېرې د کور خاوند په دې
پوهېدلی چې غل د شپې په کوم وخت کې راځي، نو هغه به ویښ پاتې شوی وای او غل به یې نه
پرېښود چې کور ته یې ورننوځي. ۴۴ نو تاسو هم باید تیار اوسئ، ځکه چې د انسان زوی به په
هغه وخت کې راشي چې ستاسو په خیال کې به هم نه وي.

## وفادار او بې‌وفا نوکر

(لوقا ۱۲:۴۱–۴۸)

۴۵ هغه وفادار او هوښیار نوکر څوک دی چې بادار یې هغه د خپلې کورنۍ د نورو نوکرانو مشر
ټاکلی وي، ترڅو هغوی ته په خپل وخت ډوډۍ ورکړي. ۴۶ بختور دی هغه نوکر چې بادار یې
راشي او هغه په خپل کار کې بوخت ووینې. ۴۷ په یقین سره زه تاسو ته دا وایم چې بادار به د
خپل ټول مال او جایداد واک هغه ته وسپاري. ۴۸ خو که هغه نوکر خراب سړی وي، نو د خپل
ځان سره به ووایې چې د بادار راتګ به مې ډېر وخت ونیسي. ۴۹ او هغه به د نورو نوکرانو په
وهلو ټکولو پیل وکړي او د شرابیانو سره به خوري او څښي، ۵۰ نو د هغه نوکر بادار به په هغه
ورځ راشي چې نوکر به یې انتظار هم نه لري او په داسې وخت کې به راشي چې هغه به خبر هم نه
وي. ۵۱ نو بادار به هغه ته سخته سزا ورکړي او هغه به د منافقانو سره یوځای واچوي چې هلته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به خلک ژاړي او خپل غاښونه به چیچي.»

## د لسو پېغلو مثال

**۲۵** (۱) عیسی زیاته کړه: «په هغه وخت کې به اسماني پاچاهي د هغو لسو پېغلو په شان وي
چې خپل څراغونه يې واخيستل او د زوم ليدلو ته لاړلې. (۲) په هغوی کې پنځه يې کمعقلې وې
او پنځه يې هوښيارې وې. (۳) کمعقلو انجونو خپل څراغونه د ځان سره واخيستل، خو تېل يې
ورسره وانخيستل. (۴) خو هوښيارو انجونو د خپلو څراغونو سره د تېلو نه ډک بوتلونه هم د ځان
سره واخيستل. (۵) کله چې زوم د راتللو په وخت کې ځنډ شو، نو هغوی ټولو ته خوب ورغی او
ويدې شوې.

(۶) خو په نيمه شپه کې چيغې شوې: ‹ګورئ زوم راروان دی. راځئ چې مخې ته يې ورشو.›
(۷) نو ټولې انجونې راپاڅېدلې او خپل څراغونه يې تيار کړل. (۸) کمعقلو انجونو هوښيارو
انجونو ته وويل: ‹د خپلو تېلو څخه مونږ ته لږ راکړئ، ځکه چې زمونږ څراغونه مړه کېږي.› (۹)
هوښيارو انجونو ورته ځواب ورکړ: ‹نه، زمونږ سره دومره تېل نشته چې د ټولو کار ورباندې وشي،
دا به ښه وي چې تاسو دوکان ته لاړې شئ او خپل ځان ته تېل واخلئ.› (۱۰) کله چې هغوی د
تېلو اخيستلو پسې لاړلې، نو زوم راورسېد. هغه انجونې چې تيارې وې د هغه سره د واده مېلمستيا
ته لاړلې او دروازې بندې شوې. (۱۱) وروسته بيا هغه نورې پنځه انجونې راغلې او چيغې يې کړې:
‹ای ښاغليه! ای ښاغليه! مونږ ته دروازه خلاصه کړه.› (۱۲) زوم وويل: ‹په يقين سره زه تاسو ته
وايم چې تاسو نه پېژنم.› (۱۳) نو بېداره اوسئ، ځکه چې تاسو نه پوهېږئ چې د انسان زوی به په
کومه ورځ او په کوم ساعت راځي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د درې نوکرانو مثال

(لوقا ۱۱:۱۹–۲۷)

۱۴ اسماني پاچاهي د هغه سړي په مثال ده چې غوښتل يې په سفر لاړ شي، نو خپل نوکران يې
راوغوښتل او خپل مال او جايداد يې ورته وسپارله. ۱۵ هر يو ته يې د هغوی د توان سره سم يو
څه ورکړل. يو ته يې د سرو زرو پنځه کڅوړې ورکړې، بل ته يې دوه د سرو زرو کڅوړې او دريم
ته يې د سرو زرو يوه کڅوړه ورکړه. بيا په سفر روان شو. ۱۶ هغه نوکر چې د سرو زرو پنځه
کڅوړې يې ورته ورکړې وې، سمدلاسه لاړ او کار يې ورباندې پيل کړ او په هغو باندې يې نورې د
سرو زرو پنځه کڅوړې وګټلې. ۱۷ همدارنګه هغه نوکر چې د سرو زرو دوه کڅوړې يې درلودلې
هغه ورباندې نورې د سرو زرو دوه کڅوړې وګټلې. ۱۸ خو کوم نوکر ته چې د سرو زرو يوه
کڅوړه ورکړل شوې وه، هغه لاړ او ځمکه يې وکيندله او د خپل بادار پيسې يې په کې ښخې کړلې.

۱۹ ډېر وخت وروسته د هغو نوکرانو بادار راغی او د هغوی څخه يې حساب وغوښت. ۲۰ کوم
نوکر ته چې د سرو زرو پنځه کڅوړې ورکړل شوې وې راغی او نورې د سرو زرو پنځه کڅوړې
يې د ځان سره راوړلې او ويې ويل: ‹باداره، تا ماته د سرو زرو پنځه کڅوړې راکړې وې. اوس
ګورئ، ما ورباندې پنځه نورې کڅوړې وګټلې.› ۲۱ بادار يې ورته وويل: ‹شاباس، زما نېک او
وفادار نوکره! تا په لږ شي کې خپل اعتبار ثابت کړ. نو زه به تاته نور ډېر کارونه دروسپارم. راشه او
د خپل بادار په خوشحالۍ کې شريک شه.› ۲۲ بيا هغه نوکر چې دوه کڅوړې سره زر ورته
ورکړل شوي وو، راغی او ويې ويل: ‹باداره! تا ماته دوه کڅوړې راکړې وې. اوس ګورئ! ما
ورباندې دوه نورې هم وګټلې.› ۲۳ بادار يې ورته وويل: ‹شاباس، ای نېک او وفاداره نوکره! تا په
لږ شي کې خپل اعتبار ثابت کړ، نو زه به تاته نور ډېر کارونه دروسپارم. راشه او د خپل بادار په
خوشحالۍ کې شريک شه.› ۲۴ بيا هغه نوکر چې يوه کڅوړه ورته ورکړل شوې وه راغی او ويې
ويل: ‹باداره! زه پوهېدم چې ته يو سخت سړی يې، ته هغه فصل رېبې چې کرلی دې نه دی او د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ځای حاصل راټولوې چې تخم دې په کې نه دی شیندلی. ۲۵ نو زه ووېرېدم او لاړم او ستا
سره زر مې په ځمکه کې ښخ کړل. هغه دا دي، ببرته يې واخله.› ۲۶ خو بادار يې ورته په ځواب
کې وويل: ‹ای بېکاره او لټ نوکره! کله چې تاته معلومه وه چې زه هغه فصل رېبم چې کرلی مې نه
دی او له هغه ځای څخه حاصل راټولوم چې تخم مې په کې نه دی شیندلی، ۲۷ نو تا باید زما
پیسې صرافانو ته ورکړې وای او کله چې زه ببرته راغلی وم، نو هغه به مې ببرته د سود سره
اخیستې وای. ۲۸ د هغه څخه هغه د سرو زرو کڅوړه واخلئ او هغه چاته يې ورکړئ چې لس
کڅوړې ورسره دي. ۲۹ ځکه د چا سره چې څه وي هغه ته به نور هم ورکړل شي، ترڅو د هغه
سره نورې هم زیاتې شي. خو د چا سره چې څه نه وي، نو څه چې ورسره وي هغه به هم ترې
واخیستل شي. ۳۰ دا بېکاره نوکر دباندې تیارې ته وغورځوئ یعنې هغه ځای ته چې هلته به
خلک ژاړي او خپل غاښونه به چیچي.›

## د قیامت په ورځ د خلکو د عملونو قضاوت

۳۱ کله چې د انسان زوی د خپل جلال سره د ټولو فرښتو سره راشي، نو بیا به هغه په خپل
شاهانه تخت باندې کښېني ۳۲ او د ټولو قومونو خلک به د هغه په حضور کې راټول شي او هغه
به هغوی داسې یو له بل نه بېل کړي لکه څنګه چې شپانه پسونه له وزو نه بېلوي. ۳۳ نو په دې
ډول به هغه پسونه یعنې نېک خلک خپل ښي لاس ته او وزې یعنې بد خلک خپل چپ لاس ته
ځای په ځای کړي. ۳۴ بیا به پاچا هغو خلکو ته چې د هغه ښي لاس ته دي ووايي چې ای هغو
خلکو چې زما د پلار له خوا درته برکت درکړل شوی دی، راشئ او د هغې پاچاهۍ وارثان شئ چې
د نړۍ د پیدایښت راهیسې ستاسو دپاره تیاره شوې وه. ۳۵ ځکه کله چې زه وږی وم نو تاسو
راته خواړه راکړل، کله چې تږی وم نو اوبه مو راته راکړې، کله چې مسافر وم نو تاسو خپل کور ته
بوتلم، ۳۶ کله چې زه لوڅ وم نو کالي مو راته راکړل او کله چې ناروغه وم نو تاسو راباندې پام

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کاوه او کله چې زه بندي وم نو تاسو زما لیدلو ته راغلي وئ. ۳۷ بیا به نېکان خلک ورته په
ځواب کې ووايي: ‹څښتنه! ته مونږ کله وږی لیدلی یې او موړ کړی مو یې او یا تږی وې او مونږ
درته اوبه درکړې وي؟ ۳۸ کله مونږ لیدلې چې ته مسافر وې او کور ته مو بېولی یې او یا لوڅ وې
او مونږ درته کالي درکړي وي؟ ۳۹ یا مونږ کله ته ناروغه یا بندي لیدلی یې او لیدلو ته دې راغلي
یو؟› ۴۰ پاچا به ورته ځواب ورکړي: ‹په یقین سره زه تاسو ته دا وایم چې تاسو زما د دې
پیروانو څخه چې تر ټولو کوچنی مقام لري، د کوم یو سره هم څه کړي دي، هغه مو زما سره کړي
دي.›

۴۱ بیا به هغو خلکو ته چې د هغه چپ لاس ته دي ووايي: ‹ای لعنتیانو! زما څخه لېرې شئ او
هغه تلپاتې اور ته لاړ شئ چې د شیطان او د هغه د پیروانو دپاره تیار شوی دی. ۴۲ ځکه کله
چې زه وږی وم تاسو راته خواړه رانه کړل، کله چې تږی وم نو اوبه مو راته رانه کړې، ۴۳ کله
چې مسافر وم نو تاسو خپل کور ته راونه بللم، کله چې لوڅ وم نو تاسو راته کالي رانه کړل او کله
چې زه ناروغه او بندي وم نو تاسو مې لیدلو ته رانغلئ.› ۴۴ هغوی به هم په ځواب کې ووايي:
‹څښتنه! ته مونږ کله وږی، تږی، مسافر، لوڅ، ناروغه یا بندي لیدلی یې او مرسته مو درسره نه ده
کړې؟› ۴۵ بیا به هغه ځواب ورکړي: ‹په یقین سره زه تاسو ته دا وایم کله چې تاسو زما د پیروانو
سره که څه هم هغوی تر ټولو ډېر کوچنی مقام لري، د یوه سره هم مرسته نه ده کړې، نو تاسو زما
سره مرسته نه ده کړې.› ۴۶ او هغوی به هغه ځای ته لېرې وشړل شي چې هلته به هغوی ته د تل
دپاره سزا ورکول کیږي، خو نېکان خلک به تلپاتې ژوندون ومومي.»

### د عیسی په ضد دسیسه

(مرقوس ۱۴:۱-۲ او لوقا ۲۲:۱-۲ او یوحنا ۱۱:۴۵-۵۳)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۲۶

(۱) کله چې عيسى خپلې خبرې خلاصې کړې، نو خپلو شاګردانو ته يې وويل: (۲) «لکه
څنګه چې تاسو خبر يئ چې دوه ورځې وروسته به د فسحې اختر وي او د انسان زوى به دښمنانو
ته په لاس ورکړل شي چې په صليب باندې وځړول شي.» (۳) په همدې وخت کې مشران کاهنان
او د قوم مشران د لوى کاهن قيافا په کور کې سره راټول شول (۴) او هغوى يوه دسيسه جوړه کړه
چې عيسى په يو چل راونيسي او ويې وژني. (۵) خو هغوى وويل: «دا کار بايد د اختر په ورځو
کې ونه شي، هسې نه چې د خلکو په منځ کې شور او غوغا جوړه شي.»

## د عيسى په سر باندې عطر اچول

(مرقوس ۳:۱۴–۹ او يوحنا ۱:۱۲–۸)

(۶) کله چې عيسى په بيت‌عنيا کې د شمعون کور ته لاړ چې مخکې د جذام په ناروغۍ اخته ؤ،
(۷) يوه ښځه چې د قيمتي عطرو څخه ډک د مرمرو بوتل ورسره ؤ راغله او په داسې حال کې
چې عيسى ډوډۍ ته ناست ؤ هغه عطر يې د هغه په سر باندې واچول. (۸) کله چې شاګردانو دا
وليدل، نو خفه شول او ويې ويل: «دا عطر ولې بېځايه مصرف شول؟ (۹) کېداى شول چې هغه په
لوړه بيه خرڅ شوي واى او پيسې يې غريبانو ته ورکړل شوې واى.» (۱۰) عيسى پوه شو چې
هغوى څه وويل او هغوى ته يې وويل: «تاسو ولې هغه ښځه تنګوئ؟ هغې زما سره ښه کار کړى
دى. (۱۱) غريبان به تل ستاسو سره وي، خو زه به تل تاسو سره نه يم. (۱۲) هغې چې دا عطر زما
په بدن باندې واچول، نو زه يې ښخولو ته تيار کړم. (۱۳) په يقين سره زه تاسو ته دا وايم چې د
نړۍ په هرځاى کې چې دا زيرى ورکول کيږي، نو دې ښځې چې څه کړي دي خلک به هغه
يادوي.»

## يهودا اسخريوتي د عيسى سره خيانت کوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(مرقوس ۱۴:۱۰-۱۱ او لوقا ۲۲:۳-۶)

۱۴ بيا يهودا اسخريوتي چې د هغو دولسو شاګردانو څخه ؤ مشرانو کاهنانو ته ورغی ۱۵ او
پوښتنه يې وکړه: «که زه عيسی تاسو ته دروسپارم نو ماته به څه راکړئ؟» نو هغوی ورته د سپينو
زرو دېرش سکې ورکړې. ۱۶ د هماغه وخت نه هغه په دې لټه کې ؤ چې يوه موقعه پيدا کړي او
عيسی هغوی ته په لاس ورکړي.

## عيسی د خپلو شاګردانو سره د فسحې د اختر ډوډۍ خوري

(مرقوس ۱۴:۱۲-۲۱ او لوقا ۲۲:۷-۱۳، ۲۲:۲۱-۲۳ او يوحنا ۱۳:۲۱-۳۰)

۱۷ د فطيرې ډوډۍ د اختر په لومړۍ ورځ شاګردان عيسی ته راغلل او پوښتنه يې ترې وکړه: «په
کوم ځای کې غواړې چې د فسحې ډوډۍ درته تياره کړو؟» ۱۸ هغه ووېل: «په ښار کې فلاني
سړي ته ورشئ او ورته ووايئ: استاذ وايي چې زما ټاکل شوی وخت رانژدې شوی دی، زه به د
فسحې اختر د خپلو شاګردانو سره ستا په کور کې ولمانځم.» ۱۹ نو څنګه چې عيسی ورته ويلي
وو شاګردانو هماغسې وکړل او د فسحې ډوډۍ يې تياره کړه.

۲۰ کله چې ماښام شو، نو عيسی د خپلو دولسو شاګردانو سره دسترخوان ته کښېناست. ۲۱ د
ډوډۍ په وخت کې عيسی ووېل: «په يقين سره زه تاسو ته دا وايم چې په تاسو کې به يو کس زما
سره خيانت وکړي.» ۲۲ شاګردان ډېر غمجن شول او هر يو د عيسی نه پوښتنه کوله: «استاذه! ايا
هغه زه يم؟» ۲۳ عيسی ځواب ورکړ: «چا چې زما سره په دې کاسه کې لاس ښکته کړ هغه به
زما سره خيانت کوي. ۲۴ لکه څنګه چې د هغه په هکله د خدای په کلام کې ليکل شوي دي، د
انسان زوی بايد مړ شي خو افسوس د هغه چا په حال چې د انسان د زوی سره خيانت کوي. د هغه
سړي دپاره به دا ښه وای چې هېڅ پيدا شوی نه وای.» ۲۵ بيا يهودا خاين ووېل: «استاذه! ايا هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه یم؟» عیسی په ځواب کې وویل: «تا په خپله وویل.»

## د ښبنتن غوره مابنامی

(مرقوس ۱۴:۲۲–۲۶ او لوقا ۱۴:۲۲–۲۰ او لومړی قرنتیان ۱۱:۲۳–۲۵)

۲۶ د ډوډۍ خوړلو په وخت کې عیسی یوه ډوډۍ راواخیستله، شکر یې پرې وویست او هغه یې
ماته کړه او شاګردانو ته یې ورکړه او ویې ویل: «دا واخلئ او ویې خورئ، دا زما بدن دی.» ۲۷
بیا هغه پیاله راواخیستله، د خدای شکر یې وویست او شاګردانو ته یې ورکړه او ویې ویل: «تاسو
ټول دا وڅښئ. ۲۸ دا زما وینه ده چې د ډېرو خلکو د ګناهونو د بخښنې دپاره توییږي. دا د
انسان سره د خدای د لوظ نښه ده. ۲۹ زه تاسو ته وایم چې زه به بیا تر هغې ورځې پورې دا د
انګورو شربت ونه څښم ترڅو د خپل پلار په پاچاهۍ کې یې ستاسو سره بیا ونه څښم.»

۳۰ بیا د یوې روحاني سندرې د ویلو څخه وروسته د زیتون غره ته لاړل.

## د پطروس د انکار په هکله د عیسی پېشګویي

(مرقوس ۱۴:۲۷–۳۱ او لوقا ۲۲:۳۱–۳۴ او یوحنا ۱۳:۳۶–۳۸)

۳۱ بیا عیسی خپلو شاګردانو ته وویل: «همدا نن شپه به تاسو ټول ما پرېږدئ، ځکه چې د خدای
په کلام کې لیکل شوي دي:

زه به شپون ووهم او د رمې پسونه به خواره واره شي.

۳۲ خو کله چې بیا راژوندی شم، نو ستاسو نه مخکې به جلیل ته لاړ شم.» ۳۳ پطروس په
ځواب کې وویل: «که ټول تا پرېږدي، خو زه به دې هېڅکله پرې نږدم.» ۳۴ عیسی ورته وویل:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«په يقين سره زه تاته دا وايم چې همدا نن شپه به د چرګ د اذان نه مخکې درې ځلې ووايې چې ما
نه پېژنې.» ۳۵ پطروس ورته ووېل: «که زه تا سره مړ هم شم، خو هېڅکله به ونه وايم چې تا نه
پېژنم.» او نورو ټولو شاګردانو هم همداسې ووېل.

## عيسی په جتسيماني کې دعا کوي

(مرقوس ۱۴:۳۲–۴۲ او لوقا ۲۲:۳۹–۴۶)

۳۶ بيا عيسی د خپلو شاګردانو سره د جتسيماني په نوم يو ځای ته ورسېده او شاګردانو ته يې
ووېل: «ترڅو پورې چې زه هلته ځم او دعا کوم، تاسو دلته کښېنئ.» ۳۷ هغه د پطروس او د
زبدي دوه زامن د ځان سره بوتلل. هغه ډېر غمجن شو او زړه يې خفه شو ۳۸ او هغوی ته يې
ووېل: «زما زړه له غمه چوي او مرګ ته نژدې يم. تاسو دلته پاتې شئ او زما سره بېداره اوسئ.»

۳۹ هغه لږ لېرې لاړ، په ځمکه باندې پړمخې پرېوت او دا دعا يې وکړه: «زما پلاره، که چېرې
کېدای شي، نو دا د مصيبت پياله زما څخه لېرې کړه! خو زما رضا نه بلکې ستا رضا دې پوره شي.»
۴۰ بيا هغه بېرته شاګردانو ته راغی او ويې ليدل چې هغوی ويده دي، نو پطروس ته يې ووېل:
«ايا زما سره يو ساعت هم وينښ نه شوئ پاتې کېدلی؟ ۴۱ بېداره اوسئ او دعا وکړئ چې
وسوسه نه شئ. روح غواړي خو بدن کمزوری دی.»

۴۲ عيسی يوځل بيا لاړ او دعا يې وکړه: «زما پلاره، که چېرې بله لاره نه وي بې له دې چې دا
پياله وڅښم، نو ستا رضا دې پوره شي.» ۴۳ عيسی بيا راغی او ويې ليدل چې هغوی ويده وو او
سترګې يې له خوبه ډکې وې.

۴۴ بيا عيسی هغوی پرېښودل او لاړ او د درېم ځل دپاره يې هماغه شان دعا وکړه. ۴۵ بيا هغه
بېرته شاګردانو ته راغی او ورته ويې ويل: «تاسو لا ويده يئ او ارام کوئ؟ ګورئ، هغه ساعت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رارسېدلی چې د انسان زوی به ګناهکارانو ته په لاس ورکول کېږي. ۴۶ پاڅېږئ، راځئ چې ځو،
هغه څوک چې غواړي زما سره خيانت وکړي، رارسېدلی دی.»

## د عيسی سره خيانت او د هغه نيول

(مرقوس ۱۴:۴۳–۵۰ او لوقا ۲۲:۴۷–۵۳ او يوحنا ۱۸:۳–۱۲)

۴۷ عيسی لا خبرې کولې چې يهودا چې د هغو دولسو شاګردانو څخه ؤ د ګڼ شمېر خلکو سره
چې تورې او کوتکونه ورسره وو او د مشرانو کاهنانو او قومي مشرانو له خوا رالېږل شوي وو،
راورسېد. ۴۸ هغه خاين هغوی ته يوه نښه ورکړې وه او ورته ويلي يې وو: «څوک چې زه ښکل
کړم نو دا هماغه سړی دی، هغه راونيسئ.» ۴۹ يهودا سمدلاسه عيسی ته ورغی او ورته ويې ويل:
«سلام ای استاذه!» او هغه يې ښکل کړ. ۵۰ عيسی هغه ته وويل: «ای ملګريه! خپل کار دې زر
وکړه.» بيا هغوی رامخکې شول، عيسی ته يې لاس ورواچاوه او هغه يې ونيوه. ۵۱ په دې وخت
کې د عيسی په ملګرو کې يو کس خپله توره راوويستله او د لوی کاهن په نوکر يې ګوزار وکړ او د
هغه غوږ يې پرې کړ. ۵۲ عيسی هغه ته وويل: «خپله توره دې بېرته په خپل ځای کې کېږده،
ځکه څوک چې د تورې څخه کار اخلي، نو په توره وژل کېږي. ۵۳ ايا ته نه پوهېږې چې زه
کولای شم د خپل پلار څخه مرسته وغواړم او هغه به سمدلاسه د فرښتو دولس لښکرې رالولېږي؟
۵۴ خو بيا به د خدای په کلام کې چې څه ليکل شوي دي هغه څنګه رښتيا کېږي چې وايي دا
کار به خامخا کېږي؟»

۵۵ په هماغه وخت کې عيسی خلکو ته وويل: «ايا زه کوم داړه مار يم چې د تورو او کوتکونو
سره زما د نيولو دپاره راغلي يئ؟ زه به هره ورځ د خدای په کور کې کښېناستم او تعليم به مې
ورکاوه خو تاسو ونه نيولم؟ ۵۶ خو دا هرڅه ځکه وشول، ترڅو هغه څه چې پيغمبرانو ليکلي دي
پوره شي.» بيا ټولو شاګردانو هغه پرېښود او وتښتېدل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسی د یهودیانو د شورا په مخکې

(مرقوس ۱۴:۵۳-۶۵ او لوقا ۲۲:۵۴-۵۵، ۲۲:۶۳-۷۱ او یوحنا ۱۸:۱۳-۱۴، ۱۸:۱۹-۲۴)

۵۷ بیا هغو خلکو چې عیسی یې نیولی ؤ، هغه یې د لوی کاهن قیافا کور ته چې د شریعت عالمان
او د قوم مشران هلته راټول شوي وو، بوتو. ۵۸ خو پطروس په یوې لېرې فاصله کې په عیسی
پسې روان ؤ ترڅو د لوی کاهن د کور حویلۍ ته ورسېده او دننه ورغی او د ساتونکو سره
کښېناست ترڅو ووینې چې اخر به څه کیږي. ۵۹ مشرانو کاهنانو او ټولې شورا هڅه کوله چې د
عیسی په خلاف د دروغو کوم شاهد پیدا کړي، ترڅو هغه ووژل شي. ۶۰ سره له دې چې ډېر
کسان راوړاندې شول او د دروغو شاهدي یې ورکړه خو هغوی ونه شو کولای چې کوم ثبوت پیدا
کړي. په پای کې دوه تنه راوړاندې شول ۶۱ او ویې ویل: «دې سړي ویلي دي چې زه کولای شم
د خدای کور وران کړم او په درې ورځو کې یې بېرته اباد کړم.»

۶۲ لوی کاهن راپاڅېد او عیسی ته یې وویل: «ایا ته دې ټولو تورونو ته چې هغوی یې درباندې
لګوي، ځواب نه ورکوې؟» ۶۳ خو عیسی غلی پاتې شو. بیا لوی کاهن وویل: «زه د ژوندي
خدای په نوم تاته قسم درکوم، مونږ ته ووایه چې ته مسیح یې؟ ته د خدای زوی یې؟» ۶۴ عیسی
ځواب ورکړ: «ته په خپله وایې. خو زه تاسو ټولو ته وایم چې د نن نه وروسته به تاسو ووینئ چې
د انسان زوی به د مطلق قادر خدای ښي لاس ته ناست وي او د اسمان په ورېځو کې به راروان
وي.» ۶۵ په دې خبره لوی کاهن خپل ګرېوان وشلاوه او ویې ویل: «هغه کفر وایې. مونږ نورو
شاهدانو ته څه اړتیا لرو؟ تاسو همدااوس دا کفر واورېد. ۶۶ ستاسو پرېکړه څه ده؟» هغوی
ځواب ورکړ: «هغه د مرګ لایق دی.» ۶۷ بیا هغوی د هغه په مخ لاړې ورتو کړې او هغه یې په
سوکانو وواهه او ځینو په څپېړو واهه ۶۸ او ویل یې: «ای مسیح! که ته پیغمبر یې، نو ووایه چې
چا ووهلې.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## پطروس د عيسی څخه انکار کوي

(مرقوس ۱۴:۶۶-۷۲ او لوقا ۲۲:۵۶-۶۲ او یوحنا ۱۸:۱۵-۱۸، ۱۸:۲۵-۲۷)

۶۹ په دې وخت کې پطروس دباندې په حوېلۍ کې ناست ؤ چې یوه وینځه ورغله او ورته ويې
ویل: «ته هم د جلیلي عیسی سره وې.» ۷۰ پطروس د ټولو په مخکې منکر شو او ويې ویل: «زه
نه پوهېږم چې ته څه وایې.»

۷۱ بیا کله چې پطروس د حوېلۍ د دروازې خواته لاړ، نو هلته یوې بلې وینځې ولیده او هلته
چې کوم خلک وو ورته ويې ویل: «دا سړی د عیسی ناصري سره ؤ.» ۷۲ هغه یوځل بیا منکر
شو او ويې ویل: «زه قسم خورم چې هغه سړی نه پېژنم.»

۷۳ لږه شیبه وروسته په هغه ځای کې ولاړ خلک پطروس ته راغلل او ورته ويې ویل: «بې له
شکه چې ته هم د هغو خلکو څخه يې، ځکه چې ستا د لهجې څخه معلومېږي.» ۷۴ بیا پطروس
وویل: «زه قسم خورم چې رښتیا وایم. که زه دروغ وایم، نو په ما دې د خدای لعنت وي. زه هغه
سړی نه پېژنم.» او سمدلاسه چرګ اذان وکړ. ۷۵ بیا پطروس ته د عیسی خبره وریاد شوه چې
ویلي يې وو: «مخکې له دې چې چرګ اذان وکړي ته به درې ځلې ووایې چې ما نه پېژنې.» بیا
هغه دباندې لاړ او په چیغو چیغو يې وژړل.

## عیسی پیلاتوس ته وړل کیږي

(مرقوس ۱۵:۱ او لوقا ۲۳:۱-۲ او یوحنا ۱۸:۲۸-۳۲)

۲۷ ۱ کله چې سهار شو، نو ټولو مشرانو کاهنانو او د قوم مشرانو په خپل منځ کې مشوره
وکړه چې عیسی څنګه ووژني. ۲ بیا يې هغه وتاړه او روان يې کړ او د روم والي پیلاتوس ته يې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وسپاره.

## د يهودا ځان وژنه

(د رسولانو عملونه ۱:۱۸-۱۹)

۳ کله چې يهودا خاين پوه شو چې په عيسی باندې د مرګ حکم وشو، نو د خپل کار څخه
پښېمانه شو او هغه د سپينو زرو دېرش سکې يې بېرته مشرانو کاهنانو او د قوم مشرانو ته راوړلې
۴ او ويې ويل: «ما ګناه کړې ده چې د يو بې‌ګناه سړي سره مې خيانت وکړ او د هغه د مرګ
سبب شوم.» خو هغوی وويل: «په موږ يې څه؟ دا ستاسو کار دی.» ۵ يهودا هغه سکې د خدای
په کور کې په ځمکه وغورځولې او دباندې ووت او خپل ځان يې په دار وځړاوه. ۶ خو مشرانو
کاهنانو هغه پيسې راواخيستې او ويې ويل: «د خدای د کور په خزانه کې د دې پيسو اچول روا نه
دي، ځکه چې دا د انسان د ژوند بيه ده.» ۷ نو هغوی په خپلو کې مشوره وکړه او په هغو پيسو
يې د کلال ځمکه واخيستله چې د غيريهوديانو دپاره په کې هديره جوړه کړي. ۸ نو له دې امله
هغه ځمکه تر نن ورځې پورې «د وينو د پټي» په نوم يادېږي.

۹ په دې ډول د ارميا نبي هغه پېشګويي رښتيا شوه چې وايي: «هغوی د سپينو زرو دېرش سکې
يعنې د هغه د سر بيه چې د اسراييلو د قوم له خوا ټاکل شوې وه، واخيستلې ۱۰ او په هغو پيسو
باندې يې د کلال ځمکه واخيستله، لکه څنګه چې څښتن ماته ويلي وو.»

## پيلاتوس د عيسی څخه پوښتنې کوي

(مرقوس ۱۵:۲-۵ او لوقا ۲۳:۳-۵ او يوحنا ۱۸:۳۳-۳۸)

۱۱ بيا يې عيسی پيلاتوس والي ته راوست او والي ترې پوښتنه وکړه: «ايا ته د يهوديانو پاچا
يې؟» عيسی وويل: «ته په خپله وايې.» ۱۲ خو کله چې د مشرانو کاهنانو او قومي مشرانو له خوا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په هغه تور ولګول شو، نو هغه په ځواب کې هېڅ ونه ويل. ۱۳ بيا پيلاتوس هغه ته وويل: «هغوی
چې ستا په خلاف کومه شاهدي ورکوي ته يې نه اورې؟» ۱۴ خو عيسی يوه خبره هم ونه کړه او
والي ډېر حيران شو.

## عيسی ته د مرګ سزا ورکول کيږي

(مرقوس ۱۵:۶-۱۵ او لوقا ۲۳:۱۳-۲۵ او يوحنا ۱۸:۳۹ - ۱۹:۱۶)

۱۵ د اختر په ورځو کې دا رواج ؤ چې والي به يو بندي د خلکو په خوښه د زندان ځخه ازاداوه.
۱۶ په هغه وخت کې د باراباس په نامه يو بدنام سړی بندي ؤ. ۱۷ کله چې خلک سره راټول
شول، نو پيلاتوس د هغوی نه پوښتنه وکړه: «تاسو څوک غواړئ چې درته يې ازاد کړم، باراباس يا
عيسی چې مسيح ورته وايي؟» ۱۸ ځکه چې هغه په دې پوهېده چې هغوی د بخيلۍ له مخې
عيسی هغه ته په لاس ورکړی دی.

۱۹ کله چې هغه د قضاوت په چوکۍ ناست ؤ، نو ښځې يې ورته دا پيغام راولېږه: «د هغه بې‌ګناه
سړي سره کار مه لره، ځکه پرون شپه چې ما د هغه په هکله کوم خوب وليده، نو د هغه له امله ټوله
ورځ پرېشانه وم.» ۲۰ خو مشرانو کاهنانو او قومي مشرانو خلک دې ته هڅول چې د پيلاتوس
څخه وغواړي چې باراباس ورته ازاد کړي او عيسی اعدام کړي. ۲۱ والي يوځل بيا هغوی ته
وويل: «په دې دواړو کې تاسو څوک غواړئ چې درته يې ازاد کړم؟» هغوی وويل: «باراباس.»
۲۲ پيلاتوس د هغوی څخه پوښتنه وکړه: «نو بيا د عيسی سره چې د مسيح په نوم يادېږي څه
وکړم؟» هغوی ټولو وويل: «هغه په صليب باندې ځوړند کړه.» ۲۳ خو پيلاتوس وويل: «ولې؟
هغه څه جرم کړی دی؟» هغوی چيغې نورې هم زياتې کړې: «هغه په صليب باندې ځوړند کړه.»

۲۴ خو کله چې پيلاتوس پوه شو چې هغه هېڅ نه شي کولای او کېدای شي چې شور او غوغا
جوړه شي، نو اوبه يې راواخيستې او د خلکو په مخکې يې خپل لاسونه ووينځل او ويې ويل: «زه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د دې سړي د مرګ مسوول نه یم، دا ستاسو کار دی.» ۲۵ ټولو خلکو ځواب ورکړ: «د دې سړي
خون دې زمونږ او زمونږ د اولادونو په غاړه وي.» ۲۶ نو پیلاتوس باراباس د هغوی دپاره ازاد کړ
او بیا یې حکم وکړ چې عیسی دې په دورو باندې ووهل شي او په صلیب باندې دې ځوړند کړای
شي.

## عسکر په عیسی باندې ملنډې وهي

(مرقوس ۱۵:۱۶–۲۰ او یوحنا ۱۹:۲، ۳)

۲۷ بیا د پیلاتوس عسکرو عیسی د والي د ماڼۍ حویلۍ ته بوتلو او ټول کنډک یې ترې راچاپېر
کړ. ۲۸ کالي یې ترې وویستل او سور رنګې چپنه یې ورته ورواغوستله. ۲۹ بیا یې د اغزیو
څخه یو تاج جوړ کړ او په سر یې ورته کېښود او په ښي لاس کې یې ورته یو لرګی ورکړ. بیا د
هغه په مخکې په ګونډو شول، ملنډې یې ورباندې وهلې او ویل یې: «ژوندی دې وي د یهودیانو
پاچا.» ۳۰ په هغه یې لاړې ورتو کړې او لرګی یې ترې واخیست او په سر یې پرې وواهه. ۳۱
کله چې هغوی ملنډې وهل بس کړل، نو چپنه یې ترې وویستله او خپل کالي یې ورته بېرته
ورواغوستل. بیا یې هغه بوتو چې په صلیب یې ځوړند کړي.

## عیسی په صلیب باندې مېخ کېږي

(مرقوس ۱۵:۲۱–۳۲ او لوقا ۲۳:۲۶–۴۳ او یوحنا ۱۹:۱۷–۲۷)

۳۲ هغوی روان وو چې په لاره کې د شمعون په نوم یو سړي سره چې د قیروان څخه ؤ مخامخ
شول او عسکرو هغه مجبوره کړ چې د عیسی صلیب یوسي. ۳۳ کله چې هغوی د جلجتا په نوم
یوځای ته چې معنی یې د سر د کوپړۍ ځای دی، ورسېدل، ۳۴ هلته یې عیسی ته داسې شراب
چې ترخه شیان په کې ګډ شوي وو ورکړل. خو کله چې یې وڅکل، نو ویې نه غوښتل چې ویې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښکنځلي. ۳۵ کله چې هغه يې په صليب باندې مېخ کړ، نو د هغه په کاليو يې پچه واچوله او په خپل
منځ کې يې سره ووېشل. ۳۶ بيا هغوی کښېناستل او د هغه پهره يې کوله. ۳۷ د هغه د سر
دپاسه يې يوه تخته ځوړنده کړه چې د هغه جرم په کې ليکل شوی ؤ: «دا د يهوديانو پاچا عيسی
دی.» ۳۸ د هغه سره دوه داړه ماران هم په صليب ځړول شوي وو، چې يو يې ښي لاس ته او بل
يې چپ لاس ته. ۳۹ څوک چې له هغه ځای څخه تېرېدل، نو خپل سرونه به يې خوځول او
عيسی ته به يې ښکنځلې کولې ۴۰ او ويل به يې: «تا غوښتل چې د خدای کور وران کړې او په
درې ورځو کې يې بېرته جوړ کړې. که ته په رښتيا د خدای زوی يې، نو خپل ځان وژغوره او د
صليب څخه راښکته شه.» ۴۱ همدارنګه مشرانو کاهنانو، د شريعت عالمانو او يهودي مشرانو په
هغه باندې ملنډې وهلې او ويل يې: ۴۲ «هغه نور خلک ژغورل، خو خپل ځان نه شي ژغورلی.
که چېرې هغه د اسراييلو پاچا وي، نو د صليب څخه دې راښکته شي، نو بيا به مونږ ورباندې ايمان
راوړو. ۴۳ هغه په خدای توکل درلود او دعوه يې کوله چې د خدای زوی يم، نو که خدای غواړي
اوس دې هغه وژغوري.» ۴۴ همدارنګه هغه داړه مارانو چې د هغه سره په صليب ځړول شوي وو
هم هغه ته ښکنځلې کولې.

## د عيسی مړينه

(مرقوس ۱۵:۳۳–۴۱ او لوقا ۲۳:۴۴–۴۹ او يوحنا ۱۹:۲۸–۳۰)

۴۵ د غرمې د دولسو بجو نه د ماسپښين تر درې بجو پورې په ټول وطن کې تياره راخپره شوه.
۴۶ شاوخوا درې بجې وې چې عيسی په زوره زوره چيغه ووهله: «ايلي، ايلي، لما سبقتني؟ يعنې
ای زما خدايه، ای زما خدايه، زه دې ولې پرېښودم؟» ۴۷ ځينو خلکو چې په هغه ځای کې ولاړ
وو، دا واورېدل او ويې ويل: «هغه الياس نبي ته نارې وهي.» ۴۸ د هغوی څخه يو تن سمدلاسه
منډه کړه، اسفنج يې راواخيست او په تروو شرابو کې يې لوند کړ او د لرګي په څوکه يې کېښود او
عيسی ته يې ورکړ چې ويې څښي. ۴۹ خو نورو وويل: «صبر وکړئ، پرېږده وګورو چې الياس

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نبي د هغه د خلاصولو دپاره راځي او که نه.» ۵۰ عیسی یوځل بیا په لوړ اواز چیغه ووهله او ساه
يې ورکړه.

۵۱ هغه وخت د خدای د کور پرده د سر نه تر ښځه پورې په منځ کې دوه ټوټې شوه. زلزله شوه
او د تیږو تختې وچاودلې، ۵۲ قبرونه پرانیستل شول او هغه ډېر سپېڅلي خلک چې د مرګ په
خوب ویده وو بیا راژوندي شول ۵۳ او د خپلو قبرونو څخه راووتل او د عیسی د راژوندي کېدلو
څخه وروسته د اورشلیم سپېڅلي ښار ته لاړل او ډېرو خلکو ته ښکاره شول. ۵۴ کله چې هغه
رومي منصبدار او د هغه عسکرو چې د عیسی پهره یې کوله، زلزله او ټولې پېښې ولیدلې، نو ډېر
ووېرېدل او ویې ویل: «هغه په رښتیا د خدای زوی ؤ.»

۵۵ په هغه ځای کې ډېرو ښځو چې د جلیل څخه د عیسی د خدمت دپاره راغلي وې د لېرې نه
دا هرڅه لیدل. ۵۶ په هغوی کې مریم مجدلیه، د یعقوب او یوسف مور مریم او د زبدي د زامنو
مور وه.

## د عیسی ښخول

(مرقوس ۱۵:۴۲–۴۷ او لوقا ۲۳:۵۰–۵۶ او یوحنا ۱۹:۳۸–۴۲)

۵۷ کله چې مابنام شو، نو یو شتمن سړی چې یوسف نومېده او د رامه د ښار څخه ؤ چې هغه هم
د عیسی شاګرد شوی ؤ راغی. ۵۸ هغه پیلاتوس ته ورغی او د هغه څخه یې د عیسی مړی
وغوښت. نو پیلاتوس امر وکړ چې هغه ورته ورکړي. ۵۹ یوسف هغه مړی یووړ او په یو سپین
کفن کې یې تاو کړ ۶۰ او په هغه قبر کې یې کېښود چې یوسف د خپل ځان دپاره په یو ګټ کې
کیندلی ؤ. بیا یې یوه غټه تیږه د قبر خولې ته راوررغړوله او لاړ. ۶۱ مریم مجدلیه او هغه بله مریم
دواړه قبر ته مخامخ ناستې وې.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د عیسی د قبر ساتونکي

۶۲ په بله ورځ چې د سبت ورځ وه، مشران کاهنان او فریسیان پیلاتوس ته ورغلل ۶۳ او ویې
ویل: «ښاغلیه! مونږ ته په یاد دي هغه چلباز چې لا ژوندی ؤ ویلي یې وو چې درې ورځې
وروسته به زه بیا راژوندی شم. ۶۴ نو امر وکړئ چې تر درېو ورځو پورې دې د دې قبر ښه
ساتنه وشي، هسې نه چې شاګردان یې راشي او د هغه مړی په غلا یوسي او خلکو ته ووایي چې
هغه د مرګ څخه وروسته بیا راژوندی شوی دی او وروستنۍ غولونه به یې د لومړنۍ غولونې څخه
ډېره بده وي.» ۶۵ پیلاتوس هغوی ته وویل: «ساتونکي درسره واخلئ، لاړ شئ او څنګه چې
کولای شئ د هغه قبر ساتنه وکړئ.» ۶۶ نو هغوی لاړل او د قبر په تیږه باندې یې نښه ولګوله
چې څوک یې ونه خوځوي او ساتونکي یې ورباندې ودرول چې ساتنه یې وکړي.

## د عیسی بیا راژوندي کېدل

(مرقوس ۱:۱۶–۱۰ او لوقا ۱:۲۴–۱۲ او یوحنا ۱:۲۰–۱۰)

۲۸ ۱ د سبت ورځ تېره شوه او د یکشنبې سهار وختي ؤ چې مریم مجدلیه او هغه بله مریم د
قبر لیدلو ته لاړلې. ۲ ناڅاپه یوه سخته زلزله وشوه، ځکه چې د څښتن فرښته له اسمانه راښکته
شوه، قبر ته ورغله او هغه تیږه یې بېرته راورغړوله او ورباندې کښېناستله. ۳ د هغې مخ د
برېښنا په شان ځلېده او کالي یې د واورې په شان سپین وو. ۴ ساتونکي له وېرې ولړزېدل او
لکه د مړو په شان په ځمکه ولوېدل. ۵ خو فرښتې هغو ښځو ته وویل: «مه وېرېږئ، زه پوهېږم
چې تاسو عیسی لټوئ چې په صلیب باندې ځړول شوی ؤ. ۶ هغه دلته نشته. لکه څنګه چې
هغه خپله ویلي وو، هغه راژوندی شوی دی. راشئ او هغه ځای وګورئ چې هغه په کې پروت ؤ.
۷ نو بیا زر لاړې شئ او د هغه شاګردانو ته ووایئ چې عیسی د مړو نه راژوندی شوی دی.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګورئ، هغه ستاسو څخه مخکې جليل ته ځي او تاسو به يې هلته ووينئ. څه چې مې درته وويل
هغه ياد ساتئ.» ۸ نو هغوی په بيړه د قبر څخه رواني شوې او په وېرې او ډېرې خوشحالۍ سره
په منډه منډه لاړې چې شاګردان خبر کړي. ۹ ناڅاپه عيسی د هغوی سره مخامخ شو او ويې
ويل: «سلام دې وي په تاسو!» هغوی ورغلې او د هغه په پښو کې پرېوتلې او سجده يې ورته وکړه.
۱۰ بيا عيسی هغوی ته وويل: «مه وېرېږئ. لاړې شئ او زما ورونو ته ووايئ چې جليل ته لاړ
شي او هلته به ما ووينې.»

## د ساتونکو رشوت اخيستل

۱۱ په هغه وخت کې چې ښځې په لاره رواني وې، يو څو عسکره چې د قبر ساتنه يې کوله، ښار
ته لاړل او څه چې پېښ شوي وو هغه يې مشرانو کاهنانو ته وويل. ۱۲ کله چې مشرانو کاهنانو د
قوم د مشرانو سره ليدنه کتنه وکړه او مشوره يې وکړه او هغوی ساتونکو ته زيات رشوت ورکړ ۱۳
او ورته ويې ويل: «تاسو بايد خلکو ته داسې ووايئ، کله چې د شپې مونږ ويده وو، نو د هغه
شاګردان راغلي او د هغه مړی يې غلا کړی دی. ۱۴ که چېرې دا خبره د والي غوږ ته ورسيږي،
نو مونږ به هغه ته قناعت ورکړو چې تاسو بې‌ګناه يئ او نه پرېږدو چې د کومې ستونزې سره مخ
شئ.» ۱۵ نو ساتونکو پيسې واخيستې او څه چې ورته ويل شوي وو هماغسې يې وکړل.
يهوديان تر نن ورځې پورې يو بل ته دا کيسه کوي.

## د عيسی له خوا نورو قومونو ته د شاګردانو لېږل

(مرقوس ۱۶:۱۴–۱۸ او لوقا ۲۴:۳۶–۴۹ او يوحنا ۲۰:۱۹–۲۳ او د رسولانو عملونه ۱:۶–۸)

۱۶ بيا يوولس شاګردان د جليل هغه غره ته لاړل چې عيسی ورته ويلي وو چې لاړ شي. ۱۷
کله چې هغوی عيسی وليده، نو ورته په سجده شول. خو په هغوی کې ځينې ورباندې شکمن وو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ بيا عيسی هغوی ته نژدې ورغی او ورته ويې ويل: «د ځمکې او اسمان ټول واک او اختيار
ماته راکړل شوی دی. ۱۹ لاړ شئ او ټول قومونه زما پيروان کړئ او هغوی ته د پلار او زوی او
روح القدس په نوم د تعميد غسل ورکړئ. ۲۰ هغوی ته دا تعليم ورکړئ چې په هغو ټولو حکمونو
باندې عمل وکړي چې تاسو ته مې درکړي دي. او په دې باور ولرئ چې زه به تل او د نړۍ تر پايه
ستاسو سره مل يم.»

تاسو پوښتنې لرئ؟ 9066.700.807 1+
افغانستان ۲۰۲۳ © afghanbibles.org
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.